# لومړی فصل

## تر اسلام د مخه عربستان

### الف- جغرافیوي وضعه:

عربستان هغه ټاپو وزمه ده چې د اسیا په جنوب غرب کې موقعیت لري او د نړۍ له لویو ټاپو وزمو څخه شمېرل کېږي. دغه هېواد تقریبًا درې میلونه کیلو متره مربع مساحت لري، د غرب له لورې د احمر (سرې) بحیرې، د شرق له لورې د عمان له خلیج او عراق او د جنوب له لورې د هند له بحر او د شمال له لورې د شام له صحرا سره ګډې پولې لري یو تعداد غرونه چې د سینا له ټاپو وزمې څخه پیل کېږي او د سرې بحیرې په امتداد کې واقع دي د دغه هېواد لپاره د یو ډېرین دېوال حیثیت لري چې د دغه ټاپو وزمې له جنوب غربي څنډې څخه پیل کېږي او د هغه جنوبي او شرقي سواحل د فارس تر خلیج پورې په خپله لمن کې نیسي پدې ترتیب عربستان له دریو لوریو څخه د ډبرین دېوال پواسطه احاطه شوی، د دغو غرونو په منځ کې وړې او غټې درې پرتې دی او په ځینې ځایونو کې د غرونو په منځ کې ټیټې ځمکې موقعیت لري چې عربان هغې ته تهامه (د دوو غرونو منځ کې ځمکه) وایې.

د عربستان غرونه ټول د کم یافته سپین رنګه او سره رنګو تیږو څخه جوړ شوي. اور غورځونکي غرونه یې مړه دي خو په اغلب ګمان چې په پخوانیو زمانو کې به فعال ؤو، د عربستان په ځینو سیمو کې تور رنګه ځمکې مشاهده کېداې شي چې د هغه ځای د خلکو په اصطلاح د سعیر په نامه سره یادېږي چې د تېرو زمانو د اور غورځوونکو څخه شمېرل کېږي.

نوموړې جزیره نما له فزیکي نقطې نظره په پنځو برخو وېشل کېږي:

**۱- تهامه:-** دا هغه اراضي ده چې د سرې بحیرې د شرقي سواحلو په مخکې پرته ده هوا یې ډیره ګرمه او ساړه بادونه پکې ډېر کم چلېږي.

**۲- حجاز:-** هغه قطعه ځمکه ده چې د یمن په شمال او د تهامي په شرق کې واقع او تر فلسطین پورې امتداد لري.

**۳- نجد:-** هغه ټوټه ځمکه د ه چې د یمن او سماوي صحرا تر مېنځ موقعیت لري. د دې لپاره چې په جګه واقع ده نو ځکه یې نجد بولي.

**۴- یمن:-** له نجد څخه د هند تر بحره امتداد پیدا کوي او د شرق له لورې له حضرموت او عمان د بحیرې پواسطه احاطه شوې.

**۵- عروض:-** هغه ټوټه ځمکه ده چې د یمن او بحرین تر منځ واقع شوې ده.

مکه، یثرب او طایف د حجاز مشهور ښارونه دي، مکه تر ټولو لوی ښار دې چې په پخوانیو زمانو کې مهم تجارتي مرکز وه یثرب چې .وروسته په مدینة النبي ﷺ مسما شو د هغې اراضي د زراعت لپاره ښه زمینه برابروله.

طایف ډېرې ښې اوبه لري او مېوه جات یې شهرت لري، نجد لوړه ځمکه ده چې د هغه په دښتو او ورشوګانو کې تازه نخلستانونه (د خرما باغونه) وجود لري، شنه څړځایونه لري، اسونه او اوښان یې د ښکلا او قوت له مخې نړیوال شهرت لري، یمن د نرمې او ښې اب وهوا لرونکی دی شنې او ښکلې درې لري. کافي تېل او خرما یې مشهور پیداوار شمېرل کېږي، د دې لپاره چې دغه ځای حاصل خېز او سرسبز وه بنا پردې په تیرو زمانو کې په هغه ځای کې ډېر عالي تمدنونه منځ ته راغلي او د حمیر، کهلات او سبا دولتونه همدغلته تاسیس شوېدي، دغه خلک د مصر د فرعونیانو، بابلي شاهانو او اثور شاهانو سره هم نژاد دي اود مارب،صنعا او سبا ښارونه ډېر مشهور ښارونه وه علاوه پر دې نورو لویو دولتونو هم له عربستان څخه ظهور کړېدی چې نن ورځ یې پرته له نامه څخه نور هیڅ ندي پاتې لکه عاد، ثمود، عمالقه، جدیس او وطسم چې مـــؤرخین دوی ته بایده عربان (له منځه تللي) وایې.

د عربستـــــان په تاریخ کې سبـــا زیات شهـــرت درلـــود او د بلقیـــس او حضرت سلیمان علیه السلام ملاقات او هغه تحایف چې هغې سلیمان علیه السلام ته تقدیم کړي، دا ټول څرګندوي چې نوموړي هیواد زیات تحول لرونکي دی. مارب باید د پخوانیو عربانو یو مدني اثر وبولو، دغه بند په دوهم قبل المیلاد کې جوړ شوی وه چې اوبه یې د کړکیو پواسطه په زیاتو کانالونو تقسیمېدلې او ډېرې ځمکې یې خړوبولې باالاخره د کلونو په تېریدو سره د دغه ښار خلک د نوموړي بند له ترمیم څخه عاجز پاتې شول، چې پدې وجه بند خراب شو او د هغه ځای خلک عراق، شام او نورو ځایونو ته مهاجر شول او د سبا دولت هم د مارب د بند په ورانېدو سره سقوط وکړ.

## ب: د اسلام څخه د مخه د عربستان ټولنیزه، کلتوري او مذهبي اوضاع:

**۱- ټولنیز ژوند:-** د عربستان د ټولنې خلک په عمومي توګه په دوه دستو وېشل کېږي یوه دسته یې صحرا نشینان او بله دسته یې ښاریان دي، په مشکل سره کولای شو چې د دغو دوه ګروپونو ترمنځ فاصل خط پیدا کړو.

بدویان پرته له کوم مقصد څخه په پراخو دښتو کې سرګردانه نه ګرځي. بلکه یوائیني خلک دي چې د صحرا له ژوندانه سره یې مطابقت پیدا کړی، هر چېرته چې شنه ځمکه پیدا کړي هلته د څړ ځایونو په تلاش کی کېږي، د بدویانو او ښاریانو تر منځ شخړې د شخصي ګټو پر بناء وي، بدویانو هڅه کوله چې له خپلو همسایه ګانو څخه هغه متاع ګانې (نعمتونه) کومې چې دوی نه درلودې لاس ته راوړی که په رضا وي او که په زور، د بدویانو ژوند کم تغیر کوي د هغوی د ثقافت او فرهنګ وضع تل یو شان وي، د بدویانو په ژوند کې تغیر، ترقي او تکامل هیڅ معنی نلري له زړو عدتونو سره د اوښانو او پسونو د وړیو څخه په جوړو شویو خېمو(کږدۍ) کې ژوند کوي او روزانه غذا یې خرما او د اوړو او شیدو یو مخلوط دي، اوږد کمیس، کمربند او لونګۍ لري او د ستمال تړي، هره خېمه یوه کورنۍ، څو کورنۍ چې وینه یې شریکه وي یو قوم او څو قومونه چې سره یو ځای شي یوه قبیله منځ ته راوړي چې دوی په مجموع کې له یوه مشر څخه اطاعت کوي د مشر مقام سره لدې چې ارثي دي خو بیاهم د سن زیاتوالي د هغه په تقرر او تعین کی د ډېر اهمیت لرونکې وه. شیخ یا مشر د قبیلې اموراتو ته رسیدګي کوي خو په مهمو جنایې، نظامي او نورو مسایلو کې چې په ټولې قبیلې پورې اړه پیدا کوي. ټولو خلکو ته مراجعه کېږي.

۲- اداب:- پدغه وخت کې عربان مشرکان ؤ او شعر اوشاعري یې د خپل نوم د تبلیغ او اوچت ساتلو ښه وسیله ګڼله او داسی فکر یې کاوه چې د هغوی اثار او کارنامې په تاریخ کې د هغوی د نامه دژوندي پاتې کیدو سبب ګرځي، پدی سبب د وخت په تېرېدو سره د بدوي عربانو ذهن دومره انکشاف وکړ چې سمدستي به یې شعر وایه او په دغه شعرونو کې به یې د لویو پېښو او د خپلې قبیلې د عظمت او شرافت توصیف کاوه او ځینې وخت به یې د انتقام د اخستلو د لذت ستاینه هم کوله او کله به یې په خپلو شعرونو کې د شجاعت او سرښندنې افتخارات ستایل د دې سره سره یې عادت درلود، چې د نورو اشعار به یې په ډېر دقت سره اورېدل او د هغه په ویونکو به یې انتقاد کاوه، تر اسلام د مخه عربان به سوق عکاظي ته چې د فرهنګي مجلس شکل یې درلود ټولېدل او خپل شعرونه به یې لوستل او خپل تر ټولو ښه شعرونه به یې په قیمتي توټو په طلایې حروفو لیکل او د کعبې شریفې په دروازه به یې ځړول چې هغه د معلقات سبعه په نامه سره یادېږي او نن هم په ټوله عربي دنیا کې هغه د عربو د ادبي شاهکاریو په نامه سره یادېږي، تر اسلام د مخه (۷) اوه قصیدې تر موږ رارسېدلي دي او د معلقات سبعه په نوم یادېږي د معلقات سبعه لومړی ویونکې چې لومړۍ جایزه یې تر لاسه کړه امروه القیس ؤ چې تقـــریبًا په (۵۴۰)م کال کې یې دغه جایزه تر لاســـه کړه، د معلقـــات سبعـــه نور ویونکي عبـــارت دي له حارث، طرفه، عتره، زهیر، عمرو او لبید ؤ.

**۳- دیانت:-** بدوي عربان مشرکان وه او د بتانو عبادت به یې کاوه او د خپلې عقیدې په لمانځنه کې له اکثرو سامیانو سره په رقابت کې وه. د هغوی خدایان په دوه ډلو وېشل کېدل چې یو یې کورني او بله ډله یې قبیلوي بتان وه، کورني بتان داسې وه چې د مکې هرې کورنۍ به په کور کې بت درلود چې د هغه عبادت به یې کاوه او هر کله به چې د کورنۍ کوم غړی په سفر روانېده وروستنې کار یې داوه چې بت لمس کړي او کله به چې له سفر څخه راستون شو همدغه کار به یې دوباره کاوه او هم به د سفر په اوږدو کې پلي کېده څلور ډبرې به یې له ځمکې پورته کولې او تر ټولو ښکلې ډبرې ته به یې د الله ﷻ خطاب کاوه او درې پاتې تیږې به یې د نغرې ښپې جوړولې د مکې خلک به چې هر چېرته تلل نو یوه تیږه به یې له ځان سره اخیسته او هغه به یې د عبادت په ځای کې ایښوده او د هغې عبادت به یې کاوه او هغه قبایل چې پدغه بتانو یې عقیده درلوده هغه ته به یې عبادت خانې جوړولې دغه بتان په عمومي توګه د طبعي ډبرو په شکل استعمالېدل.

د بدوي عربانو بتان درې ډوله وه. وشن، نصب او صنم، چې صنم به یې له فلز څخه د انسان په شکل جوړاوه او وشن له تیږې څخه د انسان په شکل او نصب طبیعي تیږې وی. د دغې دورې خلک د محشر او قیامت له ورځې منکر وه او له خپلو بتانو څخه به یې په ژوند کی د خیر او مغفـــرت غـــوښتنه کوله او د هغه د رضا لپاره به یې انسانان او حیوانات قربانول.

په قران مجید کې د ځینو دغو بتانو یادونه شوې، چې مشهور یې لات، منات او عزی ؤ. او هبل چې له عقیقو څخه د انسان په شکل جوړ شوی وه له ټولو څخه لوی او زورور وه چې دغه بت د کعبې شریفی په خونه کې ایښودل شوی وه. د دې لپاره چې د عربو هرې قبیلې ځانګړې بت درلوده په همدې خاطر د قبیلو د زیاتوالي له کبله بتان زیاتېده کله چې مکه مکرمه د مسلمانانو په لاسونو فتح شوه د کعبې شریفې څخه یې (۳۶۰) درې سوه شپېته بتان راوایستل او مات یې کړل.

په شرک او بت پرستۍ برسېره یهودیت او مسیحیت هم په عربو کی رواج درلود. مسیحیت په څلورمه میلادي پېړۍ کې د عربستان په شمال او جنوب کې رواج درلوده. او یهودیت له ډېرو کلونو څخه په عربستان کې معمول وه او د هغوی زیات شمېر پیروان په مدینه کی اوسېدل چې په صنعت، زراعت او تجارت کې مشغول وه. همدا راز د عربستان په نورو سیمو لکه طایف او یمن کې هم یهودان اوسېدل.

د مکې د عربانو په منځ کې یو تعداد داسې خلک اوسېدل چې بت پرستي او شرک یې نه مانه او ارزو یې درلوده چې د دغو ټولو خرافاتو ځای توحید او یووالی ونیسې دغه طبقه د مکې روښن فکره خلک ؤ چې حنفاء بلل کېدل او دا هغه خلک ؤ، چې د ابراهیم ﷺ

پېروي یې کوله د دې مذاهبو تر څنګ یو تعداد سامي، اریایې او زردشتي مذهبونه هم د عربو په ټولنه کې رواج درلود او یو تعداد داسې خلک هم وه چې د ستورو عبادت یې کاوه.

**۴. اخلاقي وضعه:-** په دغه ټولنه کې اخلاقي کمزورتیا ډېره زیاته وه او خپل اوج ته رسېدلې وه قمار پکې زیات رواج درلوده د قمار نه ګټلو په وجه به یې خپلې ښځې هم له لاسه ورکولې د لور پیدا ایښت ورته زیات شرم ښکارېده نو له همدې وجې به یې خپلې لورګانې ژوندۍ ښخولې، شراب خوړل، مرداري خوړل، زنا کول او غلا پدغه ټولنه کې عادي خبره وه د دې سره سره دغه ټولنه بې علمه او ناپوهه وه ترقي او تمدن پکې نه وه موجود، د دوی ډېر ښه صفات د امپراطورانو مقابل کې مقاومت کول او ځان نه تسلیمول، مېلمه پالنه، رښتني دوست سره دوستي او په وعده وفا کول ؤ.

**۵. اقتصادي وضعه:-** د حجاز او مکې خلکو به یواځې او یواځې په دوکاندارۍ او سوداګرۍ باندې خپلې ورځنۍ اړتیاوې پوره کولې هغوی به یمن او شام ته تجارتي سفرونه کول د مالونو په وړلو او راوړلو کې دوه طرفه تجارت رواج موندلې ؤ د دې څخه علاوه د مدینې په شاوخوا کې یو څه اندازه کښت کېده او باغونه هم پکې موجود وو، دوی به له بزګرۍ څخه ګټه اخسته.

د عربو مرکزي برخه چې د حجاز په نامه یادېده مکه مکرمه، مدینه منوره، ینبوع او طایف پکې شامل وو. دغې برخې ډېر اهمیت درلوده، ځکه چې بیت الله شریف همدلته واقع وو او ټول عرب ورته په خاص احترام قایل ؤ او د زیارت لپاره به د ډېرو خلکو تګ راتګ جاري ؤ او د شام او یمن څخه راوړي تجارتي مالونه به یې دلته پلورل او نور مالونه به یې اخستل چې په همدغې تجارت د پخوانیو عربو ژوند ولاړ ؤ.

# دویم فصل

## حضرت محمد ﷺ په مکه معظمه کې

### الف: پیدا ښت او کوچني والی:

حضرت محمد ﷺ د بني هاشم په کورنۍ کې د ربیع الاول په نهمه نېټه د دوشنبې په سهار دنیا ته خپلې مبارکې سترګې وغړولې. دغه وخت د فیل د واقعې یو کال او د نوشېروان عادل د پاچاهۍ څخه (۴۰) کلونه تېر شوي ؤ. د ستر عالم محمد سلیمان "المنصور پوري" او فلکي محقق محمود بادشاه د تحقیق په اساس دا تاریخ د (۵۷۱م) کال د اپریل د (۲۰) یا (۲۲) نېټې سره سمون خوري.

ابن سعد وایي: چې د حضرت محمد ﷺ مور وایې: کله چې حضرت محمد ﷺ وزېږېده زما له جسم څخه یو نور رابهر شو چې د شام قصرونه او شاوخوا سیمې یې روښانه کړې. احمد هم له عرباض بن ساریه څخه د دې ډول روایت نقل کړی دی، کله چې حضرت محمد ﷺ پیدا شو مور یې (بي بي امنې) خپل خسر عبد المطلب ته د لمسي د پیدا کېدو زېرې ولېږه عبد المطلب په ډېره خوشحالۍ راغې او خپل لمسې یې په غېږ کې ونیو او د قریشو د دود او دستور سره سم یې هغه کعبې شریفې ته بوت او د طواف څخه وروسته یې د الله ﷻ شکر اداکړ او د محمد ﷺ نوم یې پرې کېښود او د مکې د خلکو د دستور سره سم یې په اومه ورځ سنت کړ. حضرت محمد ﷺ ته څو ورځې د ابو لهب وینځې (ثوبیه) شیدې ورکړې چې ثوبیه پدغه وخت کې خپل زوی مسروح ته هم شیدې ورکولې او له دوی څخه پخوا یې حضرت حمزه ﷺ ته هم شیدې ورکړې وې مګر وروسته د قریشو د عنعنې سره سم د هوازن د قبیلې یوې ښځې بي بي حلیمې ته وسپارل شو او هغې دوه کاله شیدې ورکړې او کله یې چې د سینې د څیرلو پېښه رامنځته شوه بي بي حلیمې د وېرې له امله خپلې مور ته وسپارلو خو په ځینې روایتونو کې راغلي چې بي بي امنې هغې ته ډاډ ورکړ او بي بي حلیمې بېرته ځان سره بوت او ډېره موده یې وساتلو خو کله چې د څلورو کلونو شو خپلې مور بي بي امینې ته یې وسپارلو د شپږ کلنۍ پورې خپلې مور سره ؤ هغه هم وفات شوه. بیا یې پالنه نیکه ته پاتې شوه او د تقدیر سره سم په (۸) اته کلنې کې د نیکه د سیورې هم محروم شو.

### له (۱۲) کلنۍ نه تر پیغمبري پورې:

کله چې حضرت محمد ﷺ د (۱۲) کلونو عمر ته ورسېد کاکا یې ابو طالب له ځانه سره د شام په سفر بوت، کله چې د شام په پوله د بصرې سیمې ته ورسېدل پدغه ځای کې یو مسیحي راهب چې بحیرا نومېده نوموړي حضرت محمد ﷺ له هغو نښو نښانو څخه چې په انجیل کې راغلي وې وپېژانده او د ده تره ته یې وویل چې د شام له سفر څخه دې تیر شي او بېرته دې مکې ته لاړ شي ځکه چې یهودیان به هغه وپېژني او کوم ضرر به ورته ورسوي همغه وه چې نبي کریم ﷺ بیرته مکې ته راوګرځېده کله چې زلمیتوب ته ورسېدلو د سوداګرې په شغل مصروف شو او په پای کې د بي بي خدیجې رضی الله عنها له مالونو سره چې د هغې غلام میسره هم ورسره ؤ د شام په لور وخوځید پدغه وخت کې حضرت محمد ﷺ (۲۴) کاله عمر درلود د شام په بازار کې حضرت محمد ﷺ او میسره دواړه د دمې لپاره کښیناستل پدغه وخت کې یو راهب چې نسطورا نومېده راغــــي کله یې چې حضرت محمد ﷺ ولید نو میسره ته یې وویل: زما په ګومان چې دغه زلمي به پیغمبر وي بیا یې د دوی مالونه ورځخه واخستل او دوی هم له ډېرې ګټې سره مکې ته راستانه شول هغه وخت چې دواړه مکې ته راغلل نو میسره د حضرت محمد ﷺ د صداقت، امنتدارۍ او نېکو اخلاقو په اړوند بي بي خدیجې ته مفصل معلومات ورکړ او هم یې د نسطورا راهب خبرې ورته وکړې، نو ځکه د بي بي خدیجې پاملرنه او علاقه له حضرت محمد ﷺ سره زیاته شوه او په پای کې یې له هغه څخه د نکاح غوښتنه وکړه، محمد ﷺ هم له ترونو سره تر صلاح مشورې وروسته د هغې غوښتنه ومنله او دواړو سره نکاح وکړه، تر نکاح وروسته تر هغې چې بي بي خدیجه ژوندۍ وه حضرت محمد ﷺ بله نکاح نده کړې او د دغې بي بي یې ډېر خیال ساته او د هغې د نېکو اخلاقو ستاینه به یې کوله په هر ترتیب دغې څلوېښت کلنې ښځې چې له (۲۵) کلن زلمي سره یې واده وکړ دی هم د خپل خاوند زیات درناوي کاوه.

له واده وروسته تر (۳۵) کلنې پورې کومه مهمــــه پېښه نده رامنــځ تـه شــوې خو په (۲۰۵)م کال کې کعبه شریفه چې د وخت په تېرېدو سره خرابه شوې وه له سره ابادە شوه خو هغه وخت چې د حجرالاسود ډبرې د ایښودو مسئله رامنځ ته شوه، د قریشو تر منځ غټ اختلاف راپیدا شو او نژدې ؤ چې د لوې جګړې اور بل شي، مګر ټولو په پای کې داسې پرېکړه وکړه، کوم کس چې سبا سهار تر ټولو د مخه کعبې شریفې ته راننوت هماغه به زمونږ پرېکړه کوي هماغه ؤ، چې حضرت محمد ﷺ تر ټولو د مخه کعبې شریفې ته راننوت او خلکو هم د الامین چیغې کړې او جریان یې ورته ووایه د ماجرا تر اورېدو وروســــته هغه د حجــرالاســود ډبره په یو څادر کې کېښوده او د څادر څــــو کې یې د قبیلو مشــــرانو تـه

ورکړې کله چې یې د بره تر خپل ځای ورسوله بیا یې هغه په خپلو مبارکو لاســونو پخپل ځای کېښــوده او داســې یوه لویه پېښه یې په ډېرې سادګۍ او اسانۍ سره حل کړه.

حضرت محمد ﷺ ته په مکه کې چا پخپل نوم خطاب نه کاوه بلکې د امین او صادق په نومونو به یې ورته خطاب کاوه، خلکو به خپل امانتونه ورته سپارل او تر نبوت وروسته هم حتی د ده مخالفینو پدې عقیده درلوده، چې دی دروغ نه وایي، په امانت کې خیانت نه کوي، له خلکو سره دوکه نه کوي، نو ځکه یې د پخوا په څېر ورته خپل امانتونه سپارل.

# د حضرت محمد ﷺ د بعثت واقعه (د وحې نزول) (۶۱۰) م کال

## د حرا په غار کې د وحې نزول:

کله چې د حضرت محمد ﷺ عمر (۴۰) کلنۍ ته نږدې شو نو د ده او قوم تر منځ توپیر راپیدا شو، له همدې امله یې تنهایي او یواځیتوب غوره کړ، خپل ځان سره به یې خواړه او اوبه اخیستل او په جبل نور کې به د حرا غار ته تلو او هلته به یې د الله ﷻ عبادت کاوه. د حرا غار د مکې څخه (۲) میله لرې پروت دی، د دې غار اوږدوالی (۴) متره او سور یې څه کم دوه متره دی، حضرت محمد ﷺ به هر کال د روژې مبارکه میاشت پدې غار کې د الله ﷻ په عبادت تیرولـه، دلتـه بـه یـې د کائناتو او د الله ﷻ د مخلوق پـه هکله غور او فکر کاوه. حضرت محمد ﷺ پدغه وخت کې د کومې خاصې عقیدې پیروي نه کوله، مګر د عربو او قریشو د عقایدو غندنه یې کوله. دا څرګنده خبره ده هغه لوی شخص چې د بشري ټولنې عقیدوي تغیر او د حقایقو د رابرسیره کولو لپاره الله ﷻ پیدا کړې وي هغه شخص یواځې د الله ﷻ څخه چې ټول کائنات او مخلوقات یې پیدا کړي د بل هیچا پیروي او ملاتړ نه کوي همدا ؤ د الله ﷻ تدبیر د هغه لوی امانت د اوچتولو او نړۍ کې د یو ستر انقلاب او د تاریخ د مسیــر د بدلــون لپاره یې حضــرت محمد ﷺ اماده کړ، چې د بعثت څخه (۷) کاله د مخه یې یواځیتوب اختیار کړ، چــې د روژې مبارکه میاشت به یې مکمله په کائناتو کې سوچ او فکر کاوه، تر څــو د غیبي قدرت سره د تعامل لپاره اماده ګي ونیسي.

# د حضرت جبرائیل امین ؑ لخوا د وحې راوړل

کله چې حضرت محمد ﷺ د ذهني او عقلي کمال عمر (۴۰) کلنۍ ته ورسېد، ځکه چې په پیغمبرانو باندې په همدې عمــر کې د الله ﷻ له لــــورې وحي نازلېږي، نو د حضرت محمد ﷺ د ژوند د افق څخه د پیغمبرۍ اثار او نښې را څرګندې شوې مثلاً: حضرت محمد ﷺ د وحې د نزول څخه د مخه داسې خوبونه لیدل، چې هغه خوب به سبا د حقیقت جامه اغوستې وه، یعنې هغه پېښه به چې سبا ورځ واقع کېدله، حضرت محمد ﷺ به هماغه واقعه د شپې په خوب کې لیدله چې دغې حالت (۶) میاشتې دوام وکړ. د حرا غار کې د

حضرت محمد ﷺ د عزلت او گوښه والي په دریم کال د روژې په مبارکه میاشت کې د ځمکې پر خلکو الهي رحمت په حضرت محمد ﷺ باندې وحي نازله شوه په همدې شپه سهار وختي حضرت جبرائیل ؑ راغی او دې مبارک ته وار د واره رانږدې کېده او ورته یې وویل:

(اقرا باسم ربک الذي خلق، خلق الانسان من علق، اقرا و ربک الاکرم، الذي علم بالقلم، علم الانسان ما لم یعلم)

ترجمه:- ولوله (اې محمده ! قران) په برکت د نامه د رب خپل، هغه رب چې پیدا کړي یې دي ټول مخلوقات، پیدا کړی یې دی انسان د ټوټو تړلو شوو وینو څخه، ولوله (اې محمده ! قران) حال دا چې ستا رب لوی کریم دی، هغه ذات چې ویې ښودل انسان ته هغه شیان چې مخکې پرې نه پوهېده.

حضرت محمد ﷺ ورته وویل: زه لوستونکی نه یم، هغې په غېږ کې کلک ونیوه او دغه ایات یې بیا تکرار کړو حضرت محمد ﷺ ورته وویل: زه لوستونکې نه یم، بیا یې په غېږ کې کلک ونیوه او دغه مبارک ایات یې پرې ولوست او بیا یې له سترگو نه پناه شو، دا نزول د روژې مبارکې میاشتې (۲۱) د دوشنبې سهار وختي ؤ، چې د (۶۱۰) میلادي کال د اگست (۱۰) نېټې سره سمون خوري چې د حضرت محمد ﷺ عمر په دغه وخت کې په قمري حساب (۴۰) کاله (۲) میاشتې او (۱۲) ورځې ؤ او په شمسي حساب (۳۹) کاله (۳) میاشتې او (۱۲) ورځو ته رسېده.

د قرانکریم نزول د روژې میاشت کې د تایېد وړ دی ځکه الله ﷻ فرمایلي دي.

"شهر رمضان الذي انزل فیه القران". (سورة۲- ایت ۱۸۵)

ترجمه:- میاشت د روژې هغه میاشت ده چې نازل شویدې پدې کې قران:

همدارنگه الله ﷻ بل ځای کې هم فرمایلي دي: "انا انزلناه في لیلة القدر". (۹۷:۱)

ترجمه: بې شکه مونږ نازل کړې دغه قرانکریم د قدر په شپه.

او بل دلیل یې دا دی: چې حضرت محمد ﷺ به د روژې په مبارکه میاشت کې د حرا غار ته تللو او هلته به یې عبادت کولو، چې دا شپه په مسلمانانو کې د شب قدر د شپې په نامه یادېږي او د شب قدر شپه د روژې په مبارکه میاشت کې یوه شپه ده، چې د ځینو پوهانو په عقیده د روژې د مبارکې میاشتې په وروستۍ لسیزې طاقو شپو کې راځي او هم جبرائیل ؑ لومړی ځل په حضرت محمد ﷺ باندې د الله ﷻ په حکم د حرا په غار کې وحي نازله کړېده، د سیرت پوهان هم پدې عقیده لري، چې پر حضرت محمد ﷺ د الله ﷻ په حکم د دوشنبې په سهار وحي نازله شوېده همدغه روایت حضرت ابو قتاده ؓ تایېدوي او وایي چې یو صحابي د حضرت محمد ﷺ څخه د دوشنبې د ورځې د روژې نیولو په هکله

پوښتنه وکړه هغه مبارک وفرمایل چې: په همدې ورځ زه پیدا شوې یم او په همدې ورځ وحې راباندې نازله شوې ده د دې راوایت ابو قتاده هم نقل کړی دی، ځینو روایاتو له مخې د دوشنبې ورځ د روژې د میاشتې له (۷-۱۴-۲۱-۲۸ ) سره برابره وه او د دریمې لسیزې په طاقو شپو کې د وحې نزول شوې وه، نو معلومه شوه، چې د دریمې لسیزې د دوشنبې شپه (۲۱ ) د روژې مبارکې میاشتې کې وحې نازله شوېده، یعنې په حضرت محمد ﷺ د وحې پیل لومړی ځل د ښکلو او رېښتینو خوبونو نه شوې ده، هر خوب به سبا ته د حقیقت او واقعیت بڼه غوره کوله او همدارنګه ګوښه والی او یواځیتوب ورته ښه معلومېده، نو ځکه به تل د حرا غار ته تللو او هلته به د الله ﷻ په عبادت بوخت ؤ.

د څو شپو خوراک او څښاک به یې ځان سره یوړه، تر څو چې د الله له لورې پرې د حرا په غار کې قرانکریم نازل شو حضرت جبرائیل ؑ ورته وویل: چې ووایه، حضرت محمد ﷺ وفرمایل: زه لوستونکې نه یم، فرمایي: چې دغه وخت نو موږې پرېښتې ونیولم او په داسې زور سره یې په غیږ کې ټینګ کړم چې بالکل بې هوشه شوم بیا یې پرېښودم او راته یې وویل: ووایه، ما ورته وویل: چې زه لوستونکی نه یم، نو بیا یې په همداسې زور سره راونیولم چې بالکل بې هوشه شوم، بیایې پرېښودم او راته ویې ویل: ووایه، ما بیا ورته وویل، زه لوستونکې نه یم نو د دریم ځل لپاره یې په داسې زور سره ونیولم چې بلکل بې هوشه شوم، بیا یې پرېښودم او داآیتونه یې راته وویل: "اقرا باسم الربک الذي خلق"، لدې پېښې څخه وروسته مې د کورپه لور حرکت وکړ او دغه مبارک آیت مې په ذهن کې ښکته پورته کېده او په لړځیدلي تبه کور ته راورسېدم خپلې مېرمنې بي بي خدیجې رضی الله عنها ته مې وویل: ما ونغاړه، ما ونغاړه (ما په څادر کې پټ کړه ) هغې په څادر کې پټ کړم، کله یې چې ویره او خوف له زړه څخه ووته، بیا حضرت محمد ﷺ د دې پېښې کیسه حضرت بي بي خدیجې رضی الله عنها ته بیان کړه او ویې فرمایل: په ما څه شوي؟ زه په خپل ځان ووېرېدم، خدیجې رضی الله عنها ورته وویل: (داسې نده تاسې امانت کار، رېښتیا ویونکې، صادق، امین او د الله دوست یاستئ، قسم په الله چې تاسې به هیڅکله خوار او رسوا نه کړي، ځکه تاسې تل د غریبو او بېوزلو ملګرتیا کړې، د مېلمنو قدر کوئ د خپلوی اړیکې ټینګې ساتئ او د صله رحمۍ خاوند یې ) وروسته بي بي خدیجې رضی الله عنها د خپل تره زوی ورقه بن نوفل چې د عیسوي دین روحاني شخصیت ؤ، کور ته بوته او هغه ته یې ټوله واقعه تکرار کړه، کله چې ورقه بن نوفل ټوله کیسه واورېده، نو حضرت محمد ﷺ ته یې مخ راوګرځاوه او ورته یې وویل: چې قسم په الله ﷻ دا همغه فرښته ده کومه چې په حضرت موسی ؑ باندې نازله شوې وه، هغه په عبراني ژبه پوهېده او په همدې ژبه یې انجیل د خپل توان په اندازه لیکلی شو، خو ډېر زوړ شوی وه، ورقه بن نوفل وویل: کاشکې

چې زه اوس ځوان وی، چې له تاسې سره مې کومک کړی وای او کاشکې زه تر هغه وخته ژوندی اوسم چې تاسې خپل قوم د کور او کلي څخه شړي او زه ستاسو ملګرتیا وکړم، حضرت محمد ﷺ ورته وویل: ایا ما دا خلک د کوره شړي؟ هغه ورته وویل: هو ! تاسې به دا خلک د کوره شړي، ځکه هر وخت چې چا ستا په شان پیغام راوړی دی، نو له هغه سره حتماً دښمني شوېده، که زه ژوندی پاتې شوم، نو پوره مرسته به درسره وکړم، خو څه وخت وروسته ورقه بن نوفل وفات شو او وحې هم په موقتي توګه بنده شوه.

# د اسلام مقدس دین ته د بلنې حکم

د اسلام مقــدس دین د بلنې حکم الله تعالی د عظیم کتاب (قرانکریم) د لاندې ایتونو په اساس دی.

(یایهالمــدثر قــم فانــذر، و ربــک فکبــر، و ثیابــک فطهــر، والرجـز فاهجــر و لاتمـنن تستکثـر) سورة المدثر

ترجمه: اې په جامه کې نغښتیه (له هیبته د وحې) پورته شه ! (له ځایه د خوبه) او ووېروه (خلک له عذابه د الله ﷻ که ایمان نه راوړي) او د خپل رب لويي ورته بیان کړه او کالي خپل پاک وساته او ګندګي او بُتان ترک کړه او مه کوه داسې چا سره احسان چې بدل يې ډېر غواړې او د پاره د رب خپل صبر کـــوه (او هیله ورته ولره او احکامو ته يې منتظر اوسه) د الله ﷻ له لوري حضرت محمد ﷺ ته داسې امرونه شوي دي، چې ظاهر کې ساده او عادي ښکاري، خو حقیقت کې د ډېرو اوچتو اهدافو او د واقعیتونو په دنیا کې د ژورې اغېزې او لوی عمل درلودونکي دي.

## الف: (۳) کاله پټه او سري بلنه:

معلومه خبره ده چې مکه مکرمه هغه وخت د عربو مذهبي مرکز ؤ، د عربو پـه نزد او اصطلاح د مقدسو بتانو ساتونکي همدلته وو، نو د دې خلکو اصلاح ډېر مشکل کار ؤ، د همدې امله د یو کلک عزم خاوند تـه ضرورت ؤ، نو پـدې شرایطو کې د حکمت تقاضا او غوښتنه همدا وه، چې دعوت او بلنه باید په پټه توګه ترسره شي، تر څو د مکې خلک پـه نابېره توګه ونه پارېږي، طبعي خبره ده، چې حضرت محمد ﷺ باید لومړی هغه کسان اسلام ته رابلل چې له ده او اهل بیتو سره يې نژدې اړیکې درلودې، لومړی يې خپل هغه دوستان اسلام ته راوبلل چې د خیر طمع ترې کېدله، دا د الله ﷻ غوره بنده ګان په اسلامي تاریخ کې (السابقون الاولون) په نامه شهرت لري، چې د دې ډلې په سر کې د حضرت محمد ﷺ بي بي حضرت خدیجه رضی الله تعالی عنها او د هغې ازاد شوی غلام حضرت زید بـن حارثـه بـن شرحبیل الکلبي رضی الله عنه او د حضرت محمد ﷺ د تره زوی حضرت علي بن ابي طالب رضی الله عنه چې هغه

وخت ماشوم ؤ. دا ټول هغه کسان دي چې د بلنې په لومړنیو ورځو کې په اسلام مشرف شویدي، پدې پسې حضرت ابوبکر صدیق ﷺ داسلام لور ته د بلنې لپاره ملا وتړله، دا هم د خپل قوم مخور او منل شوی شخصیت ؤ، د خپلو نېکو اخلاقو، تدبیر، پوهې او تجارت کې د تجربې له برکته به همېش خلک ده ته راتلل، په چا به یې چې اعتماد ؤ د اسلام دین ته به یې رابلل، چې په نتیجه کې حضرت عثمان بن عفان الاموي ﷺ، حضرت زبیر بن العوام الاسدي ﷺ، حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ، حضرت سعد بن ابي وقاص(الزهریان) ﷺ او حضرت طلحه بن عبیدالله التیمي ﷺ په اسلام مشرف شول، همدارنګه حضرت بلال بن ابي رباح الحبشي ﷺ او د اسلامي امت امین حضرت ابو عبیده عامر بن الجراح ﷺ یو په بل پسې د اسلام مقدس دین ومنلو، حضرت ابو سلمه بن عبدالاسد ﷺ، ارقم بن ابي الارقم المخزومیان ﷺ، حضرت عثمان بن مظعون ﷺ او ورونه یې حضرت قدامة ﷺ، حضرت عبدالله ﷺ، حضرت عبیده بن الحارث بن المطلب بن عبدالمناف ﷺ، حضرت سعید بن زیدالعدوي ﷺ او ښځه یې حضرت فاطمه بن الخطاب رضی الله تعالی عنها د عمر بن الخطاب خور، حضرت خباب بن الارت ﷺ، حضرت عبدالله بن المسعود الهذلي ﷺ او داسې نور صحابه ﷺ په اسلام مشرف شول او همدوی (السابقون الاولون) دي، ابن هشام د دوی شمېر (۴۰) تنه ښودلی دی او نومونه یې هم ذکر کړیدي.

## ب: ښکاره بلنه د نبوت (۴-۱۰) کال اخر پورې:

پدې هکله تر ټولو لومړی د الله ﷻ دا قــول:

"وانذر عشیرتک الاقربین". رانازل شوی دی.

ترجمه: او ووېروه ته (له عذابه اې محمده ﷺ ! هغه خپلوان چې ډېر درته نږدې دي. داآیت د الشعراء په سورت کې دي، د دې سورت په لومړی کې د حضرت موسی ﷺ کیسه راغلې ده، په کیسه کې راښیې، چې د حضرت موسی ﷺ د نبوت پیل څنګه ؤ، بیا هغه له خپل قوم بني اسرایېلو سره هجرت وکړ، الله ﷻ ورته د فرعون څخه نجات ورکړ، فرعون او د هغه لښکر یې په رود نیل کې غرقې شوې او دا کیسه د حضرت موسی ﷺ د دعوت په مرحلو رڼا هم اچوي. څرنګه چې حضرت محمد ﷺ او اصحاب ﷺ د دعوت د پیل څخه د خپلې لارې د هر څه نه خبر وي، چې باید یوه نمونه او مثال موجود وي، چې د هغې په رڼا کې باید دې ته تیار وي چې ښکاره دعوت کې به د راز راز مشکلاتو سره مخاخ کېږي، د دروغو نسبت به ورته کېږي، ډېر ظلمونه به پرې کېږي او په دې سورت کې د هغو قومونو د عاقبت او انجام یادونه هم شوېده، چې الله ﷻ د رسولانو او پیغمبــرانو تکذیب یې کړی ؤ، لکه: د (نوح ﷺ، عاد، ثمود، ابراهیم ﷺ او لوط ﷺ قومونه، چې د هغوی اطاعت یې نه کاوه، د فرعون او د دې قومونو د عاقبت او انجام یادونه پدې خاطر سره شوېده، چې مؤمنان

مطمین شي چې د الله ﷻ د دین د داعیانو او د اسلام مقدس دین ته د بلوونکو مخالفین او معاندین به د وخیم او خطرناک حالت سره مخامخ کېږي او راتلوونکی به د مؤمنانو په برخه وي.

# نژدې خپلوانو ته بلنه

د پورته ذکر شوي ایت شریف د نازلېدو څخه وروسته حضرت محمد ﷺ خپله کورنۍ بني هاشم راوبلل (۴۵) کسان راټول شول، خو ابو لهب حضرت محمد ﷺ ته وویل چې خبرې وکړه، خو ناپوهي پرېږده او که نه منع کېږې نو ټول قریش به ستا په خلاف راپورته شي، حضرت محمد ﷺ پدې مجلس کې هیڅ ونه ویل او دوهم ځل یې بیا راوبلل او ورته ویې فرمایل: ټول حمد ثنا او صفت الله لره دي، زه د هغه ثنا او صفت وایم، له هغه نه مرسته غواړم، په هغه ایمان لرم او په هغه باندې توکل کوم او په دې شاهدي وایم چې د الله ﷻ پرته بل هیڅوک هم د عبادت وړ نه دی، هغه واحد دی هیڅ شریک نه لري، بیا یې وفرمایل: مشر او لارښود خپل اهل او د کور خلکو ته دروغ نه وايي، قسم په هغه الله چې له ده پرته بل اله (د عبادت وړ او معبود) نشته زه د الله تعالی له لوري ستاسې لپاره په خاصه توګه او د ټولو خلکو لپاره په عامه توګه رسول او استازی رالېږل شوی یم، قسم په الله داسې به مرئ څنګه چې ویده کېږئ او داسې به بېرته راژوندي کېږئ لکه څنګه چې د خوبه راپاڅېږئ او د هر عمل حساب او کتاب به درسره کېږي، بیا به د تل لپاره یا جنت وي یا دوزخ او ابو طالب داسې وویل: موږ ته ستا مرسته کول غوره دي، مونږ له هر چا ستا نصیحت ته زیات غوږ نیسو او منو یې، مونږ له هر چانه ستا خبره رښتیا ګڼو، دا دی ستا پلرونه او تربرونه ټول حاضر دي، زه هم د دوی یو غړی یم، خو زه ستا د خوښۍ او هدف په لاره کې له دوی نه وړاندې یم، نو په پوره ډاډ او اطمینان سره مخ په وړاندې درومه، خپله دنده په ښه توګه ادا کړه، قسم په الله ﷻ تل به دې خواته ولاړ یم، او ملاتړ به دې کوم، خو طبعیت او نفس مې د دې اجازه نه راکوي چې د عبد المطلب دین پرېږدم، ځکه دا دین مونږ ته په میراثي پاتې دی او نور قریش په خپل ځان نه خندوم.

ابو لهب وویل: والله دا ډېره بده ده، مخکې لدې چې نور خلک یې لدې کاره منع کړي، باید تاسې د ده لاس ونیسئ او لدې لارې یې راواړوئ، ابو طالب ځواب کې وویل قسم په الله چې تر څو ژوندي یو دفاع به ورنه کوو، په همدې ترتیب حضرت محمد ﷺ یوه ورځ د صفا غونډۍ ته پورته شو او په لوړ اواز یې وفرمایل: یا صباحه (یا سهاره)؟ د دې اواز سره ټول قریش راټول شو، حضرت محمد ﷺ هغوی توحید، رسالت او د قیامت په ورځ ایمان راوړلو ته راوبلل، بخاري شریف د دې کیسې یوه برخه د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کوي چې د دې ایت شریف له نازلېدو وروسته حضرت محمد ﷺ په لوړ اواز ټولو

کورنیو ته غږ وکړ، ابو لهب هم راغی، حضــــرت محمد ﷺ وویل: که چېرې زه تاسې ته ووایم چې پدې دره کې یوه ډله شهســــواران دي، غــــواړي چې حمله درباندې وکړي ایا تاسې به زما دا خبره ومنئ؟

ټولو قریشو په یوه اواز وویل: هو! مونږ پر تا باور لرو ځکه تاسې هیڅکله دروغ ندي ویلي او تل دې رښتیا ویلي، تاسې صادق، امانت دار او د ښو اخلاقو خاوند یاستئ، بیا یې ورته وویل: زه الله ﷻ تاسې ته رالیږلی یم، چې تاسې د یو الله ﷻ د عبادت لپاره راوبولم او هغه درووند بار چې الله ﷻ زما په اوږو بار کړی، هغه ستاسې غوږونه ته ورسوم، ترڅو تاسې د قیامت په ورځ له عذاب څخه په امن کې شئ، ابولهب وویل:

(تبالک سائرالیوم الهذ جمعتنا).

ترجمه: تبا شې! ایا ټوله ورځ دې مونږ د دې له پاره راټول کړي وو؟

د ابولهب په ځواب کې الله ﷻ دا سورة نازل کړ: "تبت یدا ابي لهب وتب".

ترجمه: مات او هلاک دې شي دواړه لاسونه د ابي لهب او پخپله دې هم هلاک شي.

## ج: دریمه مرحله دعوت یا بلنه له مکې نه د باندې:

### حضرت محمد ﷺ په طایف کې:

د نبوت په لسم کال د شوال میاشت کې چې د (۶۱۹)م کال د مۍ د میاشتې اخر او د جون د لومړیو سره سمون خوري حضرت محمد ﷺ د حضرت زید بن حارثه ﷺ په ملګرتیا د طایف په لور وخوځېد، طایف د مکې څخه (۲۰) میله لیري واقع دی، دې حضراتو دا اوږده لاره پیاده وهله، هرې قبیلې ته به یې د اسلام د مقدس دین دعوت ورکولو، مګر هیڅ یوې قبیلې د اسلام د مقدس دین بلنه قبوله نه کړه، په طایف کې د ثقیف قبیلې (۳) ورونه چې عبدیا لیل، مسعود او حبیب نومېدل، چې حضرت عمرو بن عمرالثقفي زامن وو او درې واړه ریېسان او مشران وو، د اسلام مقدس دین ته یې راوبلل د هغوی څخه یو ورته وویل: که ته الله ﷻ رسول رالیږلـی یې نو زه به د کعبــې پردې څیرې کړم، دوهم ورته وویل: چې الله ﷻ پرته له تا بل څوک نه دی پیدا کړی چې ته یې رسول رالیږلی یې، دریم ورته وویل: قسم په الله ﷻ که زه تا سره خبرې وکړم، که ته ریښتیا د الله رسول یې ستا خبرې ردول خطر لري او که ته الله ﷻ پــورې دروغ تــړې بیا تــه د خبرو وړ نه یې چې خبرې درسره وکـــړم حضرت محمد ﷺ ور څخه پاڅېد او ورته یې وویل چې زمونږ او ستاسو د خبرو راز باید پټ وساتل شي، حضرت محمد ﷺ (۱۰) ورځې طایف کې پاتې شو ټولو مشرانو ته یې د اسلام بلنه ورکړه خو هیچا هم ونه منله او د خپلې سیمې څخه یې وشړلـــو او دې ظالمـــانو په ډبرو وویشتــو او بــدرد یې ورته وویــل دواړه څپلې یې په وینو رنګ شــوې او د حضرت زید بن حارثه ﷺ سر مبارک هم مات شو او کله چې د ربیعه د زامنو عتبه او شیبه باغ ته

ورسېدل، هغه باغ ته يې پناه یوړه او دا ظالمان ترې ستانه شول، حضرت محمد ﷺ د انګورو د سیوري لاندې دمه جوړه کړه او دعا يې وکړه، چې د مستضعفينو د دعا په نامه مشهوره ده هغه دعا پدې ډول ده:

ترجمه: اې اله زه د خپلې کمزورۍ بې وسۍ او د خلکو په وړاندې د خپلې بې قدرۍ شکايت تاته کوم، اې د هر چا څخه مهربانه اله ! ته د بې وزلو الله ﷻ يې او زما الله ﷻ هم يې، ته مې چاته سپارې؟ پردي او بېګانو ته مې سپارې چې ظلم او زیاتی راسره وکړي؟ او یا کوم داسې دښمن ته مې سپارې چې زما معامله دې هغه ته سپارلې ده؟ که ته راته په غضب او قهر نه يې نو زما هيڅ پروا نشته، خو ستا عافيت ماته ډېر وسيع او پراخه دی، زه ستا د مخ په هغه نور پناه غواړم کوم چې تیارې يې رڼا کړېدي او هغې رڼا چې دنيا او اخرت ورباندې جوړ شوی او برابر شوی دی، له دې نه پناه غواړم چې ته راباندې خپل غضب وکړې او يا ستا د عتاب مورد وګرځم، ستا رضا غواړم تر څو ته راضي شي او پرته له تا څخه بل د زور او قوت خاوند وجود نه لري کله چې د ربيعه زامنو حضرت محمد ﷺ وليده زړه يې پرې وسوځېده، خپل نصراني غلام عداس ته يې وويل: چې دا انګور وروړه نو غلام انګور وروړل حضرت محمد ﷺ بسم الله وويله او انګور يې وخوړل، عداس وويل د دې وطن خلک خو بسم الله نه وايي حضرت محمد ﷺ ورته وويل، ته د کوم ځای يې او د کوم دين پيروي کوې؟ عداس وويل: زه په دين نصراني يم او د نينوا او سېدونکې يم. حضرت محمد ﷺ ورته وفرمايل: ښه ته د صالح سړي حضرت يونس بن متی ؑ کليوال يې، عداس وويل: تاسې يونس بن متی ؑ پېژنئ؟ حضرت محمد ﷺ ورته وويل: هغه زما ورور ؤ، هغه نبي ؤ او زه هم نبي يم، نو سمدلاسه عداس په حضرت محمد ﷺ ورپرېوت او ښکل يې کړ، د ربيعه زامنو د عداس څخه پوښتنه وکړه چې دا څه وو؟ عداس ورته وويل: اې باداره پدې ټوله نړۍ کې د دې مبارک څخه غوره شخص نشته، ماته يې داسې معلومات راکړل چې پر هغې د پيغمبر پرته بل څوک نه پوهېږي، هغوی ورته وويل: ستا دين ترې غوره دی ګوره بې لارې نشې، حضـرت محمـــد ﷺ د مکې په لور روان شو، زړه يې له غمونو ډک ؤ، کله چې د قرن المنازل سيمې ته ورسېد، د الله ﷻ په امر ورته حضرت جبرائيل چې د غرونو فرښته هم ورسره ملګرې وه راغی او حضرت محمد ﷺ ته يې وويل: که چېرې ستا خوښه وي مونږ به د طايف په خلکو دا غرونه راچپه کړو، مګر حضرت محمد ﷺ د طايف د خلکو د هلاکت سره مخالفت وکړ او د الله ﷻ څخه يې وغوښتل چې دې خلکو ته د اسلام د مقدس دين هدايت ور په برخه کړي.

# د اسلام د مقدس دین لومړنۍ مدرسه

## دارالارقم (د ارقم کور):

د قریشو او مشرکینو د ظلمونو په خاطر حضرت محمد (ص) ته د الله (ج) لخوا هدایت ورکړل شو چې د خپلو مسلمانانو لارښوونه وکړي چې د اسلام مقدس دین پټ وساتئ، نو څکه یې خپلې زده کړې پټې کولې، تر څو مسلمانانو ته کوم ضرر پېښ نه شي لکه د نبوت په څلورم کال مسلمانانو په یوه خوړ کې په پټه سره لمونځ کولو چې مشرکینو ولیدل، نو مسلمانانو ته یې بد رد وویل بالاخره جګړه شروع شوه، سعد بن ابي وقاص یو مشرک په سر وواهه چې وینې ترې روانې شوې چې په اسلامي تاریخ کې دا لومړنۍ پېښه وه، چې وینې پکې وبهېدلې خو حضرت محمد ﷺ خپل عبادت او دعوت په ډاګه تر سره کولو او څرنګه چې ارقم بن الارقم (المخزومي) کور د صفا په غونډۍ او مشرکینو څخه ګوښه وه، په همدې خاطر حضرت محمد ﷺ همدغه ځای د غونډو لپاره یعنې د اسلامي لارښوونو د مرکزیت لپاره مناسب وګڼلو او د نبوت د پنځم کال څخه یې همدغه کور د خپل دعوت مرکز وټاکه.

## د قریشو د ظلم او تشدد انجام:

کله چې د مکې د خلکو ظلم او تیری اوج ته ورسېد او پر حضرت محمد ﷺ او اصحابو ﷺ یې رنګا رنګ ظلمونه پیل کړل، چې یو مثال یې د ابو جهل ظلم پر حضرت محمد ﷺ باندې دی، چې د حضرت محمد ﷺ مبارک سر یې په تیږه وویشته او وینې ترې وبهېدلې، چې همدا ظلم د حضرت حمزه ﷺ د ایمان راوړلو علت او سبب وګرځېد او بل مثال یې یوه ورځ عتبه بن ابي لهب حضرت محمد ﷺ ته ورغی او ورته ویې وویل: زه په "والنجم اذا هوی" نه تر "ثم دنا فتدلی" پورې ایتونو باندې زه کافر یم او دا نه منم، او بیا یې د حضرت محمد ﷺ کمیس څیرې کړ او په مبارک مخ یې لاړې ورتف کړې، خو مخ ته یې ونه رسېدې حضرت محمد ﷺ ورته ښېرا وکړې او ویې ویل:

"اللهم سلط علیه کلبا من کلابک".

ترجمه: اې الله د خپلو سپو څخه پرې یو سپې وګماره.

همدغه دعا کټ مټ الله ﷻ قبوله کړه، یوه ورځ عتبه بن ابي لهب د شام (زرقا) نومې ځای کې ملګرو سره تللی ؤ، یو زمری راغی، عتبه وویل: افسوس اې ورونو قسم په الله ﷻ چې دا زمری ما خوري، څکه چې حضرت محمد ﷺ ماته ښېرا کړې، هغه مکه کې دی خو زه یې ووژلم، زمري ورټوپ کړ، سر څخه یې ونیولو او مړ یې کړ، په داسې حال کې چې د مکې فضا د ظلم او ستم تورو تیارو نیولې وه، د نبوت د شپږم کال اواخر د ذی الحجې په میاشت

کې حضـــرت حمزه ﷺ په ایمان مشرف شو ، چې پدې سره د مؤمنانو زړونو تـه اطمینـــان او قـــوت حاصل شـــو ، د حضرت حمزه ﷺ د ایمان راوړلو علت او سبب دا ؤ ، چې ابو جهل د صفـــا په غونډۍ حضرت محمد ﷺ ته ډېرې بدې خبرې وکړې، حضرت محمد ﷺ یې په سر باندې په تيږه وويشته، چې وينې ترې وبهيدلې، کله چې حضرت حمزه ﷺ د ښکار څخه راغی لينده يې لاس کې وه، د عبدالله بن جدعان وينځې ورته د ابوجهل داستان بيان کړ، حضرت حمزه ﷺ په غصه ابوجهل ته ورغی او ورته يې وويل: يا مصفر استه ! مطلب دا چې د ابوجهل په مقعد پیس مرض ؤ، تا زما د وراره سره ولې ظالمانه عمل کړی دی؟ بيا يې په لیندې يو کلک ګوزار وواهه او سر يې پرې مات کړ، چې په دې وخت کې د حضرت حمزه ﷺ کورنۍ (بنو هاشم) او د ابوجهل کورنۍ (بنو مخزوم) خلک راپورته شول، ابو جهل وويل: ابو عماره (حمزه ﷺ) پرېږدئ، ما د هغه وراره سره همدا سې کړيدي، حضرت حمزه ﷺ لومړی خو د غيرت لـه امله ایمان راوړ، خو وروسته يې شجاعت ساری نه درلود او د مسلمانانو د عزت او قوت سبب شو ، د حضرت حمزه ﷺ څخه درې ورځې وروسته حضرت عمر ﷺ هم د اسلام مقدس دين ومنلو ، ترمذي له ابن عمر او طبراني له حضرت ابن مسعود ﷺ نه روايت کوي چې حضرت محمد ﷺ فرمايلي وو:

"اللهم اعزالاسلام باحب الرجلين اليک: بعمر بن خطاب او بابي جهل بن هشام". الحديث

(يعني اې اله ته اسلام ته په عمر بن الخطاب او يا ابوجهل بن هشام هر يو چې تاته خوښ وي عزت او قوت ورکړې، الله تعالی تـه حضرت عمر ﷺ منظور ؤ، چې پـه اسلام مشرف شو ، د حضرت عمر ﷺ د اسلام راوړلو په هکله د مختلفو رواياتو څخه معلومېږي، چې يوه شپه حضرت عمر ﷺ کعبې شريفې ته ننوت، ګوري چې حضرت محمد ﷺ په لمانځه ولاړ ؤ او الحاقه سورة يې لوستلو ، حضرت عمر ﷺ وايي: چې د قران کريم الفاظو ته په تعجب کې شوم ځان سره مې وويل: چې دا حضرت محمد ﷺ شاعر دی، وايي چې همدې وخت کې حضرت محمد ﷺ دا ايت ولوست:

"انه لقول رسول کريم، وما هو بقول شاعرط قليلاً ما تومنون".

ترجمه: بې شکه چې دا قران خبره د رسول مکرم ده او نه دا خبره د کوم شاعر، ډېرخي لږ ايمان راوړی تاسو بلکې نه مؤمنان کېږئ.

حضرت عمر ﷺ وايي: بيا مې وويل دا کاهن دی، وايي: چې پـه همدې وخت کې حضرت محمد ﷺ دا ايت مبارک ولوست:

"ولا بقول کاهنط قليلا ما تذکرون، تنزيل من رب العلمين".

ترجمه: او نـه ده دا خبـــره د کاهـــن لکه چې تاســـو ګومان کـوئ، لږ پند اخلئ تاسې (بلکې نه يې اخلئ).

وایي چې د دې مبارکو ایاتونو په اورېدو سره مې په زړه تاثیر راغی او اسلام مقدس دین سره مې مینه پیدا شوه، څرنګه چې حضرت عمر بن خطاب د اسلام راوړلو څخه د مخه د حضرت محمد ﷺ سره کینه درلوده، یوه ورځ یې توره واخیسته او د حضرت محمد ﷺ د قتل او شهادت په نیت روان شو، په لاره کې د حضرت نعیم بن عبدالله النحام العدوي ﷺ سره مخاخ شو، هغه ترې پوښتنه وکړه چې: اې عمره چېرې ځې؟ هغــې ورته وویل: چې حضرت محمد ﷺ وژنم، حضرت نعیم بن عبدالله ﷺ ورته وویل! چې د بني هاشم او بني زهره څخه به څنګه ځان خلاصوې؟ حضرت عمر بن الخطاب ﷺ په ځواب کې ورته وویل: داسې ښکاري چې تاسې هم د خپل پلار او نیکه له دین څخه بې لارې شوي یاستئ، حضرت نعیم بن عبدالله ﷺ ورته وویل: چې حضرت محمد ﷺ پرېږده لومړی دې خپله خور او مېړه یې لارې ته برابر کړه، وروسته د نورو خلکو پر ضد اقدام کوه، حضرت عمر ﷺ په ډېره غصه د خپلې خور د کور په لور حرکت وکړ، د هغوی کور ته حضرت خباب بن الارت ﷺ راغلی ؤ او هغوی ته یې د قران کریم (طه سورة) لوسته، حضرت عمر ﷺ ډېر په زوره زوره دروازه ووهله، خور یې حضرت خباب ﷺ او قران کریم پټ کړو، کله چې حضرت عمر ﷺ کور ته ننوت، د هغوی څخه یې پوښتنه وکــــړه، چې څه مو ویل: هغــوی ورته وویل: چې خبرې مو کولې، حضرت عمر ﷺ وویل: لکه چې خپل دین مـــو پرېښی دی اوښیې ورته وویل: که بل دین حق وي؟

حضرت عمر بن الخطاب ﷺ په قهر شو او ډېر یې ووهلو، خور یې مېړه د هغې څخه خلاصولو، چې هغه یې هم داسې په سپېړه ووهله چې د مخ څخه یې وینې روانې شوې.

هغوی ورته وویل: چې اې عمره د اسلام دین حق دی او مونږ منلی دی، دواړو په لوړ اواز سره وویل: "اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمد رسول الله".

ترجمه: شاهدي وایم چې غیر د الله ﷻ څخه بل ځوک د عبادت لایق نشته او شاهدي وایم چې حضرت محمد ﷺ د الله رسول او پیغمبر دی.

پـه حضـرت عمـر ﷺ الله ﷻ رحـم وکـړ او پخپلـو کـړو پښـېمانه شـو او د قـران کـریم غوښتنه یې وکړه، خو خور یې ورته وویل: چې لومړی غسل وکړه! چې پاک شې، اوس تا تـه دا حق ندی حاصل، حضرت عمر ﷺ لومړی غسـل وکـړ، وروسـته یې هغـه ایاتونـه ولوسـتل ډېره اغېزه یې پرې وکړه، کلـه یې چې بسـم الله الـرحمن الـرحیم ولوسـت ویې ویـل: پـاک او سـپېڅلي نومونـه، بیـا یې د (طـه سـورة) تـر "اننـــي انـا الله لا الـه الا انـا فاعبـــدني واقـم الصلوة لذکري". ولوست

ترجمه: بېشکه زه چې یم همدا زه الله یم، نشته لایق د عبادت بل څوک مګر همدا زه یم، پس عبادت کوه زما، سم ادا کړه لمونځ د پاره د یادولو زما.

بیا یې وویل: دا څومره ښکلی او اوچت کلام دی، ماته حضرت محمد ﷺ راوښایاست، پدې وخت کې حضرت خباب ﷺ راووت او ویې ویل: زېری مې درباندې اې عمره! هیله ده چې د پنجشنبې شپې دعا چې مخکې ذکر شوېده ستا په حق کې قبوله شوې وي، حضرت محمد ﷺ د ارقم په کور کې دی، حضرت عمر ﷺ توره له تېکې راوویسته او د ارقم کور ته ورغی دروازه یې ووهله مسلمانان حیران شول، چې حضرت عمر ﷺ راغلی دی، باالاخره حضرت حمزه ﷺ ورته وویل: چې دروازه ورته خلاصه کړئ، که په ښه نیت راغلي وي کومک به ورسره وکړو او که په بد نیت راغلی وي جزا به ورکړو، پدې وخت کې حضرت محمد ﷺ ته وحي کېدله، حضرت عمر ﷺ کوټه کې کېناست او کلیمه یې د حضرت محمد ﷺ او نورو مسلمانانو په حضور کې ولوسته او د اسلام مقدس دین یې ومنلو، مسلمانان ډېر خوشحاله شول، د ارقم له کور څخه په لوړ اواز د تکبیر چیغه پورته شوه، چې په ښا او خوا کې خلکو واورېده.

حضرت ابن مسعود ﷺ وایي: مونږ تر هغې وخته پورې د کعبې شریفې سره لمونځ نشو کولی تر هغې چې حضرت عمر ﷺ ایمان راوړ.

حضرت صیب بن سنان رومي ﷺ وایي: کله چې حضرت عمر ﷺ ایمان راوړ حضرت محمد ﷺ ښکاره او څرګند ه بلنه د اسلام مقدس دین ته پیل کړه ټول مسلمانان د کعبې تر څنګ راټول شول او د کعبې شریفې څخه مو طواف وکړ، حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ وایي: له کومې ورځې چې حضرت عمر ﷺ ایمان راوړی، مونږ عزتمند او سرلوړي شوي یو.

# د حبشې په لور هجرت

په مسلمانانو باندې د نبوت په څلورم کال د مشرکینو ظلمونه پیل شول، د نبوت د پنځم کال په نیمایي کې دغه ظلمونه اوج ته ورسېدل او مسلمانانو نور په مکه کې استوګنه نشوه کولی، چې په همدې سختو حالاتو کې د (کهف) سورت نازل شو، په دې سورت کې د مشرکینو (قریشو) هغه پوښتنې ځواب شوې وې، کومې چې د حضرت محمد ﷺ څخه یې کړې وې او د دې ترځنګ پدې سورت کې درې کیسې هم بیان شوې وې، چې په هره یوه کیسه کې د مسلمانانو لپاره ښکاره هدایات او لارښوونې شوې وې.

۱- د اصحاب کهف کیسه دا په ګوته کوي چې کله مسلمانان د دین له پلوه له خطر سره مخامخ شي، نو باید په الله ﷻ باندې په پوره توکل سره د کفر او ظلم د مرکز څخه د امن ځای ته هجرت وکړي په دې اړه الله ﷻ داسې فرمایلي دي:

"و اذا عتزلتموهم وما یعبدون الا الله فاوو الی الکهف ینشرلکم ربکم من رحمته و یهئ لکم من امرکم مرفقا ". (۱: ۱۸)

ترجمه: کله چې په څنګ شوی تاسې له دغو مشرکانو او له هغو بتانو چې عبادت یې کوي دوی بې له الله ﷻ نو ځای ونیسئ هغه غار ته (او دېره شئ پکې) خپور به کړي تاسې ته الله ﷻ د تاسې له رحمته خپل او تیار به کړي تاسې ته له کار ستاسې اسباب د ګذران او خوشحالی.

۲- د حضرت خضر او موسی ﷺ کیسه دا ښیي چې د حالاتو او واقعاتو نتیجه او پای تل داسې نه وي، لکه څرنګه چې په ظاهره معلومېږي، بلکې ډېر ځله داسې کېږي چې نتیجه د ظاهري شکل مخالفه وي او دا دېته اشاره کوي، چې د مسلمانانو او قریشو تر منځ پیل شوې جګړه به بالکل د ظاهري بڼې په خلاف وي، پدې معنی چې همدا قریش او ظالمان که چېرې اسلام رانه راوړي حتماً به د همدې مظلومو مسلمانانو په وړاندې له ماتې او رسوایي سره مخامخ شي.

۳- ذی القرنین کیسه دا ثابتوي چې ځمکه د الله ﷻ ده، هر چاته چې وغواړي همغه ته یې په میراث ورکوي او همدا راز دا په ګوته کوي چې بری او نېکبختي په ایمان کې ده نه په کفر، او بله دا چې الله ﷻ همېشه د خپلو مظلومو بنده ګانو د مرستې او د زمانې د یاجوج ماجوج د شر څخه د هغوی د نجات لپاره ځینې غوره بنده ګان رالېږلي او دا کیسه دا هم په ګوته کوي چې د ځمکې د واکدارۍ تر ټولو مستحق خلک د الله ﷻ صالح بنده ګان دي.

پدې پسې د (الرمز) سورت نازل شوه، چې دا سورت هجرت پلو ته اشاره کوي او دا اعلانوي چې د الله تعالی ځمکه پراخه ده الله ﷻ فرمایي:

"للذين احسنوا في هذه الدنيا حسنـــه و ارض الله واسعة انما يوفى الصابرون اجرهم بغير حساب". ۱۰:۳۹

ترجمه: شته هغو کسانو ته چې نېکي يې کړې ده په دغه دنيا کې (په طاعت سره) نېکي (په اخرت کې چې جنت او رضوان دی) او ځمکه د الله ﷻ پراخه ده، بېشکه همدا خبره ده پوره ورکولی شي، صابرانو ته اجر (ثواب) د دوی بې حسابه.

۱- حضرت محمد ﷺ لدې څخه خبر ؤ چې د حبشې پاچا (اصحمه النجاشي) يو عادل سړی دی او د ده په پاچاهۍ کې ظلم او زياتی نشته، نو يې مسلمانانو ته امر وکړ، چې حبشې ته هجرت وکړي، د نبوت په پنځم کال د رجب مياشت کې د اصحابو کرامو ﷺ لومړنۍ ډله چې د (۱۲) نارينه او (۴) ښځو په ګډون د حضرت عثمان بن عفان ﷺ تر مشرۍ لاندې حبشې ته هجرت وکړ او د حضرت عثمان ﷺ سره يې خپله بي بي د حضرت محمد ﷺ لور حضرت رقيه رضی الله تعالی عنهاهم ملګرې وه، حضرت محمد ﷺ د دې دواړو په هلکه فرمايلي:

"انما اول بيت هاجر في سبيل الله بعد ابراهيم و لوط عليهم السلام.

يعنې: له ابراهيم او لوط عليهم السلام څخه وروسته دوی دواړه حضرت عثمان ﷺ او حضرت رقيه رضی الله تعالی عنها لومړنی کورنۍ ده چې دا الله ﷻ په لاره کې هجرت کوي.

نومورې مهاجرين د دې په خاطر چې قريش ورباندې خبر نشي د شپې په تياره کې له مکې څخه ووتل او د (الشعيبه) بندر له لارې حبشې په لور حرکت وکړ او هلته يې د امن ژوند پيل کړ، په همدې کال د روژې مبارکې په مياشت کې حضرت محمد ﷺ حرم ته لاړ، هلته د قريشو يو زيات شمېر مشران موجود وو، حضرت پيغمبر ﷺ پورته شو او د (النجم) سورة يې ولوسته، پداسې حال کې چې کفارو مخکې لدې څخه د الله ﷻ کلام نه ؤ اورېدلی، ځکه چې هغوی به يو بل ته توصيه کوله چې قران کريم ته غوږ مه نيسئ، قران کريم د دوی دې کار ته داسې اشاره کړېده فرمايي:

"وقال الذين کفرو لا تسمعوا هذا القران والغو فيه لعلکم تغلبون". ۲۲:۴۱

ترجمه: او وايي هغه کسان چې کافران شوي دي چې مه اورئ هغه قران (چې محمد يې لولي) او شور ماشور واچوئ (په وخت د لوستلو د ده کې) ښايي چې تاسې غالب شئ پرې (د تبليغ څخه ساکت کړئ)، خو کله چې ورته حضرت محمد ﷺ قران کريم تلاوت کړ د مشرکينو حالت بدل شو او کله يې چې د سجدې ايت تلاوت کړ. (۲۲:۵۳)

ترجمه: پس سجده کوئ تاسې خاص الله ﷻ ته او عبادت کــوئ، همـــدغه الله ﷻ ته حضرت محمد ﷺ په سجده پرېوت او ټولو ورسره سجده وکړه، وروسته بيا دا خلک خپلو نورو قريشو تهديدول.

۲- حبشې ته دویم ځل د مهاجرینو تعداد (۸۳) یا (۸۴) نارینه او (۱۸) یا (۱۹) ښځې په کې وې هجرت یې وکړ، قریشو دا نشوای زغملای چې مسلمانان د دوی د نجاشي په پاچاهۍ کې د امن ژوند کوي، نو عمرو بن العاص او عبدالله بن ابي ربیعه چې ډېر پوه او زیرک خلک وو حبشې ته واستول، نجاشي او د هغه درباریانو ته یې قیمتي سوغاتونه وړاندې کړل او د نجاشي درباریان یې د مسلمانانو په شړلو راضي کړل، بیا نجاشي ته ورغلل او ورته یې وویل: اې پاچا ستا وطن ته څو کم عقله ځوانان راغلي دي، د خپل قوم دین یې پرېښود او ستاسې دین یې هم نه دی منلی او یو نوی دین یې ځان ته غوره کړی، مونږ د هغوی پلرونو او مشرانو تاته رالېږلي یو، چې هغوی بېرته واستوئ او درباریانو هم ورته وویل چې دوی رښتیا وایي، دا مهاجرین دې دواړو ته وسپاره، تر څو خپل وطن ته یې بوځي، نجاشي مسلمانان راوغوښتل، چې د هغوی دلایل هم واوري، کله چې مهاجرین حاضر شول، نجاشي ترې پوښتنه وکړه، دا کوم دین دی چې خپل قوم مو پرېښی او زمونږ او د موجوده ادیانو څخه مو یو هم ندی منلی؟ حضرت جعفر بن ابي طالب ﷺ د مسلمانانو په نماینده ګۍ په ځواب کې ورته وویل: اې پاچا مونږ د جاهلیت په تیارو کې ژوند کاوه، د بتانو عبادت مو کاوه او مرداري به مو خوړلې، فساد او فحشا عمومیت درلود، د خپلوی اړیکې مو شلولې، د ګاونډي حقوق مو نه پېژندل، د زور خاوندانو به د بېوزلو وینې زبېښلې، مونږ پداسې یو حالت کې وو، چې الله ﷻ زمونږ له منځ څخه رسول ﷺ راته راواستاوه، داسې یو پیغمبر ﷺ چې مونږ یې د توحید او د یو الله ﷻ د عبادت په لور راوبللو او دا یې راته وښودل چې د توحید لاره غوره کړو او دا د تیږو او بتانو عبادت چې مونږ او زمونږ پلرونو کاوه پرېږدو، نو موږ ي رسول ﷺ مونږ ته امر کړی دی، چې رېښتیا به وایو، امانت به ساتو، د خپلوی اړیکې به ټینګې او مضبوطې ساتو، له ګاونډیانو سره به نېکي کوو، له وینې تویولو او جګړو نه به ځان ساتو، د هر ډول فساد او فحشا، دروغو، د یتیم د مال د خوړلو، په پاک لمنو ښځو پسې له تور او تهمت ویلو نه یې په کلکه منع کړي یو، او دا امر یې راته کړی دی، چې یواځې د یوه الله ﷻ عبادت به کوو، له هغه سره به شریک نه پیدا کوو، هغه څه چې یې حرام کړي هغه حرام او هغه څه چې یې روا بللي هغه روا ګڼو او همدا وجه وه چې زمونږ قوم پر مونږ هر ډول ظلمونه پیل کړل، ډېر یې وکړولو، تر څو د الله ﷻ د عبادت څخه مو واړوي او بېرته د بتانو عبادت پیل کړو او هماغه خباثت او جاهلیت ته وګرځو، مونږ یې نه پرېښودو چې خپل دیني شعایر ادا کړو، مونږ یې له خپل دین نه منع کولو، نو مجبور شو چې خپل وطن پرېږدو او ستا وطن ته راشو، مونږ تاسې انتخاب کړي یاست او ستا ګاونډیتوب مو اختیار کړی او دا هیله لرو چې ستا په پاچاهۍ کې به پر مونږ ظلم ونشي، نجاشي ورته وویل له هغه څه نه چې ستاسې رسول الله ﷺ د الله

ﷺ له لوري کوم پیغام راوړی کوم سند او ثبوت له تاسې سره شته، حضرت جعفر ﷺ ورته وویل هو، نجاشي ورته وویل: نو راته یې ولوله: حضرت جعفر ﷺ ورته د (کهیعص) سورت د پیل څو ایتونه ولوستل، نجاشي د دې سورت په اورېدو سره دومره وژړل چې ږیره یې لمده شوه، اساقفه (دیني عالمانو) هم د قرانکریم په اورېدو سره وژړل، بیا نجاشي ورته وویل: قسم په الله ﷻ چې دا او هغه څه چې حضرت عیسی ؑ راوړی، دواړه له یوه منبع څخه سرچینه اخلي، بیا یې عمرو بن العاص او عبدالله بن ابي ربیعه ته وویل: ځئ ولاړ شئ، قسم په الله ﷻ چې دوی به تاسې ته ونه سپارم دواړه روان شو، عمرو بن العاص عبدالله بن ابي ربیعه ته وویل چې سبا ته به یې ورباندې ورک کړم عبدالله بن ابي ربیعه ورته وویل چې هغوی هم خپلوان لري داسې مه کوه خو عمروبن العاص سبا ته نجاشي ته وویل: اې پاچا ایا ته خبر یې چې دا مهاجرین د حضرت عیسی ؑ په هکله څه وایي؟ نجاشي هغوی راوغوښتل او پوښتنه یې ورڅخه وکړه، چې د حضرت عیسی ؑ په هکله څه عقیده لرئ؟ هغوی اول وویرېدل خو بیا یې په رښتیا ویلو اتفاق وکړ، حضرت جعفر ﷺ ورته وویل: مونږ د حضرت عیسی ؑ په هکله هغه څه وایو چې زمونږ نبي ﷺ راته راوړي دي، مونږ وایو چې حضرت عیسی ؑ د الله ﷻ بنده او رسول دی او د الله ﷻ روح او هغه کلیمه ده چې پاک لمنې او پېغلې مریمې ته یې القاح کړې وه، د دې خبرې په اورېدو سره نجاشي د ځمکې څخه یو ډکې را اوچت کړ او ویې ویل: قسم په الله ﷻ چې حضرت عیسی ؑ لدې نه چې تاسو وویل د دې ډکي په اندازه هم اخوا دېخوا ندی، بیا یې مسلمانانو ته وویل: ځئ تاسې زما په ملک کې په امن کې یاستئ که چا درته بد وویل جریمه به شي، درې ځله یې دا خبره تکرار کړه، زه دا نه خوښوم چې تاسو ته تکلیف ورسوم، د قریشو دا توطئه شنډه شوه، مکر او فریب یې ونه چلېده، بالاخره پدې فکر کې شول، چې رسول اکرم ﷺ له خپل دعوت څخه وګرځوي او که نه نو اعدام به یې کړي، خو پدې لاره کې ستر خنډ ابو طالب ؤ، ځکه هغه د خپل وراره تر خوا ولاړ ؤ، د قریشو له ظلمونو څخه یې خوندي ساته او د هغه ننګه او ملاتړ یې کاوه.

# اسراء او معراج النبي ﷺ

"سبحن الذي اسرى بعبده ليلا من المسجد الحرام الى المسجد الاقصى الذى بركنا حولهُ لنريهُ من ايتنا انهُ هو السميع البصير". (سورة بنی اسراییل)

ترجمه: پاکي ده هغه الله ﷻ ته چې خپل بنده په شپه کې د مسجد حرام (کعبې) څخه مسجد اقصی (بیت المقدس) ته بوت چې د هغه ګرد چاپېره مونږ برکت نازل کړی دی، د دې لپاره چې مونږ هغه ته خپلې نښې ورښکاره کړو همغه الله ﷻ اورېدونکی او لیدونکی دی.

پداسې حال کې چې د حضرت محمد ﷺ دعوت او تبلیغ د ظلم او ستم په منځ کې د بري په لاره چټک ګامونه وهل او د فتحې او افق په لېرې کنارو کې د ستورو رڼا په ښکاره کېدو وه، په همدې وخت کې د معراج پېښه رامنځته شوه، د دې پېښې د نېټې په هکله اهل سیر(تاریخ پوهان) مختلف نظرونه لري:

۱- د معراج پېښه د حضرت محمد ﷺ د بعثت په دولسم کال د هجرت څخه (۱۲) میاشتې د مخه د روژې په میاشت کې واقع شوېده.

۲-د نبوت په (۱۳) کال د هجرت څخه (۱) کال او دوه میاشتې د مخه محرم میاشت کې واقع شوېده.

۳-او بل روایت کې د نبوت په (۱۳) دیارلسم کال د هجرت څخه یو کال د مخه د ربیع الاول په میاشت کې واقع شوېده، ابن القیم رحمه الله وایي: د صحیح روایت مطابق حضرت محمد ﷺ جسما پداسې حال کې چې په براق سپور او حضرت جبرائیل ﷺ ورسره ملګرې ؤ، د مسجد الحرام څخه بیت المقدس ته بوتلل شو، هلته کوز شو، براق یې د جومات دروازې د یوې کړکۍ سره وتاړه او نبیانو علیهم السلام ته یې لمونځ ورکړ، بیا په همدې شپه د بیت المقدس څخه د دنیا اسمان ته پورته شو، حضرت جبرائیل ﷺ د دروازې خلاصولو اجازه وغوښته دروازه ورته بېرته شوه، هلته یې حضرت ادم ﷺ ولید، سلام یې ورباندې واچوه، هغه د سلام ځواب او ښه راغلاست ورته ووایه او د حضرت محمد ﷺ په نبوت یې اقرار وکړ، د حضرت ادم ﷺ په ښي خوا کې ورته د شهیدانو او په کیڼه خوا کې ورته د بدبختانو ارواح ګانې وښودل شوې، بیا دوهم اسمان ته وخېژول شو، هلته یې حضرت یحیی بن زکریا او حضرت عیسی بن مریم علیهم السلام وکتل، هغوی هم د سلام ځواب او ښه راغلاست وروسته د ده په نبوت اقرار وکړ، بیا دریم اسمان ته پورته شو، هلته یې حضرت یوسف ﷺ سره ملاقات وکړ، هغه هم د سلام ځواب او ښه راغلاست وروسته د ده په نبوت اقرار وکړ، په څلورم اسمان کې یې د حضرت ادریس ﷺ سره ملاقات وکړ، د سلام ځواب او ښه راغلاست وروسته یې د ده په نبوت اقرار وکړ، په پنځم اسمان کې حضرت هارون بن عمران ﷺ سره یې ولیدل، د سلام ځواب او ښه راغلاست وروسته یې د ده په نبوت اقرار وکړ، بیا شپږم اسمان کې یې حضرت موسی بن عمران ﷺ سره ملاقات وکړ، د سلام ځواب او ښه راغلاست وروسته یې د ده په نبوت اقرار وکړ، کله چې حضرت محمد ﷺ مخ په وړاندې روان شو، حضرت موسی ﷺ وژړل، پوښتنه ترې وشوه، چې ولې ژاړې؟ هغه وویل: پدې ژاړم، چې زما څخه وروسته یو ځوان په نبوت مشرف شوی دی، چې زما د امت په نسبت به د ده زیات امتیان جنت ته داخلېږي، بیا یې اووم اسمان کې حضرت ابراهیم ﷺ سره ملاقات وکړ، هغه هم د سلام ځواب او ملاقات وروسته د ده په نبوت اقرار وکړ، بیا سدرة

المنتهی ته بوتلل شو، بیا ورته بیت المعمور وښودل شو، بیا د پاک الله ﷻ مبارک حضور ته بوتلل شو، حضرت پیغمبر ﷺ خپل الله ته دومره نږدې شو چې د دوو لیندیو د لرګي په اندازه او یا لدې نه هم کمه فاصله پاتې وه، همدلته الله ﷻ هغه څه چې حضرت محمد ﷺ ته وحې کول وحې کړل او (۵۰) لمونځونه یې ورباندې فرض کړل او بیا حضرت محمد ﷺ راستون شو، حضرت موسی ﷺ ترې پوښتنه وکړه، چې الله ﷻ په څه مامور کړې؟ حضرت محمد ﷺ په ځواب کې وویل: چې الله ﷻ د (۵۰) لمونځونو امر راته وکړ، حضرت موسی ﷺ ورته وویل: ستا امت د (۵۰) لمونځونو توان نه لري، خپل الله ﷻ ته ورشه او لږو لمونځونو هیله ترې وکړه، حضرت محمد ﷺ حضرت جبرائیل ﷺ ته د مشورې په شکل ولیدل، هغه وویل صحیح ده، بیا د الله ﷻ حضور ته ورغلل او لس (۱۰) لمونځونه یې کم کړل، بیا حضرت محمد ﷺ راښکته شو، حضرت موسی ﷺ یې خبر کړ، حضرت موسی ﷺ ورته وویل: بیا خپل الله ﷻ ته ورشه او د اسانۍ سوال وکړه، پدې ترتیب د حضرت محمد ﷺ او الله ﷻ او حضرت موسی ﷺ تر منځ تله او راتله وو، چې فقط پنځه لمونځونه پاتې شو، حضرت موسی ﷺ ورته د بیا ورتللو وویل: حضرت محمد ﷺ ورته وویل: نور له الله ﷻ څخه راته شرم او حیا راځي زه ورڅخه راضي او ورته تسلیم یم کله چې حضرت محمد ﷺ لږ لرې لاړ نو، اواز شو، چې ما خپله فریضه نافذه کړه او په خپلو بنده ګانو مې تخفیف او اساني وکړه.

په همدې سفر کې د حضرت محمد ﷺ د سینې څیرېدلو (شق الصدر یا شرح الصدر) پېښه هم شوېده او حضرت محمد ﷺ په دې ځل ډېر شیان لیدلي دي.

۱: حضرت محمد ﷺ ته شیدې او شراب وړاندې شول، هغه شیدې غوره کړې، نو ورته وویل شول فطرت دې غوره کړ او په یاد ولره که چېرې دې شراب غوره کړي وی، نو امت به دې بې لارې شوی وای.

۲- حضرت محمد ﷺ په جنت کې (۴) رودونه ولیدل، چې دوه یې ظاهري او دوه نور یې باطني وو، ظاهري د نیل او فرات رودونه وو، معنی دا چې د حضرت محمد ﷺ رسالت به د نیل او فرات په حاصلخېزو ځمکو کې خورېږي او پشت په پشت به د اسلام پیروان وي او دا معنی یې نده چې د دې دواړو رودونو اوبه له جنت څخه راوځي.

۳- حضرت محمد ﷺ د دوزخ مالک ولید، هغه نه خندل او نه یې په مخ د خوشحالۍ څه نښې او نښانې ښکارېدې او جنت یې هم ولید، هغه کسان یې هم ولیدل، چې په ظلم او ناحقه د یتیمانو مالونه خوري، حضرت محمد ﷺ په تګ او راتګ کې د مکې د خلکو هغه قافله هم ولیده او د هغوی څخه یې اوبه هم وڅښلې پداسې حال کې چې د کاروان خلک ټول

ویده وو او د هغه لوښي سر يې همداسې پټ پرېښود چې همدغه خبره هم د اسراء د شپې په سهار د حضرت محمد ﷺ د صدق او رېښتنولۍ يو دليل شوی دی.

ابن قيم رحمه الله وايي: کله چې سهار شو حضرت محمد ﷺ خپل قوم ته د پورته ذکر شوو لويو نښانو حالات بيان کړل، هغوی دروغ وګڼل او ظلمونه يې نور هم زيات کړل، بيا يې د حضرت محمد ﷺ څخه وغوښتل، چې دوی ته د بيت المقدس حالات بيان کړي، پدې وخت کې الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره حضرت محمد ﷺ ته بيت المقدس راښکاره کړ او ټولې نښې نښانې يې ورته بيان کړې، هغوی ونشو کړای چې د پيغمبر ﷺ خبرې رد کړي، همدارنګه قريشو ته د دوی د کاروان خبره هم وکړه او دوی ته يې د کاروان د راتګ نېټه هم وښودله او هغه اوښ چې د کاروان سرکې را روان ؤ د هغې نښې يې هم ورته وويلې، دا ټول حقيقت څرګند شو، بيا هم دا طاغي او باغي قوم حق ته تسليم نشول او حضرت ابوبکر صديق ﷺ ته همدې وخت کې د صديق لقب ورکړل شو، ځکه ټول قوم دروغ وګڼله او حضرت ابوبکر صديق ﷺ تصديق کړه، د اسراء او معراج د پېښې په هکله د الله ﷻ دا قول کافي دی: "لنريه من ايتنا". (۱:۱۷)

يعنې چې هلته وښايو مونږ دغه حضرت محمد ﷺ ته ځينې د دلايلو د قدرت خپل څرنګه چې د اسراء کيسه فقط يو ايت کې ياده شوېده بيا يې هغوی د ښته متوجه کړي دي چې دا قران تر ټولو څخه نېغې لارې ته لارښوونه کوي، کېدای شي چې د قران کريم لوستونکي داسې وګڼي چې د دواړو تر منځ څه ارتباط نشته، خو حقيقت داسې ندی، بلکې د اسراء سفر د بيت المقدس په طرف يهودانو ته يو سبق ورکوي، چې د يهودانو د جرايمو او جنايتونو له امله نور دوی د بشريت رهبري نشي کولای او د انساني امت د قيادت او مشرتابه څخه لرې شو، يقينا ثابته شوه چې د ابراهيمي دعوت د دواړو مرکزونو (مکې او بيت المقدس) منصب الله ﷻ خپل وروستي پيغمبر حضرت محمد ﷺ ته سپاري، اوس هغه وخت رارسېدلی دی، چې معنوي قيادت به د يوه امت څخه بل امت ته وسپارل شي، داسې امت چې نېکي او اصلاح يې شعار او حضرت محمد ﷺ يې د لارښوونکې قران کريم په وحې مشرف دی او د قيادت پيل مهم دليل په بيت المقدس کې ټولو انبياو عليهم السلام ته امامت او لمونځ ورکول هم وو.

# د عقبه بيعت

د نبوت په (۱۱) يوولسم کال د حج د فريضې اداکولو په وخت کې د يثرب څخه (۲) تنه مکې ته راغلل او د حضرت محمد ﷺ په پيغمبرۍ او د الله ﷻ په وحدانيت يې ايمان راوړو او حضرت محمد ﷺ سره يې ژمنه وکړه چې د حضرت محمد ﷺ رسالت خپل قوم ته رسوي د دې شپږو تنو نومونه په لاندې ډول دي.

۱- حضرت ابو الهیشم بن تیهان ﷺ.
۲- حضرت اسعد بن زراره ﷺ.
۳- حضرت عوف بن حارث ﷺ.
۴- حضرت رافع بن مالک بن عجلان ﷺ.
۵- حضرت قطبه بن عامر ﷺ.
۶- حضرت جابر بن عبد الله بن رئاب، د دوی د فعالیت نتیجه دا شوه چې د نبوت په (۱۲) دولسم کال د حج په موسم کې چې په (۶۲۱) م کال د جولايي د میاشتې سره سمون خوري (۱۲) تنه د حضرت محمد ﷺ حضور ته راغلل چې لدې جملې څخه پنځه کسان تېر کال هم راغلي وو او حضرت جابر بن عبد الله ﷺ پدې کال نه ؤ راغلی او د پاتې اوو کسانو نومونه دادي:
۱- حضرت معاذ بن الحارث بن غفرا ﷺ له بني نجار کورنۍ نه (خزرج).
۲- حضرت ذکوان بن عبد القیس ﷺ له بني زریق کورنۍ نه (خزرج).
۳- حضرت عباده بن الصامت له بن غنم ﷺ کورنۍ نه (خزرج).
۴- حضرت یزید بن ثعلبه ﷺ د بني غنم له ملګرو (حلیفانو) نه (خزرج).
۵- حضرت عباس بن عباده بن نضله ﷺ له بني سالم کورنۍ نه (خزرج).
۶- حضرت ابو الهیشم بن التهیان ﷺ له بني عبد الاشهل کورنۍ نه (اوس).
۷- حضرت عویم بن ساعده ﷺ له بني عمرو بن عوف کورنۍ نه (اوس).

دی کسانو په منی یعنې د عقبی خوا کې د حضرت محمد ﷺ ملاقات وکړو او حضرت محمد ﷺ سره یې د داسې خبرو بیعت وکړو، چې وروسته د مکې د فتحې په وخت کې د ښځو څخه د همغو خبرو بیعت واخیستل شو، چې دې بیعت ته بیعت النساء (د ښځو بیعت) وايي: حضرت محمد ﷺ وفرمایل: راشئ له ما سره پدې بیعت وکړئ چې د الله ﷻ سره به هیڅ شریک نه نیسئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، خپل اولادونه به نه وژنئ، بهتان به نه کوئ، په ښو کارونو کې به زما نافرماني نه کوئ، چاچې پدې خبرو پوره عمل وکړ، نو اجر یې په الله ﷻ دی او که څوک له دې امورو څخه په کوم یو مرتکب شو، یعنې پدې هکله یې په کوم څه کې زما له امر سرغړونه وکړه او بیا یې دنیا کې د هغه عمل جزا ولیده، نو همدا د ده لپاره کفاره ده او که چا لدې امورو کوم یو تر سره کړ، یعنې د دې کارونو څخه د کوم یو مرتکب شو، بیا الله ﷻ د هغه پرده وکړه، نو د ده معامله د الله ﷻ سره ده، که د جزاء اراده یې وکړه جزا به ورکړي او که یې د عفوې اراده وکړه نو عفوه به ورته وکړي، حضرت عباده بن صامت وايي: چې پدې شیانو مو بیعت ورسره وکړ او په بل روایت کې د جمع صیغه راځي یعنې نو په همدې شیانو مو بیعت ورسره وکړ.

د بیعت او حج څخه وروسته يې حضرت مصعب بن عمیر ﷺ يې دې خلکو سره د خپل لومړني سفير په توګ يثرب (مديني منورې) ته واستاوه چې مسلمانانو ته د اسلام احکام او هدايات ورزده کړي او د يثرب خلکو ته د اسلام تبليغ وکړي، حضرت مصعب بن عمير ﷺ يثرب کې د حضرت اسعد بن زراره ﷺ په کور کې تر هغه اوسېده، دواړو په ډېر شوق او محبت سره د اسلام تعليم او تبليغ کولو، تر څو د ټول يثرب په کور او کلي کې اکثريت مسلمانان شول او د نبوت په (۱۳) ديارلسم کال د حج موسم څخه د مخه حضرت مصعب بن عمير ﷺ مکې ته راستون شو او خپل ستر لاربنود حضرت محمد ﷺ ته يې د فتحې زېرى ورکړ او د يثرب د خلکو د دفاعي صلاحيتونو او ښو استعدادونو څخه يې خبر کړ، د نبــوت په (۱۳) ديارلسم کال د حج په وخت (۲۲۱)م کال د جون په مياشت کې د يثرب څخه (۷۰) تنه مسلمانان د زياتو مشرکانو سره د حج اداکولو په خاطر مکې ته راغلل، د عقبى دويم بيعت د ذى الحجې په (۱۲) دولسمه شپه په منى (د جمره عقبه) خوا کې وشو، چې ټول (۷۳) تنه سړي او (۲) ښځـــې وې، چې يوه د بني مازن بن نجار نسيه د کعب لور حضرت (ام عماره) رضى الله تعالى عنهــا او بله د بنـــي سلمه قبيلې حضرت اسماء د عمـــرو لـــور (ام منيع) رضى الله تعالى عنهــا وه، د دې غـــونډې لـومړنې خبرې کوونکى حضرت عباس ﷺ ؤ.

# په دارالندوه کې د قریشو غونډه

کله چې قریش پوه شول چې حضرت محمد ﷺ د اصحابو ، اولادونه او مالونه یثرب ته ولېږل، نو قهر او غصه یې نوره هم زیاته شوه، ځکه خپله عقیده او اقتصاد یې په خطر کې ولیده او د مسلمانانو صبر، حوصله، زړورتیا ورته څرګنده وه او هم ورته د هغوی د ستر لارښود حضرت محمد ﷺ اخلاق او امانتداري معلومه وه، چې د اوس او خزرج قبیلو تر منځ اختلافات به ختم کړي، له همدې امله یې د دواړو قبیلو څخه زړونه رپېدل او هم یې د یثرب د ستراتیژیک موقعیت څخه وېره درلوده، ځکه دا لاره د سرې بحیرې په غاړه د یمن څخه تر شام پورې غځېدلې ده، چې د تجارت لپاره یې ډېر اهمیت درلود، د مکې خلکو هر کال د (۲۵۰۰۰) طلایي دینارو په بیعه د سوداګرۍ مالونه تبادله کول، دې سوداګرۍ د طائف او نورو سیمو څخه پرته پدې لاره صورت نیوه، دا ټول فکرونه او خیالات یې زړه کې ښکته پورته کېدل، نو ځکه یې پرېکړه وکړه، چې په هره وسیله کېږي حضرت محمد ﷺ له منځه یوسي، د نبوت په (۱۳) دیارلسم کال د صفر المظفر د میاشتې (۲۲) چې د (۶۲۱) م کال د دسمبر(۱۲) تاریخ سره سمون خوري د پنجشنبې په ورځ په دارالندوه کې د قریشو د ټولو قبیلو استازو خطرناکه غونډه وکړه، چې د قریشو د ټولو قبیلو استازي په کې شامل وو او په لاندې ډول وو.

۱-ابوجهل بن هشام د بني مخزوم د قبیلې څخه.

۲- جبیر بن مطعم، حطیمه بن عدي او حارث بن عامر (د بني نوفل بن عبد مناف) د قبیلې څخه.

۳- د ربیعه زامن شیبه او عتبه، ابو سفیان بن حرب د بني عبدالشمس قبیلې څخه.

۴- نضر بن حارث د بني عبدالله د قبیلې څخه دوی د مخه په حضرت محمد ﷺ باندې د اوښې پرېوان هم اچولی ؤ.

۵- ابو بختري بن هشام، زمعه بن اسود او حکیم بن حزام له بني اسد بن العزا قبیلې څخه.

۶- د حجاج زامن نبیه او منبه د (بني سهم) له قبیلې څخه.

۷- امیه بن خلف له بني جمح له قبیلې څخه.

ټول د وعدې سره سم راغلل ګوري چې شیطان هم یو قیمتي چپنه اغوستې، دوی پوښتنه وکړه چې دا مشر څوک دی شیطان وویل: چې زه د (نجد د قبیلې) مشر یم، د غونډې څخه خبر شوم راغلم، کېدای شي ښه مشوره درکړم، ټولو مختلف نظرونه ورکړل، شیطان به ردول اخر د مشرکانو مشر ابوجهل وویل: د هرې قبیلې څخه باید یو یو تکړه ځوان غوره کړو او په یو وخت به په حضرت محمد ﷺ باندې د تورو حمله وکړو، چې وینه تو بېدل او مرګ به

يې د ټولو قومونو لخــوا صورت ونيسي او عبد مناف کورنۍ به د مقابلې څخه عاجــزه او دیت به قبول کـــړي، د نجد مشر (شیطان) وويل دا نظر د منلو وړ او زما هم دا نظر دی.

# د حضرت محمد ﷺ د کور محاصره (کلابند کول)

قریشو د حضرت محمد ﷺ د قتل لپاره (۱۱) مشران وټاکل:

۱- ابو جهل بن هشام.
۲- حکم بن ابي العاص.
۳- عقبه بن ابي معیط.
۴- نضر بن حارث.
۵- امیه بن خلف.
۶- زمعه بن اسود.
۷- طعیمه بن عدي.
۸- ابو لهب.
۹- ابي بن خلف.
۱۰- نبیه بن حجاج.
۱۱- منبه بن حجاج.

د هجرت په وخت کې حضرت محمد ﷺ حضرت علي ته وويل ته زما په بستره کې پداسې حال کې ویده شه، چې زما دا شین خضرمي څادر به واغوندې، تاته به د هغوی له لاسه هیڅ ضرر ونه رسېږي، حضرت محمد ﷺ د دوی په سرونو یو موټی شګلنه خاوره وشیندله، الله ﷻ د هغوی سترګې ورباندې ړندې کړې، د حضرت ابو بکر ؓ کور ته ورغی، دواړه د یمن په طرف روان او غار ثور ته ورسېدل، کله چې دواړه د حضرت ابوبکر صدیق ؓ د کوره ووتل د مخه حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها لخوا ورته خواړه برابر شو، د نبوت په (۱۴) کال د صفر المظفر د میاشتې (۲۷) شپه چې (۶۲۱) م کال د دسمبر (۱۳\۱۲) سره سمون خوري غار کې حضرت ابوبکر صدیق ؓ ټول سوري بند کړل او یو سوري ته یې پښه کېښوده، خو په پښه څه شي وچیچه، هیڅ حرکت یې ونه کړ، ځکه حضرت محمد ﷺ یې په غېږ کې سر ایښی ؤ، چې راویښ نشي، خو له ډېره درده یې د سترګو اوښکې تویې شوې، حضرت محمد ﷺ په مبارکو لاړو د حضرت ابوبکر صدیق ؓ درد ورک او ارام شو، د جمعې، شنبې او یکشنبې شپې یې په غار کې وې، دوی پسې پلټوونکي د غار خولې ته ورغلل، خو الله ﷻ یې مل ؤ، امام بخاري رحمه الله د حضرت انس ؓ او هغه د حضرت

ابوبکر صدیق ﷺ څخه روایت کوي وایي: زه له نبي کریم ﷺ سره غار کې وم، کله مې چې سر پورته کړ، ګورم چې د خلکو پښې راته ښکاري، نو حضرت محمد ﷺ ته مې وویل که د هغوی کوم یو هسې لاندې وګوري مونږ وویني، ده وفرمایل: چپ یا ابوبکره ! مونږ دوه یو او دریم مو الله ﷻ ملګری دی.

# حضرت محمد ﷺ د غار ثور څخه د یثرب (مدینې) په لور

کله چې حضرت محمد ﷺ ته د مشرکانو د خطر څخه اطمینان حاصل شو، نو حضرت ابوبکر صدیق ﷺ سره د مشورې وروسته یې د غار ثور څخه د وتلو تیاری ونیوه، دوی د مخه د پیسو په مقابل کې د عبدالله بن اریقط اللیثي سره یثرب (مدینې) ته د رسولو خبره کړې وه، نوموړی پدې وخت کې مشرک ؤ، خو د دوی پرې اعتماد ؤ، د وعدې موافقه یې د دوشنبې په شپه د هجرت په لومړي کال د ربیع الاول په لومړۍ نېټه چې (۶۲۱) م کال د دسمبر له (۱۲) نېټې سره سمون خوري اوښې یې د غار خولې ته راوستې، حضرت محمد ﷺ او حضرت ابوبکر صدیق ﷺ روان شو، چې د عامر بن فهیره او عبدالله بن اریقط په ملګرتیا د بحر د غاړې په لاره حرکت وکړ، حضرت ابوبکر صدیق ﷺ وایي: مونږ روان شو او خلک زمونږ په لټه کې وو، خو د سراقه بن مالک پرته هېچا ونه موندو، خو کله چې سراقه رالنډ شو ما حضرت محمد ﷺ ته وویل دا دی پلټونکې راورسېد، حضرت محمد ﷺ وفرمایل: "لا تحزن ان الله معنا".

ترجمه: مه غمجن کېږه یقینا الله ﷻ مونږ سره دی.

پدې وخت کې د سراقه ابن مالک اس په ځمکه وغورځېد، چې سراقه ترې هم وغورځېد، سراقه د حضرت محمد ﷺ څخه پناه وغوښته او هغوی هم پناه ورکړه او بیا یې یو لیک ورکړ، چې د فارس تاج به ستا لاس ته درځي او ته به ډېر ژر مسلمان شې، وروسته له دې حضرت محمد ﷺ د مدینې په لور حرکت وکړ، د یثرب په لاره یو قومي مشر ابو بریده د انعام ګټلو په خاطر د حضرت محمد ﷺ مخه نیولې وه، مګر کله چې یې د هغه مبارکې خبرې واورېدې د خپل قوم د (۷۰) اویا تنو سره مسلمانان شول او اعلان یې وکړ چې اوس به دا دنیا د عدل او انصاف سره ودانه شي.

په همدې ترتیب حضرت زبیر بن عوام ﷺ د مسلمانانو سوداګرو سره د شام څخه راګرځېدلی ؤ، په لاره کې د حضرت محمد ﷺ او حضرت ابوبکر صدیق ﷺ سره یوځای شو او دواړو حضراتو ته یې یوه یوه جوړه سپینې جامې ورکړې.

# د حضرت محمد ﷺ قبا ته رسېدل

د نبوت په (۱۴) څوارلسم او د هجرت په (۱) لومړني کال د ربیع الاول په (۸) اتمه چې د (۶۲۱) کال د دسمبر له (۲۳) نېټې سره سمون خوري حضرت محمد ﷺ قبا ته ورسېد.

عروه بن البیر وايي: یثرب (مدینه) کې د حضرت محمد ﷺ د راتلو اواز پورته شوی وه، هره ورځ به خلک د حره خواته وتل تر غرمې به هلته وو، بیا به کورونو ته تلل، پدې ورځ هم کورونو ته ستانه شول، یو یهودي خپل برج ته ختلی ؤ، ګوري چې حضرت محمد ﷺ او حضرت ابوبکر ﷺ په سپینو کالو کې چې د سپوږمۍ په شان رڼا کوي راروان دی، نو یو ځل يې د خولې څخه په لوړ اواز داسې الفاظ ووتل: اې عربو ! هغه دی ستاسو مشر چې د څو ورځو راپدې خوا يې انتظار کوئ راورسېد، د دې اواز په اورېدو سره ټول مسلمانان د حضرت محمد ﷺ د هر کلي لپاره د هغوی مخې ته روان شول.

ابن قیم رحمه الله وايي: چې د قبا او سېدونکی بني عمرو بن عوف چې د قبا اوسېدونکی ؤ، سره د نورو مسلمانانو د تکبیر ناري وهلې او حضرت محمد ﷺ د هغوی مخه کې په وقار او عزت سره ولاړ ؤ او د الله ﷻ له طرفه دا ایت شریف نازل شو:

"فان الله هو مولاه و جبریل و صالح المؤمنین والملائکه بعد ذالک ظهیر". (۴:۶۲)

ترجمه: بېشکه الله ﷻ تاسې مرسته کوونکی دی او جبرائیل ﷺ او صالح مؤمنان او بیا ملائکې هم ستاسې مرسته کوونکې دی.

حضرت محمد ﷺ د نبوت څخه وروسته په قبا کې د لومړني جومات تهداب کېښود او لمونځ يې پکې اداء کړ، کله چې حضرت محمد ﷺ قبا ته راورسېد، د جمعې د لمانځه د ادا کولو وروسته چې حضرت ابوبکر صدیق ﷺ هم ورسره ؤ، خپلو ماماخېلو (بني نجار) کورنۍ ته خبر ورکړ او د یثرب په لور روان شول، هغوی يې مخې ته راووتل، خو کله چې بني سالم بن عوف ته ورسېدل، د جمعې د لمانځه وخت شو، او په (بطن وادي) کې د (۱۰۰) تنو په شمول يې د جمعې لمونځ اداء کړ، چې اوس په هغه ځای کې جومات جوړ شوی دی او دغه مسجد د مسجد جمعه په نوم یادېږي.

# دریم فصل

## حضرت محمد ﷺ مدینه کې

حضرت محمد ﷺ د جمعې د لمانځه څخه وروسته د یثرب په لور وخوځېده، کله چې یثرب ته ورسېده، له همدې نېټې څخه وروسته یثرب د مدینة النبي ﷺ په نوم یاد شو.

د مدینې انصارو هر یوه هیله درلوده چې حضرت محمد ﷺ ورسره لاړ شي، خو حضرت محمد ﷺ ورته وفرمایل: چې زما اوښه پرېږدئ، دا د الله ﷻ له لوري ماموره شوېده، اوښه په هغه ځای چو شوه، چې اوس پرې نبوي ﷺ جومات ودان شوی دی، مګر حضرت محمد ﷺ د اوښې څخه کوز نشو، اوښه بېرته پاڅېده لږه وړاندې ولاړه، یوې خوا او بلې خوا ته یې وکتل بېرته راوګرځېده او په خپل لومړني ځای کې چو شوه، حضرت محمد ﷺ د اوښې څخه راکوز شو، دغه سیمه د حضرت محمد ﷺ د ماما ګانو بني نجار د کورنۍ ځای ؤ، هر چا ورته د تللو پېشنهاد کولو خو حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه وار ړومبی کړ او د حضرت محمد رضي الله عنه بار او کجاوه یې کورته یوړله، حضرت محمد ﷺ وفرمایل: مسافر د خپل بار او کجاوې سره وي او حضرت اسعد بن زراره رضي الله عنه راغی، د اوښې پړی یې ونیو اوله ځان سره یې بو تلله او همده سره وه.

د حضرت محمد ﷺ د هجرت څخه څو ورځې وروسته ام المؤمنین حضرت سوده رضی الله تعالی عنها او دواړه لوڼې حضراتې (فاطمه او کلثوم) رضی الله تعالی عنهما حضرت اسامه بن زید رضي الله عنه، ام ایمن له حضرت عبدالله بن ابوبکر رضي الله عنه، حضرت عایشه رضی الله تعالی عنها او د حضرت ابوبکر رضي الله عنه نوره کورنۍ مدینة النبي ﷺ ته راورسېدل.

حضرت عایشه رضی الله تعالی عنها وایي: کله چې حضرت محمد ﷺ مدینې منورې ته ورسېده، حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت بلال رضي الله عنه سختې تبې ونیول او مکه به یې ډېره یادوله، نوموړې بي بي وایي: چې زه حضرت پیغمبر ﷺ ته ورغلم او لدې څخه مې خبر کړ، نو هغه مبارک وفرمایل: اې الله ته زمونږ په زړونو کې د مکې په شان او یا د هغې څخه هم زیات د مدینې محبت پیدا کړې او اې الله د مدینې فضا او هوا صحیح او صحت ورکونکې کړې، د دې ځای غلو دانو کې برکت واچوې او د دې ځای تبه لدې ځایه اوچته کړې او په جحفه کې یې وغورزوې، الله تعالی د حضرت محمد ﷺ دعا قبوله کړه او د مدینې اب و هوا یې بدله کړه او هم د غلو دانو او ابادۍ پربماني د مدینې د خلکو په برخه شوه.

## د اسلامي دولت جوړېدل او په مدینه کې

# د یهودانو سره معاهده

رسول اکرم ﷺ مدینې ته د هجرت څخه وروسته د نظام، سیاست او عقیدې د یووالي په واسطه د نوي اسلامي ټولنې تهداب ونه ټینګ کړل، بیا یې خپله توجه نامسلمانو قوتونو سره د اړیکو ټینګولو خوا تـه واړولـه، د حضرت محمد ﷺ هیله او هدف دا ؤ، چې ټول انسانان د امن، نېک بختۍ، خیر او ارامۍ تر سیوري لاندې ژوند وکړي او دا یې غوښتل چې مدینه او شاوخوا سیمې تر یوې فدرالي ادارې لاندې سره راټولې کړي او د زغم، عفوې او تېرېدنې داسې قوانین یې جوړ کړل، چې د هغه وخت د تعصب او افراط نه ډکې دنیا کې یې تصور غوندې هم نشو کېدای، د مدینې نژدې ګاونډیان یهودان وو، هغوی په زړه کې د مسلمانانو سره دښمني درلوده، خو په خوله یې د دښمنۍ اظهار نه ؤ کړی، نو حضرت محمد ﷺ هغوی سره یو تړون لاسلیک کړ، چې یهودانو ته د دین او مال پوره ازادي ورکړل شوې وه او له دوی سره له دښمنۍ، مال او جایداد ضبطولو او فراري کولو د سیاست نه بالکل ډډه شوې وه، د دې تړون مهم ټکي دا وو:

۱- د بني عوف یهودان به پخپل او مسلمانان به پخپل دین عمل کوي.

۲- مسلمانان او یهودان هره ډله به د خپلو مصارفو مسئولیت په غاړه لري.

۳- هر څوک چې د دې تړون د کوم طرف په خلاف جګړه اعلان کړي د تړون ټول اطراف به د هغه په خلاف دریږي.

۴- د دې معاهدې د تړون کوونکو اړیکې به د خیر غوښتنې او نصیحت رسولو په بنا وي، نه د ګناه په اساس.

۵- هیڅوک به هم د خپل ملګري په وجه مجرم نه شمېرل کېږي.

۶- د مظلوم سره به مرسته او مدد کېږي.

۷- تر څو چې جګړه روانه وي یهودان به مسلمانانو سره د جنګ په مصرف کې ونډه اخلي.

۸- د معاهدې په ټولو اړخونو باندې په مدینه کې فتنه، فساد او وینه تویول حرام دي.

۹- که د معاهدې د اړخونو تر منځ کوم اختلاف پیدا شي، فیصله به یې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ کوي.

۱۰- قریشو او همکارانو ته به یې پناه نه ورکول کېږي.

۱۱- هر څوک که په مدینه حمله وکړي، نو د معاهدې ټول اطراف به د خپل طرف دفاع او ساتنه کوي.

۱۲- دا تړون د ظالم او مجرم لپاره د پناه او نجات ځای نشي کېدای.

پدې تړون کې مدینه او شاوخوا سیمې د یو فدرالي حکومت تر اداري لاندې راټولې شوې، د دې حکومت مرکز مدینه او ټبر یې رسول الله ﷺ ؤ، چې واک او خبره د مسلمانانو پکې چلېده او پدې سره مدینه واقعاً د مسلمانانو او اسلام مرکز وګرځېده.

# د مکې مشرکینو سره د حضرت محمد ﷺ غزاګانې

لومړی: قریشو د نبوت د لومړۍ ورځې څخه تر هجرت پورې د اسلام په ختمولو پسې پښې رابړ وهلې وې، خو په ټولو دسیسو او پروګرامونو کې ناکام شول او د اسلام د مقدس دین وړانګې د هرې ورځې په تېرېدو سره پیاوړې کېدې او انګازې یې د نړۍ لېرې پرتو سیمو ته ورسېدلې، نو ځکه د مکې قریشو ته د جنګ او جګړې څخه بله لار پاتې نه وه او د مسلمانانو پر ضد یې په هر راز توطئو او دسیسو لاس پورې کړ، چې مسلمانان پرې ختم او مغلوب کړي، تر څو اسلامي حکومت او اسلامي مذهبي عقیده له پښو وغورځوي.

دویم: د مکې یو سردار جابر فهري د مدینې په څړ ځای باندې یرغل وکړ او د مدینې د مسلمانانو څاروي یې ځان سره بوتلل، چې دغه عمل اسلامي حکومت او مسلمانانو ته د جګړې مثال ورکوي.

دریم: د هجرت په دویم کال د رجب په میاشت کې چې د (۶۲۳)م کال سره سمون خوري، یو کوچنی ټولګی د عبدالله بن جحش په مشرۍ د مکې او طایف تر منځ علاقې (بطن نخله) ته د حضرت محمد ﷺ د هدایت له مخې ولېږه او د انحضرت ﷺ له خوا ورته هدایت شوی ؤ، چې جګړه ونه کړي، مګر د دې وګړو له خوا د قریشو په یوه کوچنۍ قافله برید وشو، چې یو تن د (عمرو حضرمي) په نوم مړ او دوه تنه یې بندیان ونیول او په دې ترتیب د مدینې د مسلمانانو او قریشو تر منځ د سولې فضا خړه پړه شوه.

څلورم: د هجرت په دویم کال د جمادی الاول او جمادی الاخر په میاشت کې چې د (۶۲۳)م کال له نومبر او دسمبر د میاشتو سره سمون خوري، حضرت محمد ﷺ له (۱۵۰) یا (۲۰۰) تنو مهاجرینو سره د قریشو د هغې قافلې مخې ته ووت، چې د مکې نه د شام په لور د ابو سفیان په مشرۍ روانه او ډېر قیمتي مالونه په کې وو، پیغمبر ﷺ ته خبر راورسېد، چې قافله شام ته رسېدلې ده، نو هغه بېرته د اصحابو ﷺ سره مدینې منورې ته راستون شو او د همدې کال د رمضان په میاشت کې د (۳۱۳) یا (۳۱۴) تنو اصحابو ﷺ سره چې ډېره کمه وسله یې په اختیار کې درلوده، د همدې قافلې مخې ته چې د شام نه د مکې په لور روانه وه ووتل، په دې قافلې کې زر اوښان چې د پنځو سوو زرو طلایي دینارو سامان پرې بار وو او یو اخې (۴۰) تنو د کاروان د امنیت دنده په غاړه درلوده، ابوسفیان خبر شو چې حضرت

محمد ﷺ د دوی مخې ته راوتلی دی، فوراً یې ضمضم بن عمرو غفاري تـه پیسـې ورکـړې او مکې ته یې ولېږه ، چې قـریش د مسـلمانانو پـه قصـد خبـر کـړي، د دې خبـر پـه اورېـدو سـره قریش په قهر او غصه شول، ځکه چې د دومره ډېر مال څخه محرومېدل اود یـو لـوی مـلا ماتوونکي نظام، سیاسي او اقتصادي ضررونو اعلان یې وکړ، د جنګ له پاره دې د قریشو ټولې قبیلې خپل تیاری څرګند کړ، یوائې ابو لهب په خپل ځای یو پوروړی د جګړې له پاره واستوه او د قریشو ځینې نورې قبیلې هم د لارې په اوږدو کې د ځان سره ملګرې کړې، د قریشو د پوځ شمېر (۱۳۰۰) تنو ته ورسېده، په دې پوځ کې (۱۰۰) اسونه بې شمېره اوښـان او جنګي سامان الات موجود وو او د نارینؤ تر څنګ د قریشو ښځو هم د جګړې لـه پـاره خپـل تیاری څرګند کړ، ابو سفیان چې کله د مسـلمانانو د نیت څخه خبر شو، نـو د خپـل کـاروان لاره یې تغیر کړه او خپل مالونـه یې مکې تـه امانت ورسول، قریشـو تـه یې خبر ولېږه چې کاروان په پوره ډول د مسلمانانو د یرغل څخه بچ شوی دی، مګر ابوجهل پرېکړه وکـړه چې مسلمانان به د ماتې سره مخامخ کوي.

حضرت محمد ﷺ لا د لارې په اوږدو کې روان ؤ، چې مکې ته د کاروان د رسېدو او د قریشو د لښکر د جنګ خبر ورسېده، نو پرېکړه یې وکړه، چې بې له جنګه بله چـاره نشـته، نو ځکه یې صحابه کرامو ﷺ ته مخ ور وګرځاوه، چې مونږ بایـد قریشـو تـه خولـه مـاتوونکی ګذار ورکړو، ځکه که قریش همداسې پرېښودل شي، د هغوی غرور به نور هم زیـات شي او په عسکري ډګر کې به د هغوی نوره هم زړورتیا په برخه شي او د اسلام سپېڅلی دین به د یو بې روحه کالبوت شکل ولري او د اسلام دښمنانو ته به نوره همد د دې زمینه برابره شي چې د مسلمانانو پر ضد په تخریب کارانه عملونو لاس پورې کړي او د فساد نیلۍ بـه وزغلـوي، پیغمبر ﷺ د شورا غونډه جوړه کړه، چې د اصحابو کرامو ﷺ سره د جګړې پـه اړه مشـوره وکړي او د انصارو نظر هم معلوم کړي، ځکه چې انصار د عقبې د دویم تړون له مخې مجبور وو چې په داخل د مدینه کې د مسلمانانو دفاع او ملګرتیا وکړي، نـه خـارج د مـدینې څخـه، کله چې حضرت محمد ﷺ د ټولو خلکو او حاضرینو نظرونه واورېدل و یې فرمایل: اې خلکو ستاسې رایه څه ده؟

د انصـارو مشـر حضـرت سـعد بـن معـاذ ﷺ د حضـرت محمـد ﷺ پـه خبـره پـوه شـو او پوښتنه یې وکړه چې اې د الله ﷻ پیغمبره ستاسې مطلب مونږ د مدینې خلـک (انصـار) یـو، حضرت سعد بن معاذ ﷺ ورته په ځـــواب کې وویل: مونږ په تـا ایمـان راوړی چې بـر حقـه د الله ﷻ پیغمبر او زمونږ رسول یې او په دې شاهدي ورکوو چې هر پیغـام چې تـه یې مـونږ تـه راوړې هغه حق او د الله ﷻ پیغام دی او په دې مو د خپل اطاعت وعده له تـا سـره کـړې ده هـر څه چې غواړې مونږ خپل رضایت څرګندوو، حضرت محمد ﷺ د حضرت سعد بن معاذ ﷺ په

دې خبره ډېر خوشحاله شو او بیا یې حاضرینو ته مخ وروګرځوه: چې اې خلکو حضرت سعد بن معاذ ﷺ څه وایي؟ ټولو خلکو په یو اواز وویل چې رښتیا خبره کوي، زمونږ د ټولو همدغه نظر دی، بیا حضرت محمد ﷺ حاضرینو ته چې شمېر یې (۳۱۴) تنو ته رسېده د جګړې له پاره د بدر نومې ځای په لورې د حرکت امر وکړ، چې هلته د مکې قریشو خپل سنګرونه نیولي وو، په دې توګه ټول مسلمانان د حضرت محمد ﷺ په رهبرۍ د مدینة النبوي ﷺ څخه د بدر په لور حرکت وکړ، تر څو د قریشو هغه کبر او غرور مات کړي کوم چې دوی ته د خپلو پلرونو او نیکونو څخه په میراث پاتې ؤ.

# د بدر لویه غزا

بدر د یوې سیمې نوم دی چې د مکې معظمې او مدینې منورې تر منځ د مدینې شمال ته اتیا کیلو متره لېرې پرته ده، دغه غزا د هجرت په دویم کال د روژې د مبارکې میاشتې په اوولسمه نېټه چې د (۶۲۳)م کال سره سمون خوري هغه وخت پېښه شوه، چې کله د قریشو هغه کاروان چې د شام نه د مکې په لور روان ؤ او د مسلمانانو د منګولو څخه خوندي پاتې شو، مګر بیا هم قریشو د مسلمانانو سره د جنګ کولو اراده کړې وه، تر څو اسلامي لښکرو ته چې شمېر یې (۳۱۳) یا(۳۱۴) تنو ته رسېده او (۷۱) اوښان او (۲) اسونه یې درلودل د بدر په لور د حضرت محمد ﷺ له خوا ورته امر ورکړ شو، لښکر د بدر یوې چینې ته ورسېده او هلته یې لښکر کوټ جوړ کړ، پیغمبر ﷺ د مسلمانانو صفونه د مثلث په شکل جوړ او برابر کړل او هغوی یې جنګ ته تشویق او د شهادت په لور یې وهڅول او داسې به یې فرمایل: قسم په هغه ذات چې زما نفس یې په لاس کې دی هغه سړی چې نن ورځ د هغوی سره جنګ کوي بیا وژل کېږي، که چېرې صابر او د اسلامي عقیدې معتقد وي او په جګړه کې مخامخ ووژل شي، نو حتمي او ضرووري به یې الله ﷻ جنت ته داخلوي، کله چې د مسلمانانو لښکر د جګړې له پاره منظم او ځای په ځای شو، حضرت سعد بن معاذ ﷺ حضرت محمد ﷺ ته د خاصو او عاجلو حالاتو سره د مقابلې او احتمالي ماتې د جبران له پاره د قیادت د مرکز جوړولو وړاندیز وکړ او بیا مسلمانانو په یو اتفاق د خپلو لښکرو د ادارې په خاطر یو مرکز او لښکر کوټ جوړ کړ، تر څو له دغه ځای څخه اسلامي لښکرې په منظمه توګه رهبري او بریالیتوب د مسلمانانو په برخه شي، چې وروسته مسلمانانو په یو اتفاق د پیغمبر ﷺ له پاره یو ځای چې د خپل فوځ څارنه وکړای شي غوره کړ، حضرت سعد بن معاذ ﷺ وویل: که چېرې دښمن برلاسی شو، نو دا به هغه څه وي چې مونږ یې غواړو، بیا یې حضرت محمد ﷺ ته مخ وګرځاوه چې اې پیغمبره ﷺ! هغه څوک چې زمونږ د قوم مدینة النبي ﷺ د خلکو څخه پاتې شوي هغوی له تاسې سره ډېره مینه او علاقه لري، که چېرې هغوی خبر وای چې تاسې د دښمن سره مخامخ کېږئ، نو هیڅکله به هم هغوی په دغه

حساس وخت کې مونږ یوائې نه وو پرېښې، الله ﷻ به د هغوی د پاک نیت په خاطر په دغه جهاد کې ستاسې ملګرتیا کوي، حضرت محمد ﷺ د حضرت سعد ﷺ ستاینه وکړه او د خیر دعاګانې یې ورته وفرمایلې، مسلمانانو خپل عظیم قاید ته د جګړې د ډګر شمال ختیځ ته د غونډۍ په سر په یوه لوړه څوکه د پوځ د څارنې او کنټرول په خاطر ځای جوړ کړ، تر څو اسلامي لښکر د همدې ځایه کنټرول او اداره کړي، د اسلام لښکر مازیګر ناوخته بدر سیمې ته ورسېده او هملته یې شپه تېره کړه، د اسلام لښکر د مدینة النبي ﷺ څخه د بدر د ناوې په لور چې اتیا میله لرې پرته ده، کله چې هلته ورسېدل پر دغه شپه حضرت سعد بن معاذ ﷺ د ځینو نورو مسلمانانو او انصارو په ملګرتیا د حضرت محمد ﷺ څارنه او ساتنه کوله، سبا سهار حضرت محمد ﷺ فوځ مؤظف کړ او د حضرت سعد بن معاذ ﷺ تر مشرۍ لاندې د انصارو ځوانانو یو ګروپ منظم شو، چې د لښکرو د عمومي قوماندانۍ ساتنه او حفاظت وکړي، لښکر شپه سبا کړه او پیغمبر ﷺ لښکر ترتیب او تنظیم کړ، د جګړې په ډګر کې ګرځېده او په خپل مبارک لاس یې اشاره کوله، چې دا د فلاني او دا د فلاني د وژل کېدو ځای دی او بیا خپلې څپرې ته ولاړ ابوبکر صدیق ﷺ هم ورسره ؤ او خپل مبارک لاسونه یې د الله ﷻ دربار ته پورته کړل او ویې ویل: اې الله له تاسې څخه خپله وعده او ترون غواړم، که دا ټولګی مړ شي نو بیا به د ځمکې پر مخ ستا عبادت څوک ونه کړي، په سجده پرېوت د یو څه ځنډ څخه وروسته حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ورته وویل: اې د الله ﷻ پیغمبره حتما الله ﷻ خپله وعده پوره کوي، په داسې حال کې چې د دواړو خواو تر منځ جنګ شروع شو او د مسلمانانو تعداد د قریشو د تعداد نه درې ځلې لږ ؤ او د جنګ وسله یې هم د مقایسې وړ نه وه، خو مسلمانانو د ملایکو په ملګرتیا په پوره مېړانه جګړه وکړه، تر څو بریالیتوب د مسلمانانو په برخه شو، د قریشو څخه (۷۰) تنه مړه او (۷۰) تنه یرغمل ونیول شول، چې په وژل شوو کسانو کې د قریشو د فوځ مشر ابوجهل، عتبه او حتی نور مشران هم شامل وو، د مسلمانانو څخه (۱۴) تنه چې (۶) تنه یې مهاجرین او (۸) تنه یې انصار وو شهیدان شول، حضرت محمد ﷺ او اصحاب ﷺ د شهیدانو د ښخولو څخه وروسته د مدینې په لور ستانه شول او د بندیانو په هکله د یو لړ صلاح مشورو څخه وروسته یې بندیان د فدیې په مقابل کې او ځینې بندیان یې د لسو تنو ته د لیک او لوست د زده کولو په مقابل کې خوشې کړل.

# د احد د غزا اسباب او علتونه

د بدر په ډګر کې د قریشو او د هغوی د مشرانو مړینې د هغوی په زړونو کې د انتقام او غچ اخیستلو لمبې بلې کړې وې، خو د دې په خاطر چې د مسلمانانو نه غم پټ په خپلو زړونو کې وساتي او د بندیانو فدیه یې هم وځنډوله، خو په دې ټولو صلاح مشوره کړې وه چې له مسلمانانو سره د بدر د جنګ د غچ اخیستلو په خاطر د یوې بلې خونړۍ جګړې د

منځته راتګ له پاره لاره هواره کړي او د همداسې یوې لویې جګړې له پاره یې تیاری پیل کړی ؤ، عکرمه ابن ابي جهل، صفوان بن امیه، ابو سفیان بن حرب او عبد الله بن ربیعه په دې کار کې د ټولو نه مخکې وو، د جګړې د تیاري له پاره قریشو لومړی هغه کاروان چې د بدر غزا د هغې په سبب پښنه شوه، د هغې ټولې پیسې دې د بدر د جګړې په انتقام ولګېږي او ټولو خلکو چې په دې کاروان کې مالونه درلودل دا خبره ومنله.

په دویم قدم کې قریشو احبیش، کنانه او د تهامه قبیلو خلک خپلې خوښې ته پرېښودل، چې د مسلمانانو خلاف په جګړه کې ځومره مالي او بشري برخه اخلي، د مختلفو طریقو څخه یې کار واخیسته او هغوی یې جګړې ته وهڅول.

په دریم قدم کې یې شاعران وګمارل چې حماسي شعرونه ووایي او خلک جنګ ته تشویق کړي چې د هغې د جملې څخه یو تن شاعر صفوان بن امیه چې د بدر په غزا کې بندي شوی ؤ او مسلمانانو د فدیې پرته په دې شرط پرېښی ؤ، چې بیا به د مسلمانانو پر خلاف اقدامات نه کوي، هغه هم خپله وعده ماته کړه او د مسلمانانو پر خلاف یې په شعر ویلو پیل وکړ.

# د احد غزا

د بدر له غزا څخه یو کال نه ؤ تېر شوی چې قریشو د بلې جګړې له پاره خپل تیاری ونیولو، قریشو (۳۰۰۰) درې زره تنه د جګړې له پاره په (۶۲۴) م کال چې د دریم هجري کال د شوال د میاشتې لسمې نېټې سره سمون خوري د احد سیمې ته خپل ځانونه ورسول، چې په دې لښکر کې (۱۷۰) تنو ښځو د عتبه د لور او ابو سفیان مېرمن هندې هم د خپل پلار د غچ اخیستلو په خاطر برخه اخیستې وه، د جګړې عمومي قوماندان ابو سفیان او د سپرو قوماندان خالد بن ولید او مرستیال یې عکرمه د ابو جهل زوی ټاکل شوی ؤ.

حضرت محمد ﷺ ته چې کله خبر ورسېده هغه صحابه کرام ﷺ راوغوښتل او د حالاتو څخه یې ورته معلومات ورکړل، بالاخره د اوږدو خبرو او مشورو څخه وروسته (۱۰۰۰) تنه مسلمانان په وسلو سمبال د احد په لور وخوځېدل، خو په لاره کې د عبد الله بن سلول منافق په لارښوونه (۳۰۰) تنه د حضرت محمد ﷺ له ملګرتیا څخه جلا شول او (۷۰۰) تنه مسلمانان د احد د جګړې په نیت روان شول، حضرت محمد ﷺ خپلې لښکرې منظمې کړې او د هر یوه ګروپ له پاره یې یو مشر وټاکلو.

او حضرت عبد الله بن جبیر ﷺ په مشرۍ (۵۰) تنه غشي ویشتونکي یې د احد د غره په کنډو کې مؤظف کړل، چې د مسلمانانو څارنه وکړي، تر څو دښمن په مسلمانانو د شاه له خوا برید ونه کړي او تر هغه به د دغه ځای څارنه کوي، تر څو پورې چې مونږ ځواب نه وي درلېږلی او په هر حالت کې زمونږ د بریالیتوب او یا ناکامۍ تر وخته به تاسې خپل ځای نه

خوشې کوئ، د قریشو بیرغچي طلحه بن ابي طلحه العبدري لومړی شخص ؤ چې د جګړې اور تـه یـې لمـن ووهلـه، پـه نومـوړي قـریش ډېـر نازېـدل، دغـه ملحـد د حضـرت زبیـر بـن عوام(رض) لخوا ووژل شو، حضرت محمد ﷺ چې د زبیر بن عـوام(رض) دا مېړانـه ولیـده د تکبیر نارې یې ووهلې، د احد په ورځ حضرت محمد ﷺ خپله توره ابو دجانه ته ورکړه او هغه په ډېره مېړانه دغه توره وکاروله، تر څو د ښځو په ګروپ برابر شو او غوښتل یې چې هنده د ابوسفیان مېرمن ووژني، ورته معلومه شوه چې ښځه ده بیا یې د هغې د وژلو نه ډډه وکړه، سخته جګړه روانه وه او قریش په تېښته مجبور شول او مسلمانان بریالي شول او د غنیمت په را ټولولو یې شروع وکړه، کله چې غشو ویشتوونکو ولیدل چې مسلمانان غنیمت راټولوي د غره څخه ټول راښکته شول او یوازې د حضرت عبدالله بن جبیر ﷺ په شمول (۱۰) تنه پاتې شول، په دغه وخت کې قریشو په غره کې د مسلمانانو شمېر کم ولیده، نو د خالد بن ولید په مشرۍ یې په هغوی حمله وکړه، هغه لس کسان یې هلته په شهادت ورسول او د شا له خوا یې په مسلمانانو حمله وکړه او جنګ بیا تود شو اوازه خپره شوه چې حضرت محمد ﷺ په شهادت رسېدلی دی، دغې اوازې د مسلمانانو مورال کمزوری کړ، په داسې حال کې چې هغه حضرت مصعب بن عمیر ﷺ په شهادت رسېدلی ؤ، ځکه د هغه څېره هم د حضرت محمد ﷺ څېرې ته ورته وه، جنګ د پیغمبر ﷺ خوا ته راورسېده او حضرت ابو دجانه ؤ چې د حضرت محمد (ص) څخه یې دفاع کوله او غشي د حضرت ابو دجانه په شا لګېدل، بل ورسره حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ ؤ چې تقریبا هغه ورځ یې (۱۰۰۰) غشي ویشتلي وو، همدا راز هلته نسیبه ام عماره الانصاریه وه، چې د زخمیانو خړوبول یې پرېښودل توره یې راواخیستله او جنګ یې پیل کړ، په توره وهلو او غشو ویشتلو یې پیل وکړ، تر څو د حضرت محمد ﷺ نه دفاع وکړي، په پای کې په غاړې ټپي شوه، په دې وخت کې د دښمن یو تن په پیغمبر ﷺ ګذار وکړ، چې هغه مبارک ټپي شو او مبارک غاښ یې په شهادت ورسېده، مسلمانانو ته بیا اوازه ورسېده، چې پیغمبر ﷺ ژوندی دی، ټول پرې راټول شول او بیا کامیابي د مسلمانانو په برخه شوه، په دې جګړه کې (۱۴) تنه قریش ووژل شول او (۷۰) تنه مسلمانان په شهادت ورسېدل، په شهیدانو کې د حضرت محمد ﷺ تره حضرت حمزه ﷺ هم شامل ؤ، چې هنده بنت عتبه یې سینه څیرې کړه او زړه یې ورته د ګوګل څخه راوویست او خوله یې پرې ولګوله، د احد جګړه چې مسلمانانو ګټلې وه او د قریشو د ماتې سبب ګرځېدلې وه مګر مسلمانان د حالاتو د څارنې پرته د غنیمت په راټولولو مصروف وو او د قریشو وسله والو پرې د شا له خوا برید وکړ او په مسلمانانو یې ډېر ورځ توره شپه وګرځوله، د احد په جګړه کې د ماتې اصلي علت د مسلمانانو بې احتیاطي وه، نو ځکه په دې جګړه کې الله ﷻ لومړی بریالي کړل او بیا د مسلمانانو د اشتباه په وجه بېرته الله

ﷻ د امتحان سره مخامخ کړل، دا هر مؤمن مسلمان ته په کار دي چې هیڅکله خپل الله ﷻ له یاده ونه غورځوي او د هغه او د رسول ﷺ د امر نافرماني ونه کړي، ځکه چې بریا لیتـــوب او زوال د الله ﷻ له لوري ټاکل کېږي.

# د احزاب د جنګ علتونه

لومړی: د احد د غزا په ورځ ابوسفیان مسلمانانو ته اخطار ورکړی ؤ چې دا د بدر د غزا غـچ او انتقام دی، راتلونکي کال ته به بیا مونږ او تاسې په بدر کې مقابله کوو، خو د وچکالۍ او قحطۍ په سبب هغه جنګ په څلورم هجري کال کې ونشو، په پنځم کال د وعدې سره سم ابوسفیان یو لوی لښکر د مسلمانانو سره د جګړې له پاره چمتو کړ.

دویم: سره له دې چې مسلمانانو د احد په غزا کې ډېر زیان لیدلی ؤ خو بیا هم پـه شا او خوا سیمو کې د اسلام دین په چټکې سره خپرېده او خلکو د اسلام مقدس دین منلو د عربو اکثره خلک د اسلام د مقدس دین په حقانیت د هرې ورځې په تېرېدو پوهېـــدل او پـه حضرت محمد ﷺ یې ایمان راوړلو او د اسلام لښکر یې پیاوړي کاوه د عربو اکثره او خصوصاً د قریشو مشران د اسلام د مقدس دین په پرمختګ ډېر ښه پوهېدل، نو ځکه یې د اسلام د مقدس دین او مسلمانانو پر ضد د یوې لویې خونړۍ جګړې له پاره خلک رابلل تر څو د عربستان پـه شبه جزیره کې او خصوصا مدینة النبي ﷺ او خوا او شا سیمو کې مسلمانان له منځه یوسي او یا ورته ستونزې او مشکلات پیدا کړي.

دریم: پـه مدینـه منوره کې چې کوم اسلامي دولت د هجرت د (۶۲۱)م کال څخه وروسته تاسیس شوې ؤ د عربو اکثریت خلک د مخالفینو پـر خلاف یو ځای کېدل او اسلامي حکومت یې پیاوړې او غښتلي کاوه د اسلام مقدس دیـن د خلکو وژل، د خلکو لوټول او د حرامو څخه منع کول چې دغه اقدام د عربو قبایلي نظامونه او مذاهب د خطر سره مخامخ کړي وو، ځکه ټولو سیمه ایزو قبایلو د مسلمانانو پر ضد په اقداماتو لاس پورې کړ او پـه مدینه منوره یې د عمومي یرغل له پاره خپل تیارې پیل کړ.

څلورم: مسلمانانو غوښتل چې قریش خبرو ته اړ کړي او د دښمنې څخه یې منع کړي، ځکه یې د شام تجارتي لاره پرې بنده کړه تر څو هغوی د فشار لاندې راولي، د مکې قریشو تـه دوه لارې پاتې وې یعنې یا به مسلمانان په مدینه کې په رسمیت پېژني او یا به د هغوی سره جګړه کوي تر څو د شام او مکې تجارتي لاره خلاصه کړي قریشو د خپلو نیکونو او پلرونو په پیروی پرېکړه وکړه چې جګړې تـه خپل ځانونه چمتو کړي او د اسلام د مقدس دیـن د پېروانو سره یې د خبرو ډډه وکړه.

# د احزاب غزا (خندق غزا)

د احزاب غزا د خندق په نامه سره هم یادېږي نوموړې غزا د هجرت په پنځم کال د شوال په میاشت کې چې د (۶۲۶)م کال سره سمون خوري پېښه شوې ده کله چې بني نضیر له وطن څخه وشړل شول څو مشران یې د قریشو سره د خبرو اترو له پاره مکې ته لاړل تر څو هغو ېد مسلمانانو سره د جګړې له پاره ولمسوي قریشو ورسره موافقه وکړه او په دې ترتیب بنو فراره، بنومره او اشجع هم ورسره موافقه وکړه او ټولو د مدینې منورې په لور یو لوی لښکر برابر او د حرکت امر یې ورکړ کله چې حضرت محمد ﷺ د دې پېښې څخه خبر شو، له ټولو مسلمانانو سره یې مشوره وکړه، چې بالاخره د هر اړخیزو خبرو وروسته حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه د مدینې منورې څخه د خندق د کېندلو نظر ورکړ او د ټولو حاضرینو مسلمانانو د تایېد وړ وګرځیده دغه خندق د مسلمانانو له خوا په پنځه ورځو کې وکېندل شو، کله چې قریش د خپلو متحدینو په ملګرتیا مدینې منورې ته راورسېدل او د مدینې څخه یې ګرد چاپېره خندق ولیده نو حېران پاتې شو او ویره ورسره پیدا شوه ځکه چې عربو هیڅکله دا ډول تکتیکي جګړه نه وه کړې د قریشو قبیلې د مسلمانانو سره د سولې تړون مات کړ قریشو او د هغوی متحدینو یو ه میاشت مدینه منوره کلابنده وساتله او کوښښ یې کاوه چې مدینې ته د ننوتلو لاره پیدا کړي، مګر مسلمانانو مدینې ته د ننوتلو په وخت کې په هغوی یرغلونه کول او نه یې پرېښودل چې مدینې ته ننوځي په هر ترتیب یوه شپه څو تنه سپاره د عبدود پهلوان په ملګرتیا د خندق څخه پورې وتل او د مسلمانانو څخه یې د مقابلې هیله وکړه چې حضرت علي رضی الله عنه د مقابلې له پاره حاضر شو چې لږ وخت وروسته عبدود پهلوان او د هغې ملګري یو په بل پسې ووژل شول چې د مسلمانانو د غه اقداماتو د قریشو مورال کمزورې کړ، نو ځکه د قریشو په خپلو متحدینو بې باوري پیدا شوه او د غه پیاوړې جبهه د ځینو قبیلو د مشرانو د بې اتفاقۍ سبب وګرځیده او قریش یو اځې پاتې شول په همدې ترتیب یوه شپه د الله ﷻ په امر یوه سخته سیلۍ راوالوته چې خېمې یې د سیلۍ د ګړندي توب په وجه ونړېدې او ټول سامان الات یې په خندق کې ولوېدل او د الله ﷻ په حکم سره قریش تېښتې ته مجبور شول او په دې ترتیب د الله ﷻ په مرسته او ملګرتیا په دغه وخت کې مسلمانان بریالي او مورال یې نور هم پورته شو او په دې وپوهېدل چې الله ﷻ تل د دوی ملګرې دی د خندق غزا د تلفاتو جګړه نه بلکه دا د اعصابو جګړه وه که څه هم په دې غزا کې سختې نښتې نه دي شوې خو بیا هم د اسلامي تاریخ د پرېکنده جګړو څخه شمېرل کېږي په دې غزا کې قریشو ماتې وخوړله دې غزا دا خبره په اثبات ورسوله چې د عربو هیڅ ځواک د دې توان او قدرت نه لري چې د مدینې منورې کوچنې اسلامي حکومت له منځه یوسي ځکه ټولو عربو او د مسلمانانو مخالفینو

ولیدل چې قریشو د خپلو متحدینو په ملګرتیا او د خپل ټول مادي او معنوي قوت په ملاتړ ونشو کړای چې پر مدینه یرغل وکړي او هغه ځای کې اسلامي ځوان حکومت د زوال سره مخامخ کـړي د مخالیفینو په ماتې د الله ﷻ په مرسته مسلمانانو ډېر پیاوړي شول او په قریشو او شاوخوا سیمو او قبیلو باندې یې یرغلونه پیل کـړل او د هرې ورځې په تېرېدو مسلمانان د حضـرت محمد ﷺ په مشـرۍ پیاوړي کېـدل او د خپلې واکمنۍ سیمې یې ارتې او پراخه کولې.

# د یهودو سره د حضرت محمد ﷺ غزاګانې

د یهودو درې قبیلې بني نظیر، بني قینقاع او بني قریظه د مدینې په شا او خوا کې اوسېدلې او د اسلام د راتګ څخه مخکې د مدینې ریاست او حکومت د همدوی تر لاس لاندې ؤ دا خلک عموما شتمن او کسب ګر ؤ د قینقاع قبیلې خلک د زرګرۍ او وسلې جوړولو په کار بوخت ؤ، دا قبیله په زړورتیا او مېړانه کې هم ډېره مشهوره وه او تل یې د جګړې له پاره تیارې درلوده خلکو څخه به یې د خپلو قرض پېسو په بدل کې پېغلې انجونې هم اخیستې په دې ترتیب د خپلو شتو په درلودلو یې د یثرب په خلکو راز راز ظلمونه کول او د یثرب (مدینې) خلک یې د خپلو شتو، زړورتیا او وسلو په زور د خپلې اغېزې لاندې ساتل، د هجرت څخه وروسته د یهودیانو قدرت د زوال سره مخامخ شو ټول یهودیانو په خوله څه نه ویل مګر په زړه کې د مسلمانانو او خصوصا د حضرت محمد ﷺ سره کینه ساتله او حضرت محمد ﷺ چې د یهودو د دین پېروانو ته په درنه سترګه کتل ځکه چې د دې دین پېروانو هم د الله ﷻ عبادت کاوه نو ځکه یې د هغوی سره د سولې تړونونه لاسلیک کړل مګر هغوی ظاهرًا دا تړونونه لاسلیک کړل مګر په پټه یې د مسلمـانانو پرضـد هر راز توطیې او د سیسـې جوړولـې اود هغوی پرضد یې قومونه او قبیلې رالمسولې.

# د بني قینقاع غزا

د بدر غزا د فتحې څخه وروسته د یهودو په زړونو کې کینه نوره هم زیاته شوه نو ځکه یې په څرګنده دښمني پیل کړه او د مدینې میثاق یې مات کړ یو ځلې د یو انصاري ښځه د یو یهود له خوا بې عزته شوه انصارو هغه یهودي مړ کړ او یهودیانو هغه انصاري شهید کړ د دې پېښې څخه وروسته حضرت محمد ﷺ یهودیانو ته وویل چې د الله ﷻ د قهر او غضب انتظار کوي حضرت محمد ﷺ د یهودو د پرېکړو په مثاپل کې د مسلمانانو سره د مشورې وروسته د یهودو دغه قبیله د هجرت په دوهم کال د کوچني اختر په میاشت کې چې د (۲۲۳) م کال سره سمون خوري د مدینې منورې پرېښودو ته مجبور او د شام په لور یې حرکت وکړ.

# د بني نضير غزا

بني نضير د يهودو يوه قبيله وه چې په مدينه کې اوسېدل يوه ورځ حضرت محمد ﷺ د بني نضيرو کلاګانو ته ورغې او د يو ديوال د سيوري لاندې ودرېده يهوديانو دا وخت غنيمت وګاڼه او يو سړي يې بام ته پورته کړ چې د پاسه پرې لوې کاڼي راوغورځوي خو دا د سيسه يې حضرت محمد(ص)ته رسوا شوه او پيغمبر د هغه ديوال څخه ليرې ولاړ او په دې توګه د يهودو دغه د سيسه شنډه شوه، کله چې مدينې ته ورسېده اصحابو کرامو ته يې خبر ورکړ چې بني نضيروو د هغه د قتل توطيه جوړه کړې وه خو په خپل مقصد کې ناکام شول حضرت محمد ﷺ د هجرت په څلورم کال چې (۶۲۴)م کال سره سمون خوري محمد بن مسلمه يهودو ته وليږه اود هغوی څخه يې وغوښتل چې د مدينې څخه بهر ووځي حضرت محمد ﷺ نه غوښتل چې د يهوديانو په وژنه لاس پورې کړي ځکه چې هغوی هم د اسماني او الهي کتاب پېروانۀ او پيغمبر ﷺ د ډېرې حوصلې او زغم څخه وروسته هغوی ته د وتلو اجازه ورکړه، بنو نضير قبيلې د مدينې څخه د بهر وتلو له پاره ځانونه چمتو کړل مګر د مسلمانانو د مخالفينو له خوا ورته د مرستې ډاډ ورکړل شو او هغه پنځلس ورځنۍ مهلت يې وځنډاوه، حضرت محمد ﷺ د بنو نضير قبيله کلابنده کړه د مسلمانانو مخالفينو مرسته يهودو ته ونه رسوله بالاخره مجبور شول چې خيبر ته ولاړ شي.

# د بني قريظه غزا

مخکې د دې خبرې يادونه شوې وه چې کله حضرت محمد ﷺ مدينې ته تشريف راوړ نو لومړې يې د يهوديانو سره تړون وکړ او دوی ته يې د ځان، مال او مذهب په برخه کې خپلواکي او ازادي ورکړه خو کله چې قريشو د يهودو په نامه اخطاريه ليک راوليږلو نو دوی وويريدل د مسلمانانو په خلاف يې دسيسې جوړول پيل او ښکاره مخالفت يې شروع کړ حضرت محمد ﷺ ورته د د وهم تړون بلنه ورکړه خو بني قريظه يهوديانو بلنه ونه منله چې بلاخره د مسلمانانو د وژلو دسيسې يې جوړولې نو محمد ﷺ مجبور شو چې د يهودو دا قبيله هم د مدينې منورې څخه بهر وشړي ځکه چې حضرت محمد ﷺ نه غوښتل چې د اسماني دين پېروان يا په زور د خپل مذهب پېروان کړي او يا هغوی د جګړې په زور تهديد او وويروي خو کله يې چې د احزابو په غزا کې د قريشو او د هغوی د ملاتړ کوونکو مخالفو ملګرتيا وکړه او د مسلمانانو سره يې خپل تړون مات کړ نو د الله ﷻ له خوا ورته امر وشو چې لومړې د بني قريظه د يهودو سره غوځ ه فېصله وکړي، نو ځکه د حضرت محمد ﷺ په امر د بني قريظه سيمه کلابنده کړه دغې محاصرې يوه مياشت دوام وکړ بلاخره يهودو مسلمانانو ته خبر ولېږه چې زمونږ په هکله دی حضرت سعد بن معاذ ؓ پرېکړه وکړي ځکه هغه يې دوست او پخواني ملګرې ؤ، هغې د تورات د حکم سره سمه پرېکړه وکړه چې وسله وال دې ووژل شي د هغوی ښځې او ماشومان دې غلامان وګڼل شي او شتمني دی د مسلمانانو له خوا غنيمت شي په دې جګړه کې (۴۰۰) يهود جنګيالي ووژل شول او په دې توګه د يهودو د درکه مسلمانانو ستونزې حل او فصل شوې.

# د حديبيې روغه او د رضوان بيعت

حديبيه مکې مکرمې ته ډېره نژدې پرته سيمه ده چې هلته د مسلمانانو او قريشو تر منځ د سولې تړون لاسليک شوی دی، د هجرت څخه وروسته مسلمانان د کعبې شريفې د زيارت کولو څخه محروم شوي ؤ او د هغوی په زړونو کې د کعبې شريفې سره ډېره مينه موجوده وه ځکه چې هغه د توحيد او د يو الله ﷻ د عبادت لپاره جوړه شوې وه، د هجرت لومړني کلونه پر مسلمانانو ډېر سخت تېر شول، کله چې مسلمانانو هجرت وکړ، نو څو ځلې يې د مکې قريشو سره جګړې وکړې مسلمانانو د يوې خوا د خپلو خپلوانو د جلا کېدو او د بلې خوا د کعبې شريفې څخه د ليرې والي په صورت کې په ډېر غمجن حالت کې شپې او ورځې تېرولې او هم يې د کورنې غړي په ډېر سخت حالت کې پريښې ؤ او په مدينه کې يې د جلا وطنۍ شپې او ورځې تېرولې په دې اميد چې ډېر ژر به مکه مسلمانان په خپله قبضه کې ونيسي او په ازاده توګه به د خپل الله ﷻ عبادت د الله ﷻ په کور کې ادا کړي

حضرت محمد ﷺ ته د هجرت په (۶) کال چې د (۶۲۲)م کال سره سمون خوري په خوب کې د الله ﷻ له خوا دا زېرې ورکړ شو چې تاسې به کعبې شريفې ته د عمرې له پاره ځې خو وخت يې نه وه ټاکلې شوې چې کله به ځي نو مسلمانانو ته د عمرې له پاره د تياري حکم ورکړ او (۱۴۰۰) تنه مسلمانان د عمرې د ادا کولو له پاره تيار شـــول د قرباني څاروي يې هم د ځانونو سره روان کړل او د مکې په لور وخوځېدل مسلمانانو ته حضرت محمد ﷺ وويل: چې پرته د توري څخه به بله وسله نه را اخلې توره به هم په تيکي کې وي کله چې د عمرې کاروان ذُالحليفه نومې ځای ته ورسېده، نو په اوښانو کې يې د قرباني نښانې وتړلې د احتياط له پاره يې يو تن مخکې مکې ته ولېږه، ترڅو قريش په دې پوه کړي چې مسلمانان پرته د عمرې څخه بل هدف نه لري خو د مکې قريشو د مسلمانانو سره کينې او تعصب څخه کار واخيست د خپلو پلرونو او نيکونو عنعه يې هم تر پښو لاندې کړه او قسم يې وکړ چې حضرت محمد ﷺ به مکې ته د کعبې شريفې د زيارت او طواف کولو لپاره پرې نږدې په همدې خاطر قريشو لوی لښکر برابر کړ او شا او خوا قبيلې يې هم د مرستې له پاره راوغوښتلې، حضرت محمد ﷺ خپل ځان د حديبيې سيمې ته ورساوه دا سيمه مکې ته نږدې پرته وه، بيا يې د مکې خلکو ته ځواب ولېږه، چې مونږ د عمرې لپاره راغلي يو نه د جګړې لپاره د قريشو له خوا عروه بن مسعود د خبرو لپاره حديبيې ته راغې خو د دې خبرو کومه نتيجه ورنکړه هغه بېرته ولاړه وروسته حضرت محمد ﷺ حضرت عثمان ﷺ مکې ته ولېږه چې قريشو ته د خبرو په ترڅ کې قناعت ورکړي مګر قريشو حضرت عثمان ﷺ بندي کړ، په حديبيه کې د مسلمانانو تر منځ دا اوازه خپره شوه چې قريشو حضرت عثمان ﷺ په شهادت رسولی دی، له حضرت محمد ﷺ سره ټولو مسلمانانو په جوش او جذبې سره بيعت وکړ، چې همدې بيعت ته بيعت رضوان وايي او الله ﷻ د دې خلکو څخه ډېر خوشحاله شو، بيا چې اوازه غلطه او حضرت عثمان ﷺ ژوندی راغی، نو قريشو خپل نماينده سهيل بن عمرو چې ډېر چالاک سړی ؤ او عربو کې د خطيب په نامه يادېده راولېږه، قريشو ورته ويلي وو، چې په دې شرط سره تړون کوو چې سږ کال به مکې ته نه ننوځي او بېرته به د مدينې په لور ستنېږي او کال ته به د عمرې له پاره مکې ته راځي د څه خبرو څخه وروسته په لاندې شرطونو روغه وشـــوه.

۱. مسلمانان دې سږ کال بېرته مدينې ته ولاړ شي.

۲. بل کال ته دې دوی مکې ته راشي او يوازې درې ورځې به په مکه کې تېروي پرته له تورو څخه به بل کوم شی ورسره نه وي او توري به هم په تيکو کې وي.

۳. په مکه کې چې کوم مسلمانان پاتي کېږي هغوی د ځان سره نه شي بيولی.

۴. که چېرې د مکې کوم کس مسلمان شي او مدينې ته پناه يوسي، هغه به بېرته د مکې قريشو ته تسليموي او که چېرې د مسلمانانو څخه کوم شخص مرتد شي او په مکه مکرمه کې پاتې کېدل غواړي هغه به بېرته مسلمانانو ته نه سپاري.
۵. د عربو قبيلې دا ازادي لري چې يو د دواړو غاړو څخه چې وغواړي د هر يو سره تړون کولای شي.
۶. لس کاله به قريش او مسلمانان سره جنګ نه کوي او دا تړون به د لسو کلونو لپاره وي.

د سولې د تړون څخه وروسته مسلمانان د درې ورځو پورې په حديبيه کې پاتې شول او بيا بېرته مدينې منورې ته ستانه شول.

# د خيبر غزا

خيبر د مدينې منورې په شمال کې د شام لور ته سل ميله لرې پرته يوه پراخه سيمه ده، چې يهود په کې اوسېدل دا غزا د هجرت په (۷) کال د محرم په مياشت کې چې د (۶۲۷) م کال سره سمون خوري پېښه شوه، کله چې يهود د مدينې منورې څخه وشړل شول، په خيبر کې ټول يهوديان راټول شول او لويې کلاګانې يې جوړې کړې.

دې خلکو د چل او فريب پرته ډېرې زياتې درندې وسلې راټولې او (۱۰۰۰) زړور جنګيالي يې منظم کړل او غوښتل يې چې په مدينه يرغل وکړي نو حضرت محمد ﷺ مجبور شو چې د خيبر د خلکو پر ضد فېصله کوونکې ګام پورته کړي نو د هجرت په ۷ کال د محرم په مياشت چې د (۶۲۷)م کال سره سمون خوري او د (۱۴۰۰) مجاهدينو سره د خيبر په لور ولېږل او په لاره کې يې په لوړ اواز د تکبير نعرې وهلې حضرت محمد ﷺ ورته وېل چې الله ﷻ هر څه ويني او اوري په ټيټ اواز د تکبير نعرې وهي حضرت محمد ﷺ په دې فکر کې ؤ چې د غطفان قبيله د خيبر د خلکو مرستې ته حاضر نشي، نو ځکه يې خپل سامان د خيبر او غطفان تر منځ د رجيع په عادقه نومې سيمه کې پرېښود د غطفان خلکو غوښتل چې د خيبر د خلکو ملاتړ وکړي، مګر د دې وېرې چې دا خطر مونږ ته هم متوجه دی بېرته د خپل تصميم څخه وګرځېدل په خيبر کې (۲) پوځې کلاګانې موجودې وې، چې په درندو وسلو سمبال او د عربو مشهور قوماندان مرحب په کې اوسېده نومورې (۳۰۰۰) زره تنه سپاره جنګيالي په اختيار کې درلودل اسلامي لښکر په ډېر لږ وخت کې (۵) کلاګانې ونيولې، مګر کله چې د قموص پوځې کلا ته ورسېدل نومورې پوځې کلا يې هم محاصره کړه او ډېره اوږده جګړه يې وکړه، خو مسلمانان بريالي نه شول، ځکه چې د مرحب جنګياليو سخته جګړه کوله نومورې جګړې (۲۰) ورځې دوام وکړ بلاخره حضرت محمد ﷺ حضرت علي ؓ د حملې له پاره وټاکلو، د ښمن ووېل زه مرحب يم ډېر زړور تجربه کار او په وسلو سمبال يم حضرت علي ؓ په ځواب کې ورته ووېل: زه هغه څوک يم چې مور را باندې د حيدري زمري

نوم ابښي دی زه د ځنګل د زمري په څېر ډېر هيبت ناک او ويرونکي يم د دې څخه وروسته مرحب را وړاندې شو خو حضرت علي ﷺ پرې داسې ګذار وکړو چې سر يې ورته دوه ټوټې کړ او د توري خرپ يې ټول لښکر واورېد د مرحب د وژل کېدو څخه وروسته يهوديانو ماتې وخوړه او ټول خيبر فتحه شو په دې جګـــړه کې (۱۵) تنه مسلمـــانان په شهادت ورسېدل او (۹۳) تنه يهوديان هم ووژل شول غزا مکمله د مسلمانانو په ګټه پای ته ورسېده او يهوديان له دغه ځای څخه وشړل شول.

# ګاونډيو هېوادونو سره د مسلمانانو اړيکې

په اووم(۷) هجري قمري کال حضرت رسول اکرم ﷺ د ګاونډيو دولتونو د پاچاهانو دربار ته د اسلام د بلنې ليکونه ولېږل، د حبشي بادشاه په نامه يې يو ليک ولېږه او هغه په خوښې سره ايمان راوړ، بيا يې د روم پادشاه هرقل ته حضرت د حيه بن حليفه کلبي ﷺ، اسکندريې بادشاه مقوقس ته حضرت حاطب بن ابي بلتعه ﷺ، د بحرين بادشاه منذر بن ساوي ته حضرت علا بن الحضرمي ﷺ، د عمان بادشاه ته عمرو بن العاص ﷺ، د يمامي بادشاه هوزه بن علي ته يې حضرت سليط بن عامري ﷺ،د دمشق بادشاه حارث بن الثمر غساني ته حضرت شجاع بن وهب ﷺ، جبله بن اميهم ته هم شجاع بن وهب ﷺ، د يمن بادشاه حرث بن عبدالکلال حميری ته حضرت مهاجر بن امي اميه مخزومي ﷺ او د ايران د فارس بادشاه کسری ته حضرت عبدالله بن حزافه سهمي ﷺ په لاس اسلام کې د داخلېدو ليکونه ولېږل، د روم بادشاه هرقل د هغه له سفير سره د سړيتوب او درناوي رويه وکړه او د هغه د ليک درناوی يې وکړ، د سلطنت مينې او د عيسويانو د مخالفت له امله يې په ښکاره اسلام ونه منلای شو، د مصر بادشاه مقوقس د هغه د ليک او قاصد ډېر درناوی وکړ او په ځواب کې رسول الله ﷺ ته ډېره ادبي عريضه وليکله، يو (خلعت) يوه کچره او دوه وينځې يې د هغه په خدمت کې د سوغات په توګه له ليک سره ورولېږلې، همدارنګه منذر بن ساوي د هغه د ليک او استازي ډېر درناوی وکړ، د عمان بادشاه د هغه د ليک له رسېدو سره سم ايمان ومانه، خو د فارس (ايران) کسری د هغه ليک څيرې کړ او له حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ سره يې د بې ادبۍ رويه وکړه، کله چې رسول الله ﷺ د دې وضعې نه خبر شو، نو وې فرمايل چې د کسری سلطنت به همداسې څيرول کېږي، لکه چې د حضرت عمر فاروق ﷺ په زمانه کې د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ او د هغه د ملګرو په وسيله همداسې وشـــول.

# د موته غزا

دا غزا د هجرت په اتم(۸) کال د مکې د فتحې نه وړاندې د جمادي الاول په مياشت کې واقع شوېده هغه داسې چې د بلنې کوم ليکونه چې نبي اکرم ﷺ پاچاهانو ته لېږلي وو، په هغې کې يو ليک د حارث بن عمير ازدي ﷺ په لاس د بصرې حاکم ته ولېږه، حارث بن عميرازدي چې روان شو، لا بصرې ته رسېدلی نه ؤ چې په لاره کې د سوريې سرحد ته نږدې موته نومې ځای کې د هغه ځای حاکم شرجيل ابن عمرو غساني چې د روم د قيصر لخوا د دې سيمې والي ؤ حضرت حارث ﷺ يې ونيوه او پته يې ترې ولګوله، چې د بصرې حاکم ته د انحضرت ﷺ ليک وړې، نو فوراً يې هغه شهيد کړ، د حارث ﷺ د شهادت په خبر سره مسلمانان زيات خفه شول انحضرت ﷺ يوه ډله د مجاهدينو د دې سرکش غساني د ټکولو لپاره ولېږل، د مؤرخينو په وينا که دغه ډله مجاهدين لږې ورځې هم ځنډيلای وای، نو دا احتمال ؤ چې د شام له لورې به په مدينه منوره حمله کېده.

مسلمانانو ته رسول اکرم ﷺ امر کړی ؤ چې له خپلو وسلو سره د حرق مقام کې راټول شي، درې زره تنه په همدغه ځای کې راټول شول او رسول کريم ﷺ د دوی مشري حضرت زيد بن حارث ﷺ ته وسپارله او امر يې وکړ که حضرت زيد ﷺ شهيد شو، نو د لښکر قوماندان به حضرت جعفر بن ابي طالب ﷺ وي او که دا هم شهيد شو، بيا به د لښکر قوماندان حضرت عبدالله بن رواحه وي او که هغه هم شهيد شو، بيا د لښکر هر څوک خوښ وي خپل قومندان دې وټاکي، انحضرت ﷺ پخپله د دې لښکر سره تر يوه ځايه ولاړ ولې بيا وروسته بېرته مدينې منورې ته راستون شو.

حضرت زيد بن حارث ﷺ له خپل لښکر سره تر (معان) نومې ځای پورې پر مخ ولاړ، معان ته چې ورسېده نو خبر راغې چې د موته حاکم شرجيل بن عمروغساني د مسلمانانو د مقابلې لپاره يو لک (۱۰۰۰۰۰) فوځ سره مقابله کوي او د روم قيصر د موته نه لږ وړاندې د بلقاء په دره کې خېمې وهلې دي.د دې خبر په اورېدو سره د اسلام په لښکر کې د فکري وارخطايې نښې ښکاره شوې، مسلمانان تر دوو ورځو پورې په معان کې تم شول او پخپلو منځو کې يې دا مشوره کوله، چې انحضرت ﷺ ته خط واستول شي او د هغه د امر او مرستې انتظار دې وکړای شي، تر اوسه پر کومه ځانګړې رايه پرېکړه نه وه شوې، چې حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ په لوړ اواز سره خلکو ته خطاب کې وويل:ای مسلمانانو ! تاسې د شهادت په لټه کې راوتي ياستی، له کفارو سره، مونږ د شمېر او قوت پو سيله نه جنګېږو، بلکې مونږ د هغه دين په وسيله ورسره جنګېږو چې الله ﷻ مونږ ته پرې شرافت رابښلی دی، نو د موته مقام او د هرقل د لښکرو په لور پرمخ ولاړ شئ، خپل صفونه ښه منظم کړئ او پر مخ ولاړ شئ، نتيجه به يې له دوه حالتو خالي نه وي يا خو به برې وي او يا

شهادت، حضرت زید بن حارث ﷺ چې د حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ دغه شجاعانه خبرې واورېدې په یوه لاس یې نیزه او بل لاس کې یې بیرغ واخیست او پاڅېده، پدې سره په ټولو مجاهدینو کې د شهادت ولوله پیدا شوه، روان شول او موته ته ورسېدل او دواړه لښکرې سره مخامخ شوې، یوې خواته سل زره (۱۰۰۰۰۰) په وسله سمبال فوځ او بلې خواته درې زره (۳۰۰۰) غازیان وو، پدغه جګړه کې حضرت خالد بن ولید ﷺ هم شامل ؤ او د هغه د مسلمانېدو نه وروسته په اسلامي صف کې یې د شرکت لومړی وار ؤ، چې باید له ځانه یو څه زړه ورتوب وښایي، بله دا چې د روم د قیصر او عیسویانو د مسلمانانو سره دا لومړۍ جګړه وه، چې مسلمانانو د شام په حدودو کې دننه وکړه، حضرت زید بن حارث ﷺ بیرغ په لاس د لښکر په منځ کې روان ؤ، د فوځ د ښي طرف قوماندان حضرت قطبه بن قشاده غدای ﷺ وه او د چپ لور قوماندان حضرت عبایه بن مالک انصاري ﷺ ؤ، جګړه توده شوه او حضرت زید بن حارث ﷺ جنګېده او کفار یې وژل ډېر پر مخ روان ؤ، خو کفارو د څلورو خواؤ نه په منځ کې راګېر کړ، زیاته په زړه پورې مقابله یې وکړه، بلاخره شهید شو، د هغه له شهادت سره سم حضرت جعفر ﷺ د مجاهدینو قیادت په لاس کې واخیست او بې شمېره کافران یې ووژل په پای کې د هغه اس زخمي شو راولوېده او پیاده جنګ یې شروع کړ، له ده څخه هم کافران د څلورو طرفونو نه راتاؤ شول خو بیا هم د زمري په شان جنګېده، په همدغه وخت کې یې ښي لاس قطعه شو هغه بیرغ زر چپ لاس باندې لوړ ونیو، کافرانو د هغه چپ لاس هم غوځ کړ، بیا هغه د دواړو متو او غاړې په وسیله ځان پورې ټینګ ونیوه، په همدې حالت کې شهید شو، سمدستي حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ را وړاندې شو او د اسلام بیرغ یې پورته کړ، د لږې شیبې جنګېدو نه وروسته دغه مبارک هم شهید شو او د اسلام بیرغ پر ځمکه پرېوت، پر مسلمانانو کې د وارخطایې نښې پیدا شوې، حضرت ثابت بن اقرم ﷺ په یوه خیز سره ورمخکې شو او بیرغ یې راپورته کړ او په لوړ اواز سره یې وویل د یوه امیر په ټاکلو موافقه وکړئ! مجاهدینو په ځواب کې وویل "رضینا بک" مونږ په تا راضي یو، حضرت ثابت ﷺ وویل چې زه دا کار نشم کولای د حضرت خالد بن ولید ﷺ امارت ومنئ، ټولو په یو اواز وویل مونږ ته د حضرت خالد بن ولید ﷺ قیادت منظور دی، د دې اواز په اورېدو سره حضرت خالد بن ولید ﷺ راوړاندې شو او د حضرت ثابت ﷺ له لاسه یې بیرغ واخست او پر رومي لښکر یې حمله وکړه، تر دې وخته د رومیانو فوځ بریالی ؤ، خو کله چې حضرت خالد بن ولید ﷺ بیرغ په لاس کې واخیست، مسلمانان یې منظم کړل او هغوی ته یې د غیرت او مېړانې خبرې وکړې او مجاهدین یې دوباره د جنګ لپاره تیار کړل، بیا یې په داسې طریقه د رومي لښکرو سره جګړه وکړه چې کله به یې د لښکر ښي طرف د جنګ لپاره وړاندې کاوه او کله چپ طرف او کله به یې خپله د منځ حصې څخه د جنګ ساحې ته وړاندې

شو، پدې ترتیب سره یې د رومیانو غرور مات کړ او پخپلو لښکریانو باندې د برق په څېر ګرځېده راګرځېده او د لښکر هرې برخې ته به یې مرسته رسوله لنډه دا چې له سهاره تر ماښامه حضرت خالد بن ولید د خپل درې زره کسیز لښکر په ملتیا د یو لک لښکر مقابله په مېړانې سره وکړه، په پای کې شپه شوه، کفارو د شپې په تیاره کې تېښته وکړه مسلمانانو د یوې لنډې فاصلې پورې تعقیب کړل، زیات غنیمتونه د مسلمانانو لاس ته ورغلل، دولس تنه مهاجر شهیدان شول او د کفارو د لښکر د مړیو شمېر چا معلوم نه کړای شو، په همدغه جګړه کې د ښه تدبیر او زړورتیا په وجه حضرت خالد بن ولید ﷺ ته د سیف الله لقب ورکړ شو او شهید حضرت جعفر ﷺ ته د ذوالجناحین او یا طیار لقب ورکړل شو.

# د مکې فتحه

د مکې د فتحې سبب دا ؤ چې د حدیبیې د روغې په یوه ماده کې داسې راغلي ؤ چې قریش اختیار لري په خپله خوښه د هرې قبیلې سره تړون وکړي او د تړون څخه وروسته به همدا قبیله د هغوی جز ګڼل کېږي کومې چې تړون یې لاسلیک کړ، په دې اساس د خزاعه قبیلې د حضرت محمد ﷺ او د بنو بکر قبیلې د قریشو سره تړون وکړ او په دې ترتیب سره دواړه قبیلې چې پخوا به یې یو په بل تېری کاوه په امن کې شوې او د اسلام د مقدس دین په برکت د دې دواړو قبیلو زړې دښمنۍ پای ته و رسېدې، په دې وخت کې بنو بکر قبیله یو ځل بیا د غچ اخیستلو په فکر کې شوه، د هجرت په اتم کال د شعبان په میاشت چې د (۲۲۸)م کال سره سمون خوري نوفل بن معاویه د بنو بکر قبیلې له یو شمېر خلکو سره د شپې له خوا مرسته وکړه او هغوی د خزاعه قبیلې څه کسان ووژل، کله چې حضرت محمد ﷺ د دغې پېښې څخه خبر شو، نو قریشو سره یې د جنګ لپاره تیاری ونیوه، خو ځوک یې په خپل نیت او هدف خبر نه کړل، چې تر څو قریش خبر نه شي او د جنګ لپاره تیاری ونه نیسي او د بلد الحرام حرمت وساتل شي.

د یو مسلمان حضرت حاطب بن ابي بلتعه ﷺ له خوا د حضرت محمد ﷺ د پرېکړې د رسوا کولو کوښښ وشو، خو د وخت څخه د مخه د ناکامۍ سره مخامخ شو، حضرت محمد ﷺ په اتم هجري کال چې د (۲۲۸) م کال سره سمون خوري د (۱۰۰۰۰) لس زره مسلمانانو په ملګرتیا د مکې په لور وخوځېده، چې د لارې په اوږدو کې ورسره نور مسلمانان هم ملګري شول، کله چې اسلامي لښکر مکې ته نږدې شو، په یو ډاګ کې یې واړول او هر یو ټولي ته یې د جلا جلا اور لګولو امر وکړ، چې د اور په لګېدلو ټوله فضا روښانه ښکارېده، قریش خو لا د پخوا څخه په وېره کې وو، ځکه چې پیغمبر ﷺ د بنو خزاعه د قبیلې د قاتلانو غوښتنه کړې وه او یا دې قریش د هغوی ملاتړ پرېږدي، خو د فضا روښنايي ډېر حېران کړل،

نو ځکه يې د معلوماتو لپاره دابوسفيان په مشرۍ درې تنه ولېږل، خو په لاره کې درې واړه د مسلمانانو له خوا ونيول شول، غوښتل يې چې هغوی ووژني، مگر د الله ﷻ په امر د حضرت محمد ﷺ له خوا ورته عفوه وشوه، ابو سفيان د اسلام مقدس دين قبول کړ، سبا سحر يې ابوسفيان په يوه جگه غونډۍ کښېناوه او ټولو قريشو ته اعلان وشو چې هر څوک کعبې شريفې او يا د ابوسفيان کور ته پناه يوسي هغه به په امن کې وي، ابوسفيان چې د مسلمانانو دا لوی لښکر په خپلو سترگو وليد، نو د مسلمانانو زور او قوت ته حيران پاتې شول، کله چې کعبې شريفې ته اسلامي لښکر نژدې شو، نو حضرت خالد بن وليد ؓ ته يې امر وکړ، چې د مکې اوسنۍ لوري څخه کعبې شريفې ته ځان ورسوي، خو ټولو گروپونو ته دا امر او حکم ؤ چې په چا به حمله نه کوي او وينې به نه تويوي، خو ځينو جاهلو قريشو د عمومي عفوې سره هم حمله وکړه او دوه تنه مسلمانان يې شهيدان کړل، چې وروسته مسلمانانو د ځان د دفاع په خاطر په هغوی حمله وکړه او تېښتې ته يې مجبور کړل، په دې فتحه کې يوائې هماغه (۱۳) کسه قريش د خپلې بې عقلۍ او جهالت په وجه ووژل شول، که نه نو مخکې د عفوې اعلان شوی ؤ، حضرت محمد ﷺ چې کله کعبې شريفې ته ورسېده کومه چې حضرت ابراهيم ؑ د يو الله ﷻ د عبادت لپاره جوړه کړې وه، گوري چې هرې خوا ته بُتان ولاړ دي، نو د بُتانو په ماتولو يې پيل وکړ، چې کله به يې په بت گذار کولو نو دا به يې ويل:

"وقل جا الحق وزهق الباطل ان الباطل کان زهوقا ".

ترجمه: حق راغلی او باطل لاړو، ځکه چې باطل له منځه تلونکی ؤ.

وروسته د بيت الله شريف دروازه کې ودرېده، قريش گوري چې اوس به زمونږ سره څه کوي؟ هغې مخ ور وگرځاوه، اې قريشو ! څه فکر کوئ چې مونږ به له تاسې سره څه کوو؟ هغوی وويل: چې ښه سلوک او وروگلوي، حضرت محمد ﷺ ورته وويل: زه نن تاسې ته هغه څه ويل غواړم: چې زما ورور يوسف ؑ خپل قوم ته ويلي وو، د نن څخه په خوا پر تاسې کومه پړه او ملامتي نه شته، الله ﷻ دې تاسې معاف کړي، هغه تر ټولو رحم کوونکی دی، د نن څخه وروسته تاسې خپلواک ياست، بيا ټولو قريشو د صفا په غونډۍ له حضرت محمد ﷺ سره بيعت وکړ او د اسلام مقدس دين يې قبول کړلو، لومړۍ نارينؤ او بيا ښځو ورسره بيعت وکړ، خو يو تن ته يې هم لاس ورنه کړ، بيا حضرت محمد ﷺ، حضرت بلال ؓ ته امر وکړ چې کعبې شريفې بام ته پورته شه او د ماسپښين اذان وکړه، دا کار

حاضرو قریشو ته چې لا تر اوسه يې د اسلام دين نه ؤ منلی سخت تمام شو، خو حضرت محمد ﷺ دا کار قصداً د يوه لوی حکمت په خاطر وکړ.

# د حنين غزا

حنين د مکې او طايف تر منځ د يوې درې نوم دی، چې په دې دره کې د هوازن او ثقيف قبيلو څخه پرته نورو ډېرو قبيلو هم استوګنه کوله، که څه هم د اسلام د فتوحاتو لمن ورځ په ورځ پراخېدله، خو د مکې خلکو لا اسلام نه ؤ راوړی او عرب په همدې انتظار کې وو، چې حضرت محمد ﷺ که په قريشو غالب شو، بيا به مونږ وروستی پرېکړه کوو او که چېرې غالب نه شو، نو بيا به مونږ خپلې زړې عنعنې ته دوام ورکوو، د هجرت په اتم کال چې د (۶۲۹)م کال سره سمون خوري مکه مکرمه د مسلمانانو له خوا فتحه شوه، د عربو بېلا بېلو قبيلو د اسلام د مقدس دين په قبلولو پيل وکړ، يوازې د هوازن او ثقيف قبيلو د مسلمانانو سره مخالفت وکړ او وارخطا شول چې مکه ختمه شوه، نور ځوک د اسلام مخه نه شي نيولای، بايد ډېر زر په دې خلکو يرغل وشي، تر څو له منځه ولاړ شي، نو (۳۰۰۰۰) تنه يې برابر کړل او د حنين تنګی يې ونيوه، د دې لپاره چې نارينه د جګړې نه تېښته ونه کړي ښځې او ماشومان يې د جنګ مېدان ته له ځان سره راوستي وو او د جنګ قوماندان يې يو د ډېرش کلن ځوان چې مالک بن عوف نومېده وټاکه، حضرت محمد ﷺ چې خبر شو د هغې سيمې خلکو ته يې د غزا اعلان وکړ او د مکې د فتحې څخه وروسته هغه مسلمانان چې د حضرت محمد ﷺ سره راغلي وو، شمېر يې (۱۲۰۰۰) تنو ته رسېده، د هغه په ملګرتيا د حنين په لور وخوځېده، کله چې د حنين درې ته ورسېده سحر وختي هوازن قبيله او د هغوی ملاتړ کوونکي د جنګ ميدان ته حاضرېدل، چې مسلمانانو پرې بريد وکړ سخته ماتې يې ورکړه او مسلمانان د زيات غنيمت څښتنان شول.

# د تبوک غزاء

د تبوک غزاء د مکې د فتحې او حنين له غزا وروسته پېښه شوېده، پدې غزا کې د ډېرش زره(۳۰۰۰۰) مسلمانان د جنګ لپاره تيار شول، هر چا د خپل وس مطابق مالونه د جګړې لپاره وقف کړل، چې پدې کې حضرت ابوبکر صديق ﷺ د کور ټول مال، حضرت عمر فاروق ﷺ د کور نيم مال، حضرت عثمان ﷺ ټوله قافله چې په هغې کې نهه سوه (۹۰۰) اوښان او سل (۱۰۰) اسونه سره له سامانونو او زر (۱۰۰۰) طلايي ديناره وو وقف کړل.

د دغې جګړې پر مهال په مدينې کې د حاصلاتو د راټولولو وخت هم ؤ او د منافقانو هغه کوششونه چې مسلمانان وويروي او يا دا چې د حاصلاتو د اخستلو د بهانې په نوم يې دجګړې څخه پاتې کړي، خو بيا هم مسلمانان پاتې نشول او جګړې ته لاړل، د پيغمبر ﷺ په

شمول هلته مسلمانانو شل (۲۰) ورځې په تبوک نومې ځای کې قیام وکړ، چې د مدينې نه پنځلس میله لرې پروت دی.

د روم پاچا قیصر چې د حضرت محمد ﷺ د پیغمبرۍ په حقیقت باندې پوه ؤ وویرېده او د مقابلې څخه لاس په سر شو او بریا د مسلمانانو په برخه شوه.

# اخري خطبه

د هجرت په لسم(۱۰) کال د ذی القعدې په میاشت کې رسول الله ﷺ د بیت الله د حج لپاره روان شـــو، له هغه سره د انصارو، مهاجرینو یوه ډله او د عربو مشران چې د قربانۍ سل (۱۰۰) اوښان ورسره وو، مکې ته د یکشنبې په ورځ د ذی الحجې په څلورمه نېټه داخل شو، پیغمبر اکرم ﷺ دا ځلې خلکو ته د حج مراسم وروښودل او د عرفات په غونډۍ یې یوه تاریخي خطبه وفرمایله، چې دلته د هغې خطبې متن په لنډ ډول ذکر کوو.

د حمد او ثنا څخه وروسته یې وفرمایل: اې خلکو ! زما خبرې واورئ، ځکه چې زه راتلوونکي کال ته او یا تر دې وروسته له تاسې سره د یو ځای کېدو باور نه لرم، اې خلکو ! څرنګه چې دا ورځ او دا میاشت حرامه ده، همدارنګه د یو بل مال او روح پر تاسې حرام دی، د مسلمانانو د مال او ځان ساتنه باید هر مسلمان وکړي، په نورو ظلم مه کوئ، چې په تاسې هم تېری ونکړای شي، امانتونه باید د هغوی څښتنانو ته وسپارئ، سود حرام دی شیطان ناهیلی شو، چې د هغه نمانځنه دې په ځمکه کې ونه کړای شي، خو دا به وي چې په کوچنیو کوچنیو کارونو کې به د هغه تابعداري کېږي، پدې خاطر تاسې د شیطان له تابعدارۍ نه ځانونه وژغورئ، اې خلکو ! د ښځو پر تاسې حق دی، لکه څنګه چې ستاسې پر ښځو حق دی، له ښځو سره ښېګڼه وکړئ، زه په تاسې کې دوه شیان پرېږدم، یو د الله ﷻ کتاب او بل د الله د نبي کریم ﷺ سنت، تر څو چې تاسې په کتاب او سنت عمل کوئ، بې لارې به نشئ، مسلمانان یو د بل ورونه دي، د هیڅ مسلمان لپاره رواء نه دي چې د بل مسلمان مال له اجازې پرته واخلي، تاسې یو پر بل ظلم مکوئ، بیا یې وویل: چې تاسې وواياست چې ما تاسې ته الهي احکام ورسول؟ ټولو په ګډه ځواب ورکړ، هو ! تاسې مونږ ته الهي احکام رارسولي او د دین حق دې اداء کـــړ، حضرت محمد ﷺ وفرمایل: الهي ته ګواه اوسه، الهي ته ګواه اوسه، الهي ته ګواه اوسه ! دغه کلمات رسول الله ﷺ د تاکید په ډول درې ځلې تکرار کړل.

پدې خطبه کې رسول اکرم ﷺ داسې خبرې وفرمایلې لکه څوک چې له چا سره مخه ښه کوي او یا ترې مخه ښه غواړي، لدې امله د دې حج نوم حجة الوداع سره مشهور شو، هغه د دې کال په خطبه کې په خصوصي توګه د اسلامي تعلیماتو تبلیغ وفرمایه، دا حج په حجةالبلاغ سره هم یادېږي.

د همدې خطبې له پای ته رسېدو وروسته د حضرت عبد الله بن عباس ﷺ مور د شیدو پیاله راولېږله، هغه ﷺ وڅښله، په دغه حج کې د سل زرو (۱۰۰۰۰۰) څخه زیاتو مسلمانانو ګډون کړی وه، د ځینو مؤرخینو په وینا یو سل او څلوېښت زرو (۱۴۰۰۰۰) اصحابو کرامو ﷺ پکې برخه اخستې وه او په ګډه یې حج اداکړ، هغه ﷺ پر دې ورځ دا هم وفرمایل: چې تر دې د مخه ټولو انبیاؤ علیهم السلامو څه ویل تر ټولو غوره خبره یې "لااله الاالله وحده لا شریکه له له الملک وله الحمد وهو علی کل شئٍ قدیر" ده.

د عرفې په ورځ چې کله انحضرت ﷺ په مکه کې وه دا ایت نازل شو:

"الیوم اکملت لکم دینکم و اتممت علیکم نعمتی و رضیت لکم الاسلام دینا".

ترجمه: نن ما ستاسې دین ستاسې لپاره بشپړ کړی دی او خپل نعمت مې پر تاسې پوره کړی دی او ستاسې لپاره مې د اسلام دین ستاسې د دین په توګه منظور کړی دی.

د دې ایت له نازلېدو سره زیات صحابه کرام ﷺ خوشحاله شو، چې نن ورځ د اسلام دین مکمل شو، خو ځینې صحابه کرام ﷺ د ابوبکرصدیق ﷺ په شان ډېر په باریکیو پوهېدونکي مزاج والا په ژړا شول، چې له دې ایت نه د بېلتانه بوی راځي، ځکه کله چې دین مکمل شو، نو د نبي کریم ﷺ پاتې کېدو ته اړتیا پاتې نه شوه، د حج له ارکانو څخه چې فارغ شو د مدینې په لور روان شو.

# وفات

د هجرت په یولسم (۱۱) کال د محرم الحرام په میاشت کې پیغمبر ﷺ تبې ونیوه او تبه یې لاپسې ورځ په ورځ زیاتېده، د هغه د ناروغۍ خبره مشهوره شوه، پدې وخت کې مسلمه کذاب، خویله کذاب، اسود او سجاح بنت حراث په جلا جلا توګه د پیغمبرۍ دعوې وکړلې، خو دا ټول الله ﷻ د خپل عمل په سزا ورسول.

د رسول الله ﷺ صحت مبارک په (۱۱) هجري کال د صفرې د میاشتې په (۲۲) نېټه یو څه ښه شو، د شام او فلسطین سرحدونو ته یې د حضرت اسامه بن زید ﷺ په مشرۍ د فوځ د لېږلو امر وکړ، خو د همدې میاشتې په (۲۸) مه نېټه د رسول الله ﷺ ناروغي بیا شدیده شوه، د ناروغۍ په خاطر دغه لښکر وځنډېده.

رسول اکرم ﷺ د خپلو بیبیانو نه اجازه وغوښته، تر څو خپله مریضي د حضرت عایشې رضی الله تعالی عنها په کوټه کې تېره کړي، ټولو په خوښۍ سره اجازه ورکړه.

د یو څه مودې نه وروسته د کوټې نه بهر راووت او د مسلمانانو یوې غونډې ته یې وینا وکړه او ویې فرمایل! چې تاسې ته له الله ﷻ نه د ویرې لارښوونه کوم الله ﷻ دې تاسې

ته لاربنوونه وکړي او زه تاسې هغه ته سپارم او تاسې هغه ته پرېږدم، زه تاسې له دوزخ نه وېروم او د جنت زېرى درکوم د الله ﷻ بنده ګانو ! غرور او لويې مه اختياروئ، جنت د هغو خلکو د پاره دى چې تکبر او فساد نه اختياروي، د اخرت ټولې ښېګڼې د متقيانو لپاره دي او د تکبر کوونکو ځاى جهنم دى.

بيا يې وفرمايل زما نږدې خپلوان دې ماته غسل راکړي او زما جنازه زما د قبر په غاړه کېږدئ او د يو ساعت لپاره ترې لرې شئ، چې ملائکې پرې د جنازې لمونځ وکړي، وروسته له هغه ډلې ډلې زما د جنازې لمونځ ادا کړئ لومړى دې زما د کورنۍ سړي بيا د هغوى زنانه د جنازې لمونځ ادا کړي.

د ناروغۍ په وروستيو درې ورځو کې هغه ﷺ په خپل بستر پروت ؤ او حضرت ابوبکرصديق ﷺ يې د امامت لپاره امام وټاکه، حتى د مريضۍ په وروستيو کې يو څه د روغتيا احساس وشو، مسجد ته لاړ او د حضرت ابوبکر صديق ﷺ پسې يې لمونځ ادا کړ، اګر چې هغه نه غوښتل چې امامت وکړي خو د نبي کريم ﷺ امر وه.

حضرت ابوبکرصديق ﷺ د هغه د ناروغۍ په وخت کې د ديارلس لمونځونو امامت وکړ، د ناروغۍ په وخت کې يې اصحابو ﷺ ته هم وفرمايل: چې کله وفدونه راځي، نو هغه په اکرام، انعام او سوغات سره خامخا خوشحاله کوئ، له جزيرة العرب نه د مشرکانو بېخ وباسئ او د اسامه لښکر ضرور ولېږئ او له انصارو سره ښه رويه وکړئ، د هغوى له غلطيو نه تېر شئ، پخپل مجلس کې له حضرت ابوبکر ﷺ نه غوره بل کس مه ګڼئ، د ربيع االاول په دولسمه نېټه د دوشنبې په سهار د لمانځه په وخت کې رسول الله ﷺ خپل سر په پټۍ تړلې ؤ او بېرون جومات ته يې تشريف راوړ، همدغه مهال حضرت ابوبکرصديق ﷺ د سهار لمانځه امامت کاوه، هغه بيا د وروسته کېدو نيت وکړ، رسول الله ﷺ د لاس پوسيله منع کړ او خپله د صف په ښي طرف کې په ناسته لمونځ ادا کړ، تر لمانځه وروسته يو څه وعظ يې وفرمايه، بيا يې خپل کور ته تشريف يوړ او حضرت عايشې رضى الله تعالى عنها په غېږ کې يې خپل سر مبارک کېښود او وغزېده، پدې وخت کې عبدالرحمن بن ابي بکر ﷺ له لامده مسواک سره د هغه په خدمت کې حاضر شو، رسول اکرم ﷺ د هغې په لور وکتل، حضرت عايشه رضى الله تعالى عنها پوه شوه، چې مسواک غواړي، هغه د خپل ورور له

لاسه مسواک واخیست او پر خپلو غاښونو یې ښه نرم کړ او رسول الله ﷺ ته یې ورکړ، رسول الله ﷺ واخیست او پخپله مبارکه خوله کې یې وواهه بیا یې پرېښود، خپل مبارک سر یې د حضرت عایشې رضی الله تعالی عنها په مبارکه سینه کېښود او خپلې مبارکې خپې یې وغزولې.

د حضرت محمد ﷺ تر خوا یوه ډکه پیاله اوبه ایښې وې او خپلې مبارکې ګوتې یې لمدولې او پر خپل مبارک مخ یې راښوکولې او فرمایل به یې:

"الهم اعني على سكرات الموت".

ترجمه: الهي د مرګ په مشکلاتو کې راسره مرسته وکړه.

حضرت عایشې رضی الله تعالی عنها به بیا بیا د هغه مبارک مخ ته کتل، چې په ناڅاپي ډول د هغه مبارکې سترګې درندې شوې، د هغه ﷺ په مبارکه ژبه دا کلمات جاري وو:

"الرفيق الاعلى من الجنة".

د غرمې د زوال وخت ته نږدې د دوشنبې په ورځ په دولسم (۱۲) د ربیع الاول په یولسم (۱۱) هجري کال رحمة اللعالمین له دې فاني نړۍ څخه د تل له پاره سترګې پټې کړې او په راتلونکي ورځ د سه شنبې په ورځ غرمې ته نږدې (زوال) کې د دواړو جهانو سردار دفن کړای شو.

انا الله و انا اليه راجعون.

# څلورم فصل

## خلفاء راشدین

حضرت ابوبکر صدیق ﷛(۱۱-۱۳هجري،۶۳۲- میلادي۶۳۴) پورې

د ابو بکر صدیق ﷛ اصلي نوم عبدالله او لقب یې صدیق او عتیق ؤ، د پلار نوم یې عثمان ؤ، چې په ابو قحافه ملقب ؤ او مور یې ام الخیر سلمی بنت صخر نومېده.

حضرت ابوبکر صدیق ﷛ د فیل د کال څخه دوه کاله وروسته پیدا شوی دی، ده په نسب پوهنه کې شهرت درلوده، د ده نسب په شپږم نیکه کې د حضرت محمد ﷺ سره یو ځای کېږي، کله چې حضرت محمد ﷺ پیغمبر شو، په لویانو کې لومړی هم ده پرې ایمان راوړه، د حضرت محمد ﷺ د وفات نه وروسته په سقیفه بني ساعده نومې ځای کې د مسلمانانو د خلیفه په توګه وټاکل شو.

حضرت ابوبکر صدیق ﷛ د خلافت په دویمه ورځ په نبوي ﷺ مسجد کې خپل راتلونکی سیاست د یوې خطبې په ترځ کې داسې اعلان کړ: اې خلکو زه پر تاسو خلیفه وټاکل شوم او زه له تاسو څخه غوره نه یم، که مې ښه کول نو مرسته راسره وکړئ او که مې بد کول منع مې کړئ، ستاسو زورور زما په وړاندې کمزوری او ستاسې کمزوری زما په وړاندې زورور دی، تر څو د کمزوري حق د زورور څخه واخلم او هغه ته یې وسپارم، کوم قوم چې د جهاد څخه لاس واخلي الله تعالی به یې خوار کړي او په کوم قوم کې چې بدکاري عامه شي، نو هغه به په عامه بلا اخته شي.

## د حضرت ابو بکر صدیق ﷛ د وخت مهمې پېښې او فتوحات

### ۱- د اسامه د لښکر لېږل:

حضرت محمد ﷺ د اسامه په مشری د اوه سوه مجاهدینو یو لښکر د شام په لور د لېږلو په اراده تیار کړی ؤ، د هغه د وفات نه وروسته دا لښکر حضرت ابوبکر صدیق ﷛ د شام په لور ولېږه، تر څو د رومیانو سره جهاد وکړي، دغه لښکر شام ته ولاړ او د ډېرو غنیمتونو سره بریالی بېرته راستون شو.



لیکوونکی: ښوونیالی عبدالبصیر "حکمت" حنیف کمپیوټر، کمپوز او د ترمیم مرکز کمپوز او ډیزاین: عبدالصمد "حنیف"

## ۲- د مرتدینو سره جهاد:

د پیغمبر ﷺ د وفات نه وروسته د عربو ځینې سرداران مرتد شول چې البته دغه ارتداد زیاتره سیاسي بڼه درلوده حضرت ابوبکر صدیق ؓ په خپل سیاسي بصیرت سره د ارتداد فتنه په لږو ورځو کې له منځ یوړه.

## ۳- د نبوت د مدعیانو سره جهاد:

د پیغمبر ﷺ د مرض الموت په دوران کې او د وفات نه وروسته د عربو ځینو مشرانو خپل سیاسي بغاوت ته مذهبي بڼه ورکړه او د نبوت دعوه یې وکړه په هغوی کې لومړی شخص اسود غسي ؤ، چې د پیغمبر ﷺ د وفات نه پنځه ورځې مخکې په صنعا کې د یو مسلمان لخوا چې فیروز دیلمي نومېده ووژل شو، دویم شخص چې د نبوت دعوه یې کړې وه، طلیحه نومېده حضرت ابوبکر صدیق ؓ هغه ته خالد بن ولید ؓ ورولېږه هغه شام ته وتښتېد او له هغه ځایه یې معذرت وغوښت، توبه یې وکړه او دوباره په اسلام کې داخل شو، د نبوت بل مدعي یوه ښځه وه چې سجاح بنت حارث نومېده، چې وروسته یې د مسلمة الکذاب سره واده وکړ، د نبوت بل مدعي مسلمة الکذاب ؤ، چې د یمامه په جنګ کې د وحشي بن حرب په لاس ووژل شو.

## ۴- د زکات د منکرینو په ضد جهاد:

د عربو قبایلو د زکات د ورکولو څخه انکار وکړ حضرت ابو بکر صدیق ؓ د هغوی پر ضد د جهاد اعلان وکړ تردې چې هغوی یې د زکات ورکولو ته اماده او تیار کړل او پدې ډول دا فتنه هم ختمه شوه.

## ۵- د قران کریم جمع کول:

د مسلمة الکذاب په ضد د یمامې په جنګ کې (۱۲۰۰) صحابه کرام ؓ شهیدان شول، چې په هغوی کې (۳۹) تنه لوی صحابه کرام ؓ او د قران حافظان هم وو، له همدې کبله حضرت عمر ؓ سره اندېښنه پیدا شوه، چې که د حافظانو شهادت همداسې دوام وکړي، نو الله ﷻ مه کړه قران به ضایع شي، نو ځکه یې حضرت ابوبکر ؓ ته د قران شریف د راجمع کولو مشوره ورکړه، هغه د یو څه تردد نه وروسته خپله خوښي څرګنده کړه او حضرت زید بن ثابت ؓ ته یې د دې کار امر وکړ، هغه په دې ترتیب قران کریم په یو مصحف کې راټول او جمع کړ.

## ۲- د روميانو او ايرانيانو په خلاف جګړه:

حضرت ابوبکر صديق ﷛ کله چې د داخلي ستونزو څخه خلاص او مطمئن شو، نو د روم او ايران په لور يې مخه وکړه، دا دوه امپراطورۍ د اسلامي خلافت تر څنګ د هغه وخت لوی طاقتونه وو، چې اسلامي خلافت ته ترې جدي خطر متوجه ؤ، لـــدې امله ابوبکر صديق ﷛ د ايران او روم او سېدونکو ته د اسلامي دعوت د رسولو په نيت هلته اسلامي لښکرې ولېږلې.

حضرت خالد بن وليد يې د عراق په لور ولېږه هغه د هجرت په دولسم کال د لس زره مجاهدينو سره د عراق په خاوره کې ډېر فتوحات وکړل د عراق پايتخت حيره، دومة الجندل عين الثمر او نورې سيمې يې په لږه موده کې فتح کړې.

کوم وخت چې مسلمانان د مرتدينو او ايرانيانو سره په جګړه مصروف وو روميانو د هغوی د دې مصروفيت نه په استفادې سره يو لښکر تيار کړ او د مسلمانانو په خلاف يې د جنګ اراده وکړه، حضرت ابوبکر صديق ﷛د هغوی د مقابلې لپاره څلور لښکرې د حضرت يزيد بن ابو سفيان ﷛، حضرت ابو عبېده بن الجراح ﷛، حضرت عمرو بن العاص ﷛ او حضرت شرجيل بن حسنه ﷛ تر مشرۍ لاندې څلورو سيمو ته د شام په لورې ولېږلې او خالد بن وليد ﷛ ته يې امر وکړ چې په عراق کې منشي د امير په حيث پرېږدي او خپله شام ته ولاړ شي او په شام کې د اسلامي لښکر سره يو ځای شي او د جنګ قومانده په خپل لاس کې واخلي خالد ﷛ همداسې وکړل، په شام کې يې اسلامي لښکرې راټولې کړې، چې د ټولو شمېر(۳۶۰۰۰) تنو ته رسېده، په داسې حال کې چې د روميانو لښکر د دوه لکو څخه زيات وو دواړه لښکرې د هجرت په ديارلسم کال د يرموک د سند په غـــاړه مخامخ شول پدې جګړه کې روميان مات شول او يو لک او ديرش زره کسان يې ووژل شول او د روم پاچا هرقل د تښتېد د مسلمانانو څخه هم درې زره کسان شهيـــدان شول د جنګ په دوران کـــې حضرت خالد بن وليد ﷛ ته د ابوبکر صديق ﷛ د وفات خبر راورسېد خو هغه د جنګ تر اخره پورې دا خبر پټ وساته، پدې ترتيب حضرت ابوبکر صديق ﷺ د دوه کاله او درې مياشتې خلافت څخه وروسته وفات شو.

# حضرت عمر فاروق رضی الله عنه

(۱۳-۲۳هجري، ۶۳۴-۶۴۴میلادي) پورې

د حضرت عمر رضی الله عنه اصلي نوم عمر او په فاروق ملقب ؤ، پلار يې خطاب نومېده او د فيل د کال څخه (۱۳) کاله وروسته پيدا شوی دی، په نهم نيکه کې د حضرت محمد ﷺ سره يو ځای کېږي، د نبوت په شپږم کال يې خپل اسلام اعلان وکړ او په ښکاره توګه يې مدينې ته هجرت وکړ او د پيغمبر ﷺ سره يې په ټولو غزواتو کې برخه اخيستې وه، حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه چې کله ناروغه شو د صحابه کرامو رضی الله عنهم په مشوره يې حضرت عمر رضی الله عنه خپل وليعهد وټاکه، پدې ډول د هغه د وفات نه وروسته د هجرت په ديارلسم کال حضرت عمر رضی الله عنه د مسلمانانو خليفه شو او د امير المؤمنين لقب يې د ځان لپاره غوره کړ.

# د حضرت عمر رضی الله عنه فتوحات

په اسلامي تاريخ کې د حضرت عمر رضی الله عنه دوره په هر لحاظ يوه ځلانده دوره وه د ده د وخت مهم جګړې د مدائن، جلولا، نهاوند او قادسيې فتحې دي، پدې ټولو کې د قادسيې جګړه ډېر شهرت لري، پدې جګړه کې حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه د ډېرش زره مسلمانو مجاهدينو سره د هجرت په (۱۴) څوارلسم کال د ايرانيانو او ساسانيانو پرضد چې قومانده يې د رستم په لاس کې وه، د قادسيې په مقام کې وجنګېده ايراني لښکرو ته يې ماتې ورکړه او مشر يې ووژل شو.

د قادسيې د فتحې نه وروسته ايرانيان مدائن ته وتښتېدل د دجلې پل يې وران کړ، مسلمانان چې کله د دجلې د سيند غاړې ته ورسېدل، حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه او لښکر يې د الله ﷻ نوم ياد کړ او د بسم الله (مجريها و مرسها) په لوستلو سره په اسونو سواره په سيند ورګډ شول، په ډېر اطمينان د سيند غاړې ته ورسېدل، ايرانيانو چې کله د مسلمانانو دا خارق العاده صحنه وليده نو چيغې يې کړې چې ديوان امدند ديوان امدند، او وتښتېدل ايراني بادشاه يزد ګرد هم خپل پايتخت مدائن څخه وتښتېد او مسلمانانو د هجرت په (۱۶) کال د جمعې په ورځ په مدائن کې لومړی لمونځ ادا کړ.

د مدائن څخه ډېرې خزانې د غنيمت په ډول لاس ته يې راوړې، د مدائن د فتحې نه وروسته مسلمانانو جلولا، حلوان او نورې سيمې هم ونيولې پدې ترتيب د ايران فتحه مکمله شوه.

د حضرت عمر رضی الله عنه په دوره کې په شام کې هم ډېر فتوحات وشول، د حضرت ابوعبېده بن جراح رضی الله عنه او حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه تر مشرۍ لاندې اسلامي لښکرو د روميانو سره جګړې وکړې او دمشق، حمص، بيت المقدس او مصر يې فتح کړل.

لنډه دا چې هغه اسلامي فتوحات چې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دوره کې پیل شوي وو، د حضرت عمر رضی الله عنه په دوره کې بشپړ شول او د اسلامي فتوحاتو لمن د ختیځ په لور د خراسان او ترکمنستان پورې، د لویدیځ په لورې تر لیبیا پورې د جنوب په لور تر سوډان پورې او د شمال په لور تر شام پورې وغزېده.

# د حضرت عمر رضی الله عنه اصلاحي کارنامې

د حضرت عمر رضی الله عنه په دوره کې په عام ډول په ټولو چارو کې او په ځانګړې توګه په حکومتي نظام کې ډېر نوښتونه او بدلونونه رامینځته شول، شورايي نظام په پوره معنا تطبیق شو، اسلامي دولت په اداري لحاظ په مختلفو ولایتونو تقسیم شو او والیان وټاکل شول، بیت المال او فوځي چارې په ښه توګه منظمې شوې، زراعتي اصلاحات وشول، قاضیانو او والیانو په ټاکنو کې د تقوی، ایمانداری او علم په پام کې نیولو سره د هغوی احتساب ته هم جدي پاملرنه وشوه او هجري تاریخ د لومړي ځل لپاره حضرت عمر رضی الله عنه رامنځته کړ او د هغه مبدا (پیل) یې د پیغمبر ﷺ هجرت وټاکه چې اوس د هجري قمري په نامه یادېږي.

لنډه دا چې د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت دوره د فتوحاتو عدل او انصاف له مخې داسې ځلانده دوره وه چې تر اوسه اسلامي تاریخ پرې ویاړي حضرت عمر رضی الله عنه به بالغ کافر ته اجازه نه ورکوله چې مدینې ته داخل شي بالاخره یو مجوسي غلام ابو لولو "فیروز" د کسب ګری په بهانه مدینې ته ولاړ او د سهار د لمانځه په وخت کې یې امیرالمؤمنین په خنجر وواهه او ټپي یې کړ او د همدغه ټپ څخه د لس کالو او پنځو میاشتو خلافت نه وروسته د هجرت په (۲۳) کال شهید شو.

# حضرت عثمان ذالنورین رضی الله عنه

(۲۳-۳۵هجري، ۶۴۴-۶۵۶میلادي) پورې

د حضرت عثمان رضی الله عنه اصلي نوم عثمان او په ذوالنورین ملقب ؤ، د پلار نوم یې عفان او مور یې اروي بنت ابي ربیعه نومېده، د فیل د کال نه دوه کاله وروسته پیدا شوی دی او نسب یې په پنځم نیکه کې د پیغمبر ﷺ سره یوځای کېږي.

دی د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په بلنه په اسلام مشرف شو حضرت عثمان رضی الله عنه د زهد او تقوی سره په حیا کې زیات شهرت درلود، د پیغمبر ﷺ د وحې کاتب هم ؤ او د بدر د غزا نه پرته په ټولو غزاواتو کې د پیغمبر ﷺ سره شریک شوی دی.

کله چې حضرت عمر رضی الله عنه ټپي شو نو شپږ کسیزې شورا ته چې دا شورا د حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه، حضرت علي بن ابي طالب رضی الله عنه، حضرت طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه، زبیر بن

العوام ﷺ، حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ او حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ څخه جوړه وه، د خلیفه د ټاکلو وظیفه وسپارله او لارښوونه یې ورته وکړه، چې د خپل منځ څخه یو تن د خلیفه په توګه وټاکئ، هغوی د درې ورځو مشورې څخه وروسته حضرت عثمان بن عفان ﷺ د دریم خلیفه په توګه وټاکه او مسلمانانو سره یې بیعت وکړ.

# د حضرت عثمان ﷺ د وخت مهمې پېښې او فتوحات

۱- د حضرت عثمان ﷺ فتوحات په دوه ډوله ؤ چې یو ډول د هغو ځایونو بیا نیول ؤ چې د حضرت عمر ﷺ په دور کې فتح شوي ؤ خو وروسته یې بیا بغاوت کړې ؤ لکه ری، همدان، اسکندریه او اذربایجان او دوهم ډول فتوحات یې د نویو سیمو فتحه کول ؤ لکه قبرص، د کوچنې اسیا ترکي ځینې سیمې په افریقا کې سبطیله په اروپا کې، د اندلس ځینې سیمې چې دا ټولې سیمې د حضرت عثمان ﷺ په دور کې فتحه شوې.

۲- د حضرت عثمان ﷺ په دور کې قران کریم د دویم ځل لپاره راجمع شو او د حضرت زید بن ثابت ﷺ تر اشراف لاندې په یوه لهجه د مصحف په شکل ولیکل شو.

۳- د حضرت عثمان ﷺ په دور کې د عبدالله بن سبا په نوم یو یهودي چې د یمن او سېدونکې ؤ تش په نوم یې د اسلام دعوه کوله خو په حقیقت کې د اسلام دښمن ؤ هغه او ملګرو یې لومړی د والیانو په خلاف په بصره، کوفه او مصر کې اعتراضونه شروع کړل، کله چې پدې کې ناکام شول نو بیا یې د حضرت عثمان ﷺ د نرمۍ نه په استفادې سره د هغه په خلاف تحریک وچلاوه، په پای کې حضرت عثمان ﷺ د دولسو کالو خلافت څخه وروسته د هجرت په (۳۵) کال د هغو باغیانو په لاس شهید شو، چې د عبدالله بن سبا په تحریک مدینې منورې ته راغلي وو.

# حضرت علي ﷛

(۳۵-۴۰هجري، ۶۵۶-۶۶۱میلادي) پورې

حضرت علي د ابي طالب زوی او د پیغمبر ﷺ د تره زوی او زوم ؤ مور یې فاطمه بنت اسد نومېده او په اسدالله او حیدر ملقب ؤ، د هجرت څخه (۲۱) کاله مخکې پیدا شوی دی، په ماشومانو کې لومړی تن حضرت علي ﷛ ؤ، چې د لسو کالو په عمر کې یې اسلام قبول کړ، د ه خپل هجرت لدې کبله وروسته کړ چې حضرت محمد ﷺ ورته امانتونه سپارلي وو، کله چې حضرت عثمان ﷛ شهید شو په مدینه منوره کې خلکو د حضرت علي ﷛ سره بیعت وکړ او په دې ډول د مسلمانانو خلیفه شو.

# د حضرت علي ﷛ د وخت مهمې پېښې

د حضرت علي ﷛ په دور کې د مسلمانانو د خپل منځي اختلاف له کبله د فتوحاتو لړۍ په ټپه ودرېده د دې اختلاف سبب دا ؤ چې باغیانو حضرت عثمان ﷛ شهید کړ، دغه وخت مدینه منوره باندې د همغوې قبضه وه د مدینې مسلمانانو د باغیانو په شمول حضرت علي ﷛ دې ته اړ کړ چې د خلافت چارې په لاس کې واخلي کله چې هغوی د حضرت علي ﷛ سره بیعت وکړ ځینو صحابه کرامو لکه حضرت طلحه ﷛ او حضرت زبیر ﷛ د مکې په لور مخه کړه او دا غوښتنه یې وکړه چې د حضرت عثمان ﷛ قاتلان باید قصاص شي.

حضرت معاویه ﷛ چې په شام کې ؤ هغه هم د بیعت لپاره دا شرط وړاندې کړ، چې د حضرت عثمان ﷛ قاتلان باید په سزا ورسول شي.

حضرت علي ﷛ د مدینې د حالاتو په پام کې نیولو سره هغوی ته په ځواب کې وویل: چې کله وضعه ارامه شي، نو مجرمینو ته به سزا ورکوي دغه د نظر اختلاف په پای کې د جمل او صفین د جګړو سبب شو.

د جمل جګړه د هجرت په (۳۶) کال د حضرت علي ﷛ پر ضد د حضرت طلحه ﷛، حضرت زبیر ﷛ او بي بي عایشې ﷛ له لورې بصرې ته نژدې پېښه شوه.

د صفین جګړه په مکام کې پېښه شوه په پای کې دواړه لورې سولې ته راضي شول د حضرت معاویه ﷛ له لورې حضرت عمرو بن العاص ﷛ او د حضرت علي ﷛ له لورې ابو موسی الاشعري ﷛ د (منځګړو) په توګه وټاکل شول دوی د ډېر تحقیق نه وروسته داسې تحریري فیصله وکړه.

حضرت علي ﷺ او حضرت معاويه ﷺ حق په جانب او په خپلو دريځونو کې مخلص دي لهذا دواړه حضرات د خپل خپل موقف څخه عزل دي يعنې حضرت معاويه ﷺ به اوس د قصاص مطالبه نه کوي او حضرت علي ﷺ به د توري په زور په چا بيعت نه تحميلوي.

د خلافت د مسئلې په هکله به هغه صحابه کرام فيصله کوي د کومو نه چې د الله رسول ﷺ د دنيا نه د رخصت په وخت کې راضي ؤ او داسې فيصله زمونږ له طاقت څخه وتلې خبره ده لهذا پدې هکله بايد د مسلمانانو څخه عامه نظر غوښتنه وشي او لوې صحابه کرام ﷺ به يې فيصله کوي تر څو پورې چې د اهل حل وعقد مشرانو د خلافت په هکله فېصله نه وي کړې، تر هغه به دواړه فريقين د خپلو خپلو علاقو ساتنه کوي دا فيصله دواړو منځګړو يو حضرت عمرو بن العاص ﷺ او ابو حضرت موسى الاشعري ﷺ د ازرخ په مقام فريقينو ته واوروله او دواړو قبوله کړه.

مؤرخينو پدې فېصله کې د حضرت علي ﷺ د موقف څخه عزل کول د خلافت څخه په غزل کولو تعبير کړې او د همدې غلط تعبير نه په استفادې سره د اسلام د ښمنانو د حضرت عمرو بن العاص ﷺ او ابو موسى الاشعري ﷺ پشان جليل القدر اصحابو ﷺ ته هغه نسبت وکړ، چې يو عام شخص ته يې هم نسبت درست ندی، د حضرت علي ﷺ له طرفه د دې فيصلې د نه منلو په سبب د هغه د لښکر څخه د خوارجو په نامه يوه ډله ووتله او د هغه په خلاف يې بغاوت وکړ، حضرت علي ﷺ د هغوی په خلاف جګړې وکړې چې په تاريخ کې د نهروان د جګړو په نوم يادېږي، وروسته حضرت علي ﷺ د همدې خوارجو څخه د يو تن عبدالرحمن بن ملجم په لاس پداسې حال کې چې د سهار د لمانځه په نيت روان ؤ شهيد شو.


ليکوونکی: ښووپالی عبدالبصير "حکمت" حنيف کمپيوټر، کمپيوز او د ترميم مرکز کمپوز او ډيزاين: عبدالصمد "حنيف"

# پنځم فصل

## امویان

(۴۱-۱۳۲هجري،۶۶۱-۷۵۰میلادي) پورې

د حضرت علي ﷺ د شهادت څخه وروسته مسلمانانو د هغه زوی حضرت حسن ﷺ خلیفه کړ، خو هغه د مسلمانانو د وحدت په خاطر د خلافت د منصب څخه حضرت معاویه ﷺ ته ورتېر شو او حضرت معاویه ﷺ امیر شو، له دې کبله د غه کال د عام الجماعة (وحدت او یووالي) کال ونومول شو، د اموي کورنۍ څخه (۱۴) کسانو یو په بل پسې امارت وکړ، چې لومړی یې امیر حضرت معاویه ﷺ ؤ او اخرنی یې مروان بن محمد ؤ.

## حضرت معاویه ﷺ

(۴۱-۶۰هجري،۶۶۱-۶۸۱میلادي) پورې

امیر معاویه ﷺ د اموي کورنۍ بنسټ اېښودونکې چې د هجرت څخه پنځلس کاله مخکې د بني امیه په کورنۍ کې پیدا شو، پلار یې ابوسفیان نومېده چې د قریشو د لویو مشرانو څخه ؤ او د مکې د فتحې په ورځ د خپل ټول کهول سره په اسلام مشرف شو.

امیر معاویه ﷺ د پیغمبر ﷺ د وحي کاتب ؤ او وروسته د خلفاؤ راشدینو په دور کې د شام ولایت وروسپارل شو، د حضرت علي ﷺ د شهادت نه وروسته د هغه زوی حضرت حسن ﷺ د حضرت معاویه ﷺ سره صلحه وکړه او پدې ډول د مسلمانانو د امیر په حیث وټاکل شو.

امیر معاویه ﷺ د خپل امارت په دور کې شام خپل مرکز وټاکه د بادشاهانو په څېر یې تخت او دربار جوړ کړ او څوکیداران یې ودرول، د ده په دور کې مسلمانانو د افریقا زیاته برخه لکه مراکش او المغرب ونیول، تر سیستان او کوچنۍ اسیا (ترکي) پورې اسلامي لښکرې ورسېدې او قسطنطنیه هم کلابنده شوه، د دې ټولو سره سره هغه خلافت میراثي وګرځاوه او خپل زوی یزید ته یې په خپل ژوند کې د خلکو څخه بیعت واخیست، امیر حضرت معاویه ﷺ په (۶۰) هجري کال کې وفات شو او زوی یې یزید د هغه پر ځای کښېناست.

# یزید بن معاویه

(۶۱-۶۴هجري، ۶۸۱-۶۸۴میلادي) پورې

یزید بن حضرت معاویه ﷛ زوی ؤ، چې د هجرت په (۲۵) کال زېږېدلــــی دی او پــه (۶۱) هجري کال کې د پلار د وصیت سره سم د امارت په ګدۍ کېښناست.

د یزید په دور کې د کربلا خواشینونکې پېښه رامنځ ته شوه هغه داسې چې کله یزید په شام کې د خلکو څخه بیعت واخیست او مدینې ته یې د بیعت اخیستلو لپاره یو تن راولېږه په مدینه منوره کې حضرت حسین ﷛ حضرت عبدالله بن زبیر ﷛ او نورو صحابه کرامو ﷛ د بیعت نه انکار وکړ او مکې ته ولاړل د عراق خلکو حضرت حسین ﷛ ته بلنه ورکړه چې عراق ته راشي تر څو د عراق خلک د ده سره بیعت وکړي په مکه کې لویو صحابه کرامو ﷛ حضرت حسین ﷛ عراق ته د تللو څخه منع کړ خو هغه بیا هم د عراق په لور د خپلې کورنۍ سره ولاړ کله چې د کربلا مقام ته ورسېد په عراق کې د یزید والي عبیدالله بن زیاد د هغه د مخنیوي لپاره د عمرو بن سعد بن ابي وقاص په مشرۍ یو لښکر راولېږه هغه د کربلا په میدان کې د پیغمبر ﷺ لمسی او د هغه د زړه ټوټه حضرت حسین ﷛ د خپلې کورنۍ سره پداسې طریقه شهید کړ چې ژبه او زړه د هغې قصې د یاد برداشت نه لري دا پېښه د عاشورا په ورځ (لسم د محرم) رامنځته شوه.

د یزید لښکر د مسلم بن عقبه په مشرۍ مدینه منوره هم ونیوله او بیا د مکې په لور ولاړ مکه یې محاصره او خلک د لوږې سره مخ شول په همدغه وخت کې د یزید د مرګ خبر مکې ته ورسېد او خلک د کلابندۍ څخه خلاص شول.

# عبدالملک بن مروان

(۶۵-۸۶هجري، ۶۸۵-۷۰۵میلادي) پورې

د یزید د مرګ نه وروسته د هغه زوی دویم معاویه په تخت کښیناست خو د هغه امارت د (۴۰) ورځو څخه زیات دوام ونه کړ او وفات شو، د هغه نه وروسته مروان بن حکم په تخت کښېناست ده وعده وکړه چې امارت به د دویم معاویه زوی خالد تـه سپاري، خو وروسته یې خپل دوه زامن عبدالملک او عبدالعزیز یو د بل پسې ولیعهدان وټاکل، پدې سبب د خالد مور چې د ده سره یې نکاح کړې وه، دی په خپله بستره کې وواژه.

د مروان د مړینې څخه وروسته د هغه زوی عبدالملک په تخت کښېناست عبدالملک د خپل امارت په دور کې بصره، کوفه او نورې سیمې ونیوې، د حجاج بن یوسف په مشرۍ یې یو لښکر د مکې په لور ولېږه، حجاج ظالم د الله ﷻ کور په کاڼو وویشت او عبدالله بن زبیر ﷛ یې شهید کړ.

همدارنګه عبدالملک خوارج هم له منځه یوړل او په افریقا کې د لاسه وتلې سیمې یې بیا د عقبه بن نافع په واسطه ونیولې.

عبدالملک د لومړي ځل لپاره سکه په خپل نامه ووهله د ده نه مخکې رومي یا ساساني سکې چلېدې همدارنګه عربي ژبه یې د دولت رسمي ژبه وګرځوله، همدا ډول (الصخره) هغه ګټه چې ابراهیم ، داؤد ، او سلیمان وربانديې قرباني کوله او (۱۷) متره اوږدوالی او دوه متره لوړوالی درلود او په فلسطین کې ده، د عبدالملک په دور کې وربانديې یو تعمیر جوړ شو او (قبة الصخره) ونومول شوه عبدالملک په (۸۶) هجري کال کې وفات شو.

# ولید بن عبدالملک

(۸۶-۹۶هجري،۷۰۵-۷۱۵میلادي) پورې

ولید د خپل پلار د وفات څخه وروسته د امارت په ګدۍ کښېناست د ده په دور کې د اسلامي فتوحاتو لمن ډېره پراخه شوه د ده د وخت مشهور مسلمان جنرالان موسی بن نصیر، طارق بن زیاد، قتیبه بن مسلم، محمد بن قاسم او مسلمه بن عبدالملک ؤ د غو جنرالانو په جګړو کې داسې ابتکارات او نوښتونه وښودل چې د اوسنۍ زمانې حرب پوهان ورته حیران دي.

موسې بن نصیر په افریقا کې د حسن بن نعمان په لمسون را پیدا شوي بغاوتونه ارام کړل او د هغه ځای خلک یې د اسلام سره اشنا کړل د ې په افریقا کې حکمرانؤ چې د طارق بن زیاد په مشرۍ (۷۰۰۰) اوه زره لښکر د هغې ابناء څخه تېر شول چې اوس د هغه په نامه (جبل طارق ابناء) شهرت لري او د هسپانیا خاورې ته داخل شو او د هغه ځای د بادشاه (رودیک) د (۲۰۰۰۰) لښکر سره مخامخ شو پدې جګړو کې برې د طارق بن زیاد په برخه شو.

وروسته موسی بن نصیر (۱۸۰۰۰) اتلس زره لښکر سره د هغه مرستې ته ولاړ، هسپانیه یې ونیوله او د فرانسې خاورې ته دننوتلو په تکل کې ؤ چې د ولید لخوا وغوښتل شو او فتوحات یې ودرول.

قبیبه بن مسلم خپل فتوحات تر مرکزي اسیا او ترکستان کې تر کاشغر پورې ورسول او خپل نماینده ګان یې د چین دربار ته ولېږل.

محمد بن قاسم هم خپل فتوحات په هند کې تر ملتان پورې ورسول او مسلمه بن عبدالملک به کوچنۍ اسیا کې تر انطاکې پورې ورسېد.

د دې فتوحاتو سره سره د ولید په دور کې اسلامي ادبیاتو، فنونو او علومو هم ډېر پرمختګ وکړ ولید په (۹۲) هجري کال کې وفات شو او ورور يې سليمان پر تخت کښېناست.

# سليمان بن عبدالملک

(۹۲-۹۹هجري، ۷۱۵-۷۱۷میلادي) پورې

سليمان بن عبدالملک په خپل دور کې د عمر بن عبدالعزيز څخه د وزير په حيث مشورې اخيستې د هغه د درې کلنۍ دورې د سترو کارونو څخه دا ؤ چې د (رجا بن حيوه) په مشوره يې د خپلو ورونو څخه په مهر کړې شوي ليک بيعت واخيست کله چې وفات شو او ليک خلکو خلاص کړ، نو ويې ليدل چې عمر بن عبدالعزيز نوم پکې ؤ پدې ډول خلکو هغه د خليفه په توګه وپېژانده.

# عمر بن عبدالعزيز(رح)

(۹۹-۱۰۱هجري، ۷۱۷-۷۱۹میلادي) پورې

عمر بن عبدالعزيز رحمه الله د هجرت په (۲۱) کال پيدا شوی دی، د مور له طرفه يې نسب حضرت عمر فاروق ﷺ ته رسېږي، د ده د خلافت دوره په عدل او انصاف کې د خلفاؤ راشدينو دورې ته ورته وه چې له همدې کبله د پنځم خليفه په نامه يادېږي.

عمر بن عبدالعزيز رحمه الله د قراني او نبوي لارښوونو کلک پابند ؤ او کله چې د خلافت مسئوليت ور په غاړه شو نو د خپلې ښځې (فاطمې) ټوله ګاڼه يې بيت المال ته لدې کبله تسليم کړه چې د ده ښځه د بادشاه (عبدالملک) لور وه کيدای شي چې هغه د بيت المال د پېسو څخه جوړه شوي وي.

عمر بن عبدالعزيز په خپله دوره کې د حکومتي منصبونو څخه نا اهله خلک لېرې کړل او د هغو پر ځای يې متدين خلک وټاکل او هغوی به يې هر وخت د فرمانونو په واسطه خپلو مسئوليتونو ته متوجه کول د ده په دور کې د اسلامي حکومت په قلمرو کې د ميشته ذميانو سره ښه چلند کېده او د درندو، ملا ماتوونکي باجونو د اخستلو مخه ونيول شوه خوارجوهم د مخالفت څخه لاس واخسته، خلاصه دا چې د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په دور کې په هر اړخيز ډول ډېر په زړه پورې بدلونونه رامنځته شول چې دا ټول د هغه د تقوی، پوهې او وړتيا نتيجه وه.

په پای کې د سیاسي غرض خاوندانو د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله په خلاف سازش وکړ او هغه ته یې د هغه د غلام پواسطه زهر ورکړل او په (۱۰۱) هجري کال کې شهید شو، د عمر بن عبدالعزیز نه وروسته د اموي کورنۍ شپږو نورو کسانو حکومت وکړ خو د هغوی قدرت د یوې ورځې نه بلې ورځې ته کمزورې کېده، تر څو په (۱۳۲) هجري کې دا کورنۍ د قدرت څخه لرې شوه او عباسي کورنۍ قدرت ته ورسېده.

د اموي کورنۍ د وروستیو امیرانو نومونه پدې ډول دي:

۱- دویم یزید د عبدالملک زوی.

۲- هشام د عبدالملک زوی.

۳- دویم ولید د یزید بن عبدالملک زوی.

۴- دریم یزید د ولید بن عبدالملک زوی.

۵- ابراهیم د ولید بن یزید بن عبدالمک زوی (۲۰) ورځې امارت وکړ.

۶- مروان حمار د محمد بن مروان زوی.

# شپږم فصل
# عباسیان

(۱۳۲-۶۵۶هجري، ۷۵۰-۱۲۵۸میلادي) پورې

## د اموي کورنۍ نه عباسي کورنۍ ته د قدرت انتقال:

د اموي کورنۍ نه عباسي کورنۍ ته د خلافت د انتقال فکر علي بن عبدالله بن عباس د ولید په دور کې رامنځ ته کړ، پدغه وخت کې علي په (حمیمیه) نومې ځای کې چې د فلسطین په غربي برخه کې واقع ده اوسېده.

د علي د وفات نه وروسته دهغه زوی محمد اهل تشیع د ځان سره ملګري کړل او د اهل بیت تر عنوان لاندې یې په پټه دعوت شروع کړ.

د عباسیانو تحریک او د دعوت طریقه دومره مرموزه وه چې د خپلو خاصو استازیو (نقیبانو) څخه پرته پرې بل څوک نه پوهېده.

عباسیانو دخپل دعوت د خپرولو لپاره کوفه او خراسان مناسب ولیدل او دا ځکه چې د کوفې داوسیدونکي اکثریت اهل تشیع وو او هغوی د پخوا نه اهل بیت ته د خلافت د انتقال غوښتونکي وو.

د خراسان خلک هم د دې فکر سره اشنا وو، ځکه چې د هغوی نظام د شاهي نظام سره یې ورته والی درلود او بل دا چې د فارس خلک چې د لوې او اوږد تاریخ درلودونکي ؤو د امویانو په دور کې ورسره لکه د غلامانو په څیر تعامل کېده د محمد بن علي د وفات څخه وروسته دهغه زوی ابراهیم د عباسیانو تحریک مشر شو، پدغه وخت کې د خراسان یو نامتو او زړور شخص چې عبدالرحمن ابو مسلم خراساني نومېده، د عباسیانو د تحریک سره یو ځای شو او د ابراهیم له خوا ورته په خراسان کې د دې تحریک مشري وسپارل شوه.

د عباسیانو بلنه هغه وخت ښکاره شوه، کله چې د ابراهیم هغه لیک ښکاره شو په کوم کې چې ده ابو مسلم ته لیکلي وو، چې څوک په عربي ژبه خبرې کوي سر ترې ووهه دغه لیک د مروان لاس ته ورغی هغه ابراهیم بندي کړ او بیا یې وواژه.

ابو مسلم په (۱۲۹) هجري، (۷۴۷)میلادي کال په خراسان کې تور بیرغ اوچت کړ او د سل زره لښکر سره یې د امویانو په خلاف جګړه شروع کړه، نصر بن سیار د امویانو له خوا د نیشاپور حاکم ؤ وتښتېد، ابو مسلم ری او نهاوند ونیول، وروسته عباسیانو کوفه او

دمشق هم ونيول، اموي خليفه مروان د زاب د رود په غاړه د عباسيانو سره جګړه کې ماتې وخوړه د مصر په لور وتښتېد او هلته د نيل سيند په غاړه په يوه ښتنه کې ووژل شو.

**د عباسيانو دعوت دوه مرحلې درلودې:**

لومړۍ مرحله کې هغوی په پټه دعوت کاوه دا مرحله د علي بن عبدالله بن عباس نه شروع او تر (۱۲۷)هجري، (۷۴۸)ميلادي کال پورې يې دوام وکړ.

دويمه مرحله د زور او طاقت د استعمال مرحله وه چې د دې تحريک سره د ابو مسلم د يو ځای کېدو نه شروع او د عباسيانو په بريالیتوب پای ته ورسېده.

# ابوالعباس سفاح

(۱۳۲-۱۳۶هجري، ۷۵۰-۷۵۳ميلادي) پورې

د ابوالعباس سفاح اصلي نوم عبدالله ؤ او د زياتو وينو تويولو له کبله ورته سفاح لقب ورکړل شو، ده پخپل دور کې د عباسيانو په خلاف ټول بغاوتونه ارام کړل، ابو مسلم خراساني يې د خراسان والي او خالد بن برمک يې د ماليې وزير وټاکه، د خلافت دوره يې څلور کاله وه او په (۱۳۶)هجري کال په انبار کې وفات شو.

# ابو جعفر عبدالله (منصور)

(۱۵۸-۱۲۹هجري، ۷۷۵-۷۸۵ميلادي)

ابو جعفر منصور چې د خپل ورور ابوالعباس سفاح په ژوند وليعهد ټاکل شوی ؤ د هغه له وفات سره سم خليفه شو.

ده د خپل سياست له مخې عباسي خلافت په پښو ودراوه، د کومو کسانو څخه يې چې وېره درلوده هغه يې له منځه يوړل، د ده د وخت لوی پېښې د عبدالله بن علي پاڅون ؤ، چې د ابو مسلم خراساني پواسطه يې ارام کړ، عبدالله بن علي يې لومړی بندي او بيا يې مړ کړ او وروسته يې ابو مسلم يې هم وواژه، ابو جعفر د (۲۲) کاله خلافت نه وروسته حج ته د تلو په لار کې وفات شو.

# محمد المهدي

(۱۵۸-۱۲۹هجري، ۷۷۵-۷۸۵ميلادي) پورې

د منصور د وفات نه وروسته د هغه زوی محمد المهدي په تخت کښيناست، نوموړی د ښو او عالي اخلاقو خاوند ؤ د پلار له خوا يې چې کوم کسان بنديان شوي ؤ هغوی يې د بند څخه ازاد کړل او علويانو ته يې خپلې ځمکې بېرته وسپارلې.

د ده په دور کې د هاشم بن حکم د (مقنع) په نوم يو سړي چې د روح په تناسخ قايل ؤ راپيدا شو او د نقاب پوش په نوم مشهور شو او وروسته د مهدي له خوا ووژل شو.
مهدي په (١٦٩) هجري کال کې وفات شو او په خپل ژوند يې خپل دوه ځامن موسی الهادي او هارون الرشيد يو د بل جانشين وټاکل.

# موسى الهادي

(١٦٩-١٧٠هجري،٧٨٥-٧٨٦ميلادي) پورې

موسی الهادي د خپل پلار د وفات نه وروسته خليفه شو د ده په دور کې ادريس بن عبدالله چې د حسن ﷺ له اولادې څخه ؤ په مراکش او موريتانيه کې د ادريسي حکومت په نوم يو حکومت جوړ کړ.

موسی الهادي د دوه کالو څخه کم خلافت وکړ ده هڅه وکړه چې د خپل پلار د وصيت په خلاف هارون الرشيد د وليعهدۍ څخه لرې کړ او خپل زوې جعفر يې وليعهد کړ، خو وروسته په خپلو ټولو کړنو پښېمانه شو او په (١٧٠) هجري کال بغداد ته نژدې په عيسی اباد نومې ځای کې وفات شو.

# هارون الرشيد

(١٧٠-١٩٣هجري، ٧٨٦-٨٠٩ميلادي) پورې

هارون الرشيد دعباسيانو د لويو خلفاؤ له جملې څخه ؤ چې په عدل او پرهېزګارۍ کې شهرت درلوده د ده دوره د علمي او عمراني ترقي له پلوه يوه ځلانده دوره وه د ده په دوره کې علوم، فنون او صنايع خپل لوړ حد ته رسيدلي ؤ د دې دورې پرمختيا د هغه ساعت څخه معلومیږي کوم چې هارون الرشيد د فرانسې پاچا شارلمان ته لیږلی ؤ، شارلمان او د هغه وزيرانو چې کله د ساعت اتوماتيک حرکت وليد نو فکر يې وکړ چې دا حرکت د پېريانو پواسطه دی.

هارون الرشيد لومړی خليفه ؤ چې د چين او فرانسې سره يې سياسي اړيکې جوړې کړې او د هغوی سفيران يې په خپل دربار کې ومنل، هارون الرشيد نهه(٩) ځلې د حاجيانو د امير په توګه د بيت الله شريف زيارت وکړ په خپل ژوند يې خپل دوه زامن امين او مامون جانشين وټاکل او د (٢٣) کاله خلافت نه وروسته په طوس کې وفات شو.

# محمد امین بن هارون الرشید

(۱۹۳-۱۹۸هجري، ۸۰۹-۸۱۳میلادي) پورې

امین د خپل پلار د وفات په وخت په بغداد کې قایم مقام ؤ کله چې هارون الرشید وفات شو، له ده سره خلکو بیعت وکړ پدغه وخت کې د ده بل ورور مامون په خراسان کې ؤ، هغه هم ورسره بیعت وکړ خو وروسته امین د خپل وزیر فضل بن ربیع په لمسون مامون د ولیعهدۍ څخه محروم کړ او پر دې برسېره یې یو لښکر د مامون د ټکولو لپاره هم ولېږه مامون هم مجبور شو او طاهر پوشنجي یې د لښکر مخې ته ولېږه په جګړه کې د امین د لښکر مشر علي بن عیسی ووژل شو او طاهر تر بغداد پورې ورسېد، بغداد یې محاصره کړ په پای کې یې امین هم ونیو او وې واژه او د مامون په نوم یې خطبه ولوستله.

# مامون الرشید

(۱۹۸-۲۱۸هجري، ۸۱۳-۸۳۳میلادي) پورې

دامین د مرګ نه وروسته مامون په تخت کښیناست ده خپل لومړی وزیر فضل بن سهېل مقرر کړ او مروه یې د خلافت مرکز وټاکله خو وروسته د پنځو کالو څخه یې پایتخت بغداد ته منتقل کړ.

مامون هم په عباسي خلفاؤ کې د علم او فضل له پلوه لوړ مقام درلود، په تفسیر، فقه، فلسفه، شعر او ادب کې ډېر ماهرو او د قران کریم حافظ ؤ او دربار به یې کله هم د ادبیاتو، علماؤ او فضلاؤ څخه خالي نه ؤ، مامون د (۲۰) کاله خلافت نه وروسته په طوس کې وفات شو.

# د عباسیانو د انحطاط (غورځېدو) دوره

د مامون د مرګ نه وروسته د عباسیانو دغورځېدو او زوال دوره پیل شوه، ځکه چې وروسته خلفاء ضعیف او کمزوري ؤ اسلامي خلافت په ملوک الطوائفي او محلي حکومتونو بدل شو.

د مامون نه وروسته په بغداد کې دېرشو نورو عباسي خلفاؤ حکومت وکړ چې اخرنی خلیفه یې معتصم باالله ؤ د ده په دور کې د چنګېز لمسي هلاکو خان داسلامي خلافت په مرکز باندې حمله وکړه، معتصم باالله یې وواژه او بغداد چې د علم او تمدن مرکز ؤ د خاورو سره برابر کړ، پدې ډول د عباسي خلفاؤ لومړۍ لړۍ په (۶۵۲هجري) کال مصر ته ولاړه او هلته د مصر د حاکم ملک الظاهر بیبرس له خوا د خلافت په ګدۍ کښېناست د هغه په نامه خطبه وویل شوه او د هغه په نامه سکه جاري شوه، پدې توګه عباسي خلافت د

بغداد نه مصرته نقل شو، په مصر کې اتلسو خلفاؤ حکومت وکړ، خو د دوی په دوره کې حقیقي قدرت د امراو په لاس کې ؤ او خلیفه ته یوازې د نوم څخه نور څه پاتې نه وو، دا دوره هم په (۹۲۳هجري-۱۵۱۷میلادي) کال پای ته ورسېده.

# د عباسیانو د دور نومیالي علماء او د هغوی لیکنې

په عباسي دور کې د حکومتي نظام، مالي، فوځي او ملکي چارو تر څنګ علمي اړخ ته زیاته پاملرنه وشوه، د اموي دور په وروستیو کې په ابتدایي ډول لیکنې پیل شوې خو د عباسیانو په وخت کې چې کله د کاغذ صنعت زیات شو نو د مسلمانانو علماؤ او پوهانو پو اسطه د تالیف او ترجمې تحریک ډېره پرمختیا وکړه، دې پوهانو لومړې د دیني علومو خواته مخه کړه، تفسیرونه یې ولیکل د پیغمبر ﷺ احادیث یې راجمع کړل د اسلامي نړۍ په مختلفو برخو کې درسي حلقې جوړې شوې، پدې برسېره کتابتونونه هم تاسیس شول، وروسته دغه علمي تحریک نور هم وړاندې ولاړ، د تفسیر، حدیث او فقهې نه علاوه په تاریخ، ادب، فلسفې، ریاضي، طب او نورو علومو کې هم لیکنې وشوې، هغه نومیالي علماء او پوهان چې د عباسیانو په دوره کې یې د حدیث او اسلامي فقهې د تدوین په برخه کې زیاتې هڅې وکړې د هغوی څخه ځینې په لاندې ډول معرفي کوو.

## ۱- امام ابوخنیفه رحمه الله (۸۰-۱۵۰هجري):

د ده اصلـــي نوم نعمـــان بن ثابت ؤ او په ابو حنیفه رحمه الله شهرت پیدا کړ دی په (۸۰ هجري) کال د اموي خلیفه عبدالملک بن مروان په وخت کې په کوفه کې پیدا شو.

امام صاحب د خپل ژوند په لومړیو وختو کې په تجارت بوخت ؤ، خو وروسته د امام شعبي رحمه الله په لارښوونه د علماؤ په حلقاتو کې کښېناست د حمار بن ابي سلیمان څخه یې زیاته زده کړه وکړه او د الله ﷻ ورکړې استعداد په برکت د اسلامي فقهې په برخه کې لوړ مقام ته ورسېد هغه فقهي قوانین چې امام صاحب مرتب کړل د حنفي فقهې په نامه مشهور شول او د یو مستقل مذهب بڼه یې غوره کړه.

امام صاحب د مسایلو په استنباط کې د قیاس او رایې په استعمال برسېره په زهد تقوی او سخـــاوت کې هم شهـــرت درلود ده، بـه د خپـل مـال او دولت څخـه پـه غریبـو شاګردانو مصرف کاوه.

امام احمد او قاضي ابو یوسف رحمه الله د امام صاحب هغه مخکښ شاګردان وو، چې د ده فقهې پانګه یې د کتابونو په شکل کې اسلامي نړۍ ته وړاندې کړه.

امام صاحب د خلفاؤ او امیرانو لخوا د تحفو او رسمي منصب د قبلولو نه ډېره ډډه کوله، عباسي خلیفه منصور یو واري امام صاحب ته د قضا د منصب د قبلولو وړاندیز وکړ، خو امام صاحب لدې څخه انکار وکړ، پدې وجه منصور هغه بندي کړ او تر هغه يې تعذیب کړ تر څو په (۱۵۰هجري) کال وفات شو.

دا چې امام صاحب مشهور شاګرد قاضي ابو یوسف رحمه الله د عباسي خلیفه هارون الرشید په زمانه کې قاضي مقرر شو، لدې کبله حنفي مذهب په اسلامي نړۍ کې زیات شهرت وموند، د دې مذهب پیروان اوس په ټوله اسلامي نړې کې شته، خو په افغانستان، پاکستان، هندوستان او ترکیه کې په اکثریت سره وجود لري.

## ۲-امام مالک رحمه الله (۹۳-۱۷۹هجري):

امام مالک رحمه الله د انس زوی چې په ۹۳ هجري کال په مدینه منوره کې پیدا شوی دی، د قران کریم د حفظ نه وروسته د نبوي ﷺ احادیثو حفظ ته مخه کړه او د لویو علماؤ سره په علمي حلقو کې شریک شو او نور علوم يې زده کړل او کله چې يې علم بشپړ کړنو په نبوي مسجد کې دتدریس او فتوا لپاره کیناست او تر وفات پورې دی کار ته ادامه ورکړه کوم وخت چې د محمد نفس الزکیة تحریک د منصور په مقابل کې پاڅون وکړ، امام مالک د هغه حمایت وکړ، پدې وجه منصور دی په درو وواهه، خو بیا هم امام صاحب د زور او جبر بیعت اخیستلو بطلان په فتوا ثابت پاتې شو.

امام مالک رحمه الله د (موطا) په نامه د احادیثو لومړنی کتاب تالیف کړ، ده پدې کتاب کې د هغو فقهي موضوعاتو په اړوند احادیث ذکر کړي چې ده پکې اجتهاد کړی دی، بیا يې د اړوندو موضوع په هکله د مدینې داوسیدونکو طرز العمل او د تابعینو او فقهاؤ نظریات هم ذکر کړیدي، امام مالک رحمه الله د یوې لویې فقهي پانګې د رامنځته کولو نه وروسته په (۱۷۹هجري) کال وفات شو، د ده د مذهب زیات پیروان اوس په شمالي او مغربي افریقا کې موجود دي.

## ۳- امام شافعي رحمه الله (۱۵۰-۲۰۴هجري):

د امام شافعي رحمه الله اصلي نوم محمد بن ادریس ؤ او په شافعي رحمه الله يې شهرت وموند او په (۱۵۰هجري) کال په غزه کې پیدا شو دی، په اصل کې قریش دی چې نسب يې د پیغمبر ﷺ سره په عبد مناف کې یو ځای کېږي.

امام شافعي رحمه الله په وړوکوالي کې قران کریم حفظ کړی او بیا يې د احادیثو حفظ ته ملا وتړله، د ه په مکه مکرمه کې د فقهاؤ او محدثینو سره زده کړه پیل کړه بیا په مدینه منوره کې د امام مالک رحمه الله نه د موطا د زده کړې پخاطر هلته پاتې شو کله چې امام مالک رحمه الله وفات شو، پدې مهال ده اسلامي ملکونو ته نور علمي سفرونه هم

وکړل په بغداد کې یې د امام ابوحنیفه رحمه الله د شاګرد محمد بن الحسن څخه د عراقیانو فقه هم زده کړه او پدې توګه یې د حجاز او عراق دواړه فقې یو ځای کړې او خپل مذهب یې رامنځته کړ، د امام شافعي رحمه الله تالیفات نژدې سلو ته رسیږي چې مشهور کتابونه یې (کتاب الام) او (الرسالة) دی.

د حنفـي مذهب نه وروسته د اسـلامـي نړۍ زیات او سپـدونکي د امام شافعي رحمه الله د مـذهب پیروان دی چې اکثریت یې په حجـاز، مصـر، شـام او مشـرقي افریقا کې او سیږي.

## ۴- امام احمد بن حنبل رحمه الله (۱۶۴-۲۴۱هجري):

امام احمد بن حنبل په ۱۶۴ هجري کال په بغداد کې پیدا شو، ده هم د قران کریم د حفظ نه وروسته د حدیثو علم ته مخه وکړه او خپل علم یې بشپړ کړ.

د عباسي خلیفه مامون په زمانه کې د معتزله ډلې نظریاتو د اهل سنت په خلاف زور وکړ، مامون د دې تاید وکړ امام احمد د غه وخت چپ پاتې نشو بلکې خلک یې د دې نظریاتو د خطر څخه خبر کړل د معتزله ؤ دا نظر چې قران مخلوق دی، امام احمد په کلکه رد کړه پدې وجه هغه د مامون او معتصم لخوا تعذیب شو او په دورو ووهل شو خو د خپلې خبرې څخه ونه ګرځېد او پخپل دریځ ثابت پاتې شو کله چې متوکل خلیفه شو دې د معتزله ؤ په خلاف راپورته شو او هغوی یې وځکول پدې سره امام احمد بن حنبل هم له بند څخه خلاص شو او خپل تدریس ته یې تر هغه ادامه ورکړه، تر څو په (۲۴۱هجري) کال کې وفات شو، کله چې امـام احمـد بن حنبل رحمه الله په بغـداد کې وفات شـو د ده په جنازه کې (۸۰۰۰۰۰) کسانو ګډون وکړ د ه د خپل ځان نه وروسته د (مسند) په نامه د احادیثو هغه کتاب پرېښـود چې د پیغمبر ﷺ احادیث په کې راجمع دي او د ده مذهب د سعودي عربستان د حکومت رسمي مذهب ؤ.

## ۵- امام جعفر صادق رحمه الله (۸۰-۱۴۸هجري):

امام جعفر صادق رحمه الله د امام باقر زوی ؤ او خپلې زمانې لوی فقیه او عالم ؤ، امام ابوحینفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله هم د ده شاګردان وو.

دا امام هم د امیرانو او خلفاؤ په وړاندې د حق په ویلو کې د کلک عزم خاوند ؤ، شیعه ګانو د ډلو څخه د امامیه ډله خپله فقه امام جعفر صادق ته منسوبوي، چې د همدې له امله دا ډله د جعفري مذهب د پیروانو په نامه یادېږي.

## ۶- امام بخاري (رح) (۱۹۴-۲۵۶هجري):

د امام بخاري اصلي نوم محمد بن اسماعیلؤ او په بخاري یې شهرت وموند دی په (۱۹۴هجري) کال کې په بخارا کې پیدا شو او په وړوکوالي کې یې د احادیثو حفظ ته ملا وتړله ده د احادیثو د راټولولو لپاره بلخ، بغداد، مکې، بصرې، کوفې، شام او نورو ځایونو ته سفرونه وکړل او د احادیثو یوه لویه مجموعه یې راټوله کړه بیا یې په هغې کې صحیح احادیث جلا کړل او د (صحیح البخاري) په نامه کتاب یې تالیف کړ د قران کریم نه وروسته بخارې شریف په حدیثو کې د ټولو نه صحیح او معتمد کتاب ګڼل کېږي، امام بخاري رحمه الله په (۲۵۶هجري) کال د واړه اختر په شپه وفات شو.

## ۷- امام غزالي رحمه الله (۴۵۰-۵۰۵هجري):

ابو حامد محمد غزالي په ۴۵۰ هجري کال د خراسان په (طوس یا طاهران) نومې ځای کې پیدا شوېدې، ده د خپلې زمانې د مروجو علومو د زده کړې نه وروسته یې تدریس ته مخه کړه او د نظام الملک طوس په نظامیه کې استاذ مقرر شو.

امام غزالي رحمه الله په زمانه کې فلسفې او منطق ډېر ارزښت پیدا کړیؤ او خلکو همدې مخه کړې وه امام غزالي رحمه الله لومړی د فلسفې او منطق کتابونه ولوستل بیا یې د (مقاصد الفلاسفه) په نامه کتاب ولیکه او لدې وروسته یې ده (تهافت الفلاسفه) نومې کتاب په لیکلو سره د فلاسفهؤ غلطیاني او د فلسفې نیمګړتیاوې خلکو ته په ګوته کړې او دا یې په ډاګه کړه چې دا علوم د انسانیت د تکمیل لپاره کافي ندې بلکه انسان د ښو اخلاقو په خپلولو سره ځان د معرفت او کمال لوړې درجې ته رسولې شي او د دې لپاره د یو شیخ رهنما او استاذ اختیارول هم ضروري دي په همدې اساس امام غزالي رحمه الله په خپل اخري عمر کې تصوف ته مخه کړه او پدې برخه کې یې د (احیاء علوم الدین) په نامه مشهور کتاب ولیکه چې د خپل ارزښت له کبله په ټوله اسلامي نړۍ کې شهرت لري.

# د عباسیانو په دوره کې اسلامي تمدن

د عباسیانو خلفاؤ په دوره کې اسلامي تمدن لوړې پوړۍ ته رسېدلی ؤ، د خلافت مرکز بغداد د تمدن مرکز ؤ د امویانو په دوره کې د اسلامي فتوحاتو لمن پراخه شوې وه نو

د عباسیانو په دوره کې علم، ادب او صنعت پرمختګ وکړ د علم او زده کړې لپاره دزده کړې مرکزونه پیدا شول او هغوی په اسلامي علومو برسېره په طب، کیمیا، فزیک، تاریخ، جغرافیه، هندسه او داسې نورو علومو کې لیکنې وکړې دا هغهؤ چې اروپایانو د جهل او ناپوهۍ په تیارو کې ژوند کاوه او ذهنونو ته یې د تحریف شوي مسیحت قلفونه اچولي وو.

ټول مؤرخین پدې متفق دي چې اروپایانو دغه علوم او فنون د مسلمانو پوهانو څخه زده کړل، د اروپا زیات شمېر ځوانان اندلس او نورو اسلامي هېوادونو ته تلل راتلل دلته به یې د مسلمانو مهندسینو، طبیبانو، ریاضي دانو او نورو طبیعي علومو د پوهانو څخه زده کړې کولې او بیا به خپلو هېوادونو ته ستنېدل لکه نن ورځ چې د اسلامي هېوادونو ځوانان د علومو د زده کړې لپاره اروپایي هېوادو ته ځي، خو په دومره تفاوت سره چې اروپایي ځوانان به د علم فضیلت او نېکو اخلاقو سره خپلو هېوادو ته ستنېدل او مسلمان ځوانان اوس د بدو اخلاقو سره خپلو هېوادونو ته راځي، مسلمانانو ته لازمه ده چې خپل دیني او اخلاقي جانب ته پاملرنه وکړي، دا اسلامي نړۍ د ببرته پاتې کېدو عوامل درک کړي، اسلامي تګلاره خپله کړي او پدې لاره کې خپل اسلامي مسئولیت ادا کړي.

# اووم فصل

# په ختیځ او لویدیځ کې د اسلام خپرېدل

## الف: ختیځ

د ولید بن عبدالمک د حکومت په دوران کې مسلمانانو بهرنیو هیوادو ته د اسلام پیغام رسولو کارونه سرته ورسول چې د دغې فتوحاتو له جملې څخه یو هم د سند نیول او فتحه کول ؤ واقعه داسې رامنځته شوه چې یو شمېر مسلمان سوداګر سراندیب په جزیره کې د سفر په حالت کې وفات شول، د هغوی یتیمان او کونډې چې پدغه جزیره کې بې سرپرسته پاتې وې د سراندیب راجا د حجاج بن یوسف ثقفي او د ولید بن عبدالملک د ښېښې او مهرباني مخه د خپل ځان په لورې د راګرځولو له پاره د دغو یتیمانو او کونډو لېږل یوه غوره وسیله وګڼله، د سراندیب پادشاه له پخوا نه مسلمانانو د فتوحاتو تر تاثیر لاندې راغلې ؤ او د خپل اطاعت او منښې لپاره د وسیلې او بهانې په لټه کې ؤ پدې ډول هغه دغه یتیمان او کونډې په ډېر عزت او درناوي له خپلو خاصو باوري خلکو سره په یوه کښتۍ کې کښېنول او د حجاج بن یوسف په لور یې ولېږل او ډېر ارزښتناک سوغاتونه او تحفې یې حجاج بن یوسف او ولید بن عبدالملک ته ورسره واستولې او له هغه یتیمانو او کونډو څخه یې دا هیله لرله چې دوی به خامخا زما ستاینه حجاج بن یوسف ته وکړي دغه کښتۍ له سراندیب راروانې شوې او د سمندر په ساحل کې یې سفر پیل کړ او د فارس د خلیج په لور روانې وې توپاني بادونو دغه کښتۍ د سند بندر دیب ته راوستلې په دغه بندر کې د سند راجا (داهر) سپاهیانو کښتۍ ولوټلې او په کې سپاره کسان یې بندیان کړل حجاج بن یوسف د دغو کښتیو له حال نه خبر شو، د سند راجا (داهر) ته حجاج بن یوسف لیک راوستاوه، چې هغه کښتۍ زمونږ په لور راتللې ته ډاکوانو ته سزا ورکړه او په کښتیو کې نیول شوي کسان د خپل سامان سره مونږ ته راولېږه د سند راجا (داهر) حجاج بن یوسف ته ډېر کبرجن او نا معقول ځواب ولیکه حجاج بن یوسف لومړې عبدالله اسلمي له شپږ زره لښکر سره د سند په لور راولېږه عبدالله چې سند ته راورسېده د راجا داهر له پوځیانو سره په مقابله کې شهید شو او دغه ړومبنې اسلامي لښکر خپل هدف ته ونه رسېده. حجاج بن یوسف د دوهم ځل لپاره د هندیل په نامه قوماندان مؤظف کړ هغه هم له شپږ زره لښکر سره تر دیبل پورې ورسېده خو د جګړې په حال کې د اس څخه راپریوت او شهید شو.

دغه خبره چې حجاج بن یوسف ته ورسېده، نو غمګین شو او د دریم ځل لپاره یې (۱۷) کلن زلمې د محمد بن قاسم رحمه الله په نامه چې د هغه زوم ؤ له شپږ زره شامي

لښکر سره د سند په لور واستاوه دا ځلې د محمد بن قاسم سره شامي مجاهدین څکه ولېږل شول چې حجاج بن یوسف ګومان کاوه چې عراقي او ایراني سپاهیان له سندیانو سره رابطه لري محمد بن قاسم ړومبې د مکران په ولایت چې سندیانو نیولې ؤ حمله وکړه او فتحه یې کړ او سندیان یې وځغلول بیا یې پر دبیل حمله وکړه او فتحه یې کړ د نیروان او برهمن اباد په لور ولاړل له راجا داهر سره نه یواځې ایرانیانو پناه اخستې وه بلکې زیات شمېر عرب وګړي هم چې د وخت د خلیفه او یا یې له والیانو نه باغیان شوي وو، سند ته راتښتېدلي وو او له راجا داهر سره یې پناه اخستې وه، لدې امله پر سند حمله کول هم ضروري وو، راجا داهر له مسلمانانو سره په مقابله کې ووژل شو تر دې چې ټول سند او ملتان یې هم فتحه کړل، په سند کې د فتوحاتو پر وخت د حجاج بن یوسف ټوله پاملرنه دې لورې ته اوښتې وه هغه ته هره ورځ خبرونه ورسېدل او هره ورځ به یې نوي لارښوونې رالېږلې محمد بن قاسم رح د سندیانو لپاره خپل خورا مهربان او رحم زړی فاتح او رعیت پالوونکی حاکم ثابت کړ، دغه ځوان سوبیالی چې د خپلو سوبو پر وخت کومې مهربانۍ او شفقت د غني او موږ سترګي اود ښښنې او مهربانۍ څرګندونه وکړه ساري یې د نړۍ په تاریخ کې ډېر لږ میندل کېږي د محمد بن قاسم رح د سند د سوبه به د هند په تاریخ کې لیکل کېږي، محمد بن قاسم ملتان فتحه کړی ؤ، چې د حجاج بن یوسف له مړینې نه خبر شو خو د خپلو فتوحاتو لړۍ یې جاري وساتله او تر (۹۲) هجري قمري کال پورې یې له بندر سورت نه واخله تر کشمیره پورې ټول لویدیځ هندوستان فتحه کړی ؤ.

## ب: لویدیځ (موسی بن نصیر او اندلس فتحه):

لکه څرنګه چې حجاج بن یوسف په ختیزو هیوادو کې یو ستر والي ؤ همدارنګه د لویدیځو هیوادو لوي والي موسی بن نصیر ؤ چې د حکومت مرکز یې قیروان ؤ د شمالي افریقا دغه ستر حاکم ته د اندلس ځینې وګړي راغلل او خپل پادشاه لـرزیق (لاډرک) د ظلم او تیري نه یې ورته شکایت وکـــړ او هیله یې ترې څـرګنده کړه چې تاسې پر اندلس (هسپانیې او پرتګال) حمله وکـــړئ او د مراکش په څېر هغه هـم په خپـل اســلامي حکومت کې شامل کړئ.

موسی د اندلس د خلکو پر دې غوښتنه څو ورځې غور وکړ بیا یې خپل یو غلام په څلورو کښتیو کې د څلور سوه کسانو سره د اندلس ساحل په لور ولېږه چې د هغه هېواد له حالاتو نه ځان خبر کړي، بلې خواته یې له ولید بن عبدالملک نه پر اندلس د حملې کولو اجازه وغوښتله خلیفه ورته د یرغل کولو اجازه ورکړه او له هغې خوا نه هغه څلور سوه سپاره روغ جوړ له غنیمتونو سره راستانه شول.

په (۹۱) یا (۹۲) هجري قمري کال موسی بن نصير خپل بل ازاد کړې شوې غلام طارق بن زياد ته پر اندلس د حملې کولو لپاره اوه زره کسيز لښکر ورکړ هغه مهال طارق بن زياد د موسی بن نصير له لورې د طنحه سيمې چې په مراکش کې واقع ده حاکم ؤ طارق د خپلو اوه زره ملګريو سره په کښتيو کې سپور شو او جبل الطارق پر ابناء ور پوریوت او د اندلس پر ساحل له کښتيو راکښته شول او د شمال لورې ته يې مخه وکړه د (سندونه) په سيمه کې د هسپانيې پادشاه لرزيق د سل زره لښکر سره د طارق د مقابلې لپاره راورسېده تر اتو ورځو پورې سخته جګړه روانه وه، بالاخره په اتمه ورځ (۲۸) د روژې (۹۲) هجري قمري کال د هسپـانيې بادشاه د طارق سـره په مقابله کې ووژل شـو او عيسايي لښکرو د تېښتې لار ونيـوله.

په همدې کال د سند راجا د محمد بن قاسم رح سره په مقابله کې ووژل شو د لرزيق تر مړينې وروسته طارق په اسانۍ سره د اندلس ښارونه يو په بل پسې ونيول له دغه ستري سوبې نه چې کله موسی بن نصير خبر شو نور يې طارق له نور پرمختګ نه منع کړ او تر خپل رارسېدو پورې د انتظار کولو يې ورته وويل خو طارق اود هغه جنګيالي او سوبيالي لښکر اوس منعه کېداې نشو بالاخره د روژې په میاشت (۹۳) هجري قمري کال موسی بن نصير هم اتلس زره پوځ له ځان سره واخيست او اندلس ته يې ځان ورساوه او د (پېرنې) تر غرونو پورې د اندلس ټوله جزيره نما يې ونيوله په ختيځ اندلس کې د بارسولانه سيمې له نيولو وروسته موسی بن نصير رحمه الله خليفه وليد بن عبدالملک ته وليکل چې ما د هسپـانيې ټوله خاوره نيولې ده اوس اجازه راکړئ چې زه په اروپا کې خپلو سوبو ته دوام ورکړم او د قسطنطنيې له فتحې وروسته ستاسې په خدمت کې حاضر شم.

خو وليد بن عبدالملک موسی بن نصير ته وليکل چې ته په هسپانيه کې څوک حاکم مقرر کړه او له طارق بن زياد سره د افريقا پر لار شام ته راشه که هغه مهال موسی بن نصير ته اجازه ورکړل شوې وای نو لرې نه وه چې د اروپا ټوله لويه وچې فتحه شوې وای.

# مسلمه بن عبدالملک

په (۸۷) هجري قمري کال مسلمه بن عبدالملک د روم پر ښارونو د مصيصه له لارې حمله وکړه او د لولق (اخرم بولس) او د قميقيم کلاګانې يې فتحه کړې په (۸۸) هجري قمري کال د حبرثومه او طوانه کلاګانې فتحه شوې.

په (۸۹) هجري قمري کال مسلمه بن عبدالملک او عباس بن ولید پر رومي ښارونو حمله وکړه د رومیانو یو غټ زړې قوماندان د هغوی مقابله وکړه خو د مسلمانانو پوځ په هر ځای کې هغوی ته ماتې ورکړه د سوریا (اردولیه عموریه) قرقله، قمولیه او نورې کلاګانې مسلمانانو فتحه کړې په همدې کال مسلمه بن عبدالملک د اذربایجان په لور پام واړوه او په ترکانو یې حمله وکړه زیات ښارونه او کلاګانې یې ونیولې او په همدې کال مسلمانانو د (مبورقه) جزیرې ونیولې.

په (۹۰) هجري قمري کال ولید خپل تره محمد بن مروان د وارینیا جزیرې له ولایت نه لرې کړ او د هغه پر ځای یې خپل وررور مسلمه بن عبدالملک وټاکه مسلمه بن عبدالملک د اذربایجـــان له لارې پر ترکانو جهـــاد پیل کړ او تر (باب) نومې ځای پورې سیمې یې ونیولې په همـــدې کال د نسف، کش، شومان او نور مهم ځـــایونه او کلاګانې مسلمانانو ونیولـــې.

پـه (۹۲) هجـري قمـري کـال مسـلمه بـن عبـدالملک درې کلاګـانې فتحـه کـړې او د (سرسند) سیمې وګړې یې د روم د ښارونو په لور وشړل په همدې کال په سند کې د (دیبل) ښار فتحه شو په همدې کال د کرخ، برهم، باجه، بیخما، خوارزم، سمرقند او صغر ښارونه او کلاګانې فتحه شوې.

په (۹۳) هجري قمري کال مسلمه بن عبدالملک، عباس او مروان د ولید زامنو پر رومي ښارونو حملې وکړې او د (سبیطله) حنجر، ماشه، حصین الحریر، غزاله، ملطیه او نور ځایونه مسلمانانو ونیول.

پـه (۹۵) هجـري قمـري کـال چې د هرقلـه خلکـو مسـلمانانو بـل لـورې تـه مصروف ولیدلې بغاوت یې وکړ، خو عباس بن ولید دغه ځایونه د دویم ځل لپاره ونیول او په همدې کال (موقان) او مدینة الباب سیمې ونیول شوې.

په (۹۶) کال د طوس شاوخوا سیمې مسلمانانو ونیـولې د ولید بـن عبدالملک پـه زمانه کې چې څومره جنګونه وشول او څومره ښارونه، هېوادونه او کلاګـانې ونیـول شوې، که د هغې ټول مفصل حالات ولیکل شي، نو د دغه لنډ او مختصر کتـاب پـه ټوکونو کې نـه ځایږي له دې امله د لنډیز پـه نظر کې نیولـو سره مـوږ د ولیـد د خلافت د څو تنو نومیـالیو قوماندانانو کارنـامې پـه اختصـار سره را اخیستي، چې د ولیـد بـن عبدالملک د زمـانې د حالاتو او د هغه مهال د اسلامي نړۍ د واقعاتو په مطالعه کې یو څه اساني وي، مسلمه بـن عبدالملک هم د ولیـد د خلافـت یـو سوبیـــالی قـــوماندان ګڼـل کېږي، چې د فتـــوحاتو لنـډه یـادونه یـې پـــورته وشـــوه، اوس مـوږ د پـاتې نومیـالي او سوبیالي قومـــاندان یادونه ضروري ګڼو.

## ج: د شمالي اسيا او ځيني نورو ځايونو فتحه:

قتيبه بن مسلم باهلي: د حجاج بن يوسف لخوا قتيبه بن مسلم باهلي پـه (۸۶) هجـري قمري کال کې د خراسان والي ټاکل شوې ؤ، قتيبه چې مروې ته ورسېده، اياسن بـن عبـد الله بن عمرو يې د جنګ او پوليسو قوماندان وټاکـه او عثمـان بـن عفـان سـعدي تـه يـې د مـالي چارو اداره وسپارله او پخپله لـه يـوه ځـواکمن پـوځ سـره د تالقـان پـه لـور روان شـو هلتـه د ترکانو بادشاه په صغد نومې ځای کې په خدمت کې حاضر شو او د فرمـانبردارۍ او جزيـې ورکولو وعده يې وکړه او قتيبه يې د تخارستان پر ښارونو يعنې اخرون او شومان د حملې لپاره وهڅاوه قتيبه چې اخرون او شومان ته نږدې ورسېده نو د هغو ځايونو حاکمانو يې هم اطاعت او جزيې ورکولو ته غاړه کېښوده او سوله وشوه قتيبـه خپـل ورور صـالح د فرغـانې په لور واستاوه او پخپله مروې تـه راسـتون شـو صـالح پـه فرغانـه کـې د کاشـان، درست او اخشکيت ښارونه ونيول په (۸۷) هجري قمري کـال قتيبـه پـر بخـارا يرغـل وکـړ، ترکـانو يـې مقابله وکړه خو ماتې يې وکړه او مسلمانانو ته ډېرې زياتې ولجې پـه لاس ورغلـې پـه (۸۸) هجري قمري کال د صغد او فرغـانې خلکـو بغـاوت وکـړ او د چـين د پـادشـاه د خـور زوې يـې خپل قوماندان او له دوه سوه زره لښکر سره د مقابلې لپاره پيار شول، قتيبه پرې حمله وکړه ماته يې ورکړه او مروې ته بېرته راستون شو په ۸۹ هجري قمري کـال د بخـارا، نسـف، کـش او صغد قوماندانانو په ګډه بغاوت وکړ. قتيبه دوی ته ماتې ورکړه د مسلمانانو اطاعت ته يې اړ کړل او بېرته مروې ته راستون شو په (۹۰) هجري قمري کال د بخارا پاچا (دردان) او د صـغد شـاوخوا سـيمو ترکـانو بيـا بغـاوت وکـړ خـو د بـادغيس والـي (نيـزک تورخـان) د مسلمانانو مطيع پاتې شو قتيبه نيزک تورخان له ځان سره واخيست او د بخـاره پـه لـور ولاړ ترکانو په مقابله کې ښه زړورتوب څرګند کړ رومبې مسلمانانو ستر برې تر لاسه کړ د صـغد والي تورخان د کلني جزيې ورکولو وعده وکړه او قتيبه د مروې په لور راستون شو د قتيبـه له راستنېدو سره چې نيزک تورخان تخارستان ته ورسېده باغي شو د بلخ حـاکم اسـفند، د مروې حاکم بازان، د تالقانو، فارياب، جوزجان واليانو او د کابل پادشاه سره يو اتحاد وکړ او د قتيبه عاملان يې له خپلو سيمو نه وه ويستل، قتيبـه خپلـو ورور عبـد الرحمن بـن مسـلم ته (۱۲۰۰۰) دولس زره پوځ ورکړ او ورته ويې ويل چې (بروفان) نومې ځـای تـه ورشـي د ژمـي تر اخره پورې دې هلته اوسي د ژمي له پای ته رسېدو سره قتيبـه د نيشـاپور پـه لـور پوځونـه لېږل او پر باغيانو يې له څلورو لوريو نه حملې پيل کړې، په نتيجه کې ټولـو ياغيـانو مـاتې وخوړه او پخپلـه خپلـه اندازه سزا ورکړل شوه ټولـو د اطاعـت او منـنې او جزيـې وروکولـو وعده وکړه پدې لړ کـې د سمنګانو کـلا هـم مسـلمانانو ونيولـه او پـه اسلامي حکومت کـې داخل کړای شوه نيزک تورخان ونيول شو او ووژل شو، د جوزجان د حاکم ګناه وبښل شوه او

پر خپل هېواد حاکم پرېښودل شو، لنډه دا چې د دغه هېواد قوماندانانو هر ځلې بغاوت وکړ، خو د قتیبه له لاسه یې ماتې وخوړه ان تر دې چې د هغوی د دماغونو نه د بغاوت او سر غړاوي هوا ووتله، په (۹۲) هجري قمري کال د سیستان حاکم رتبیل شاه د بغاوت اراده وکړه، قتیبه له خپل فوځ سره ځان هغه ته ور ورساوه، رتبیل شاه بښنه وغوښتله او جزیه یې اداکړه.

په (۹۳) هجري قمري کال د اسلامي لښکرو قوماندان قتیبه د خوارزم هېواد فتحه کړ او د هغه ځای له بادشاه نه یې د جزیې د وعدې په اخیستلو سره په خپل حال پرېښود په کوم وخت کې چې قتیبه خوارزم شاه فتحه کاوه، د صغد خلکو چې ولیدل چې قتیبه اوس ډېر لېرې تللي دي، د هغه عامل یې د خپلې سیمې نه وشاړه او سرغړاوې یې پیل کړ قتیبه له خوارزم نه د غنیمت مالونه مروې ته ولېږل او پخپله د خپل لښکر سره په ډېره چټکتیا سره د صغد په لور روان شو.

د قتیبه له راتګ سره د صغد خلکو د چین له خاقان نه مرسته وغوښته د چین د خاقان خپل جنګیالي قوماندانان او شهزادګان د قتیبه د مقابلې لپاره راولېږل د سمرقند په کلا کې ترکانو د مقابلې لپاره ځانونه تیار کړل، قتیبه چې راورسېده جګړه یې پیل کړه خورا زیاتې خونړۍ جګړې وشوې د چین د خاقان زوی پکې ووژل شو او سمرقند کلا مسلمانانو په زور ونیوله، په زرونو ترکان یې ووژل او ډېره درنه جزیه پرې کېښودلی شوه او هغه نوماند قوماندانان چې مسلمانانو نیولي وو، حجاج بن یوسف ته یې ورولېږل پدغه بندیانو کې یوه ښځه هم وه، چې د یزد ګرد د نسل څخه وه، دغه ښځه حجاج بن یوسف ولید بن عبدالملک ته ورولېږله ولید له هغې سره نکاح وکړه، د دغه مېرمنې نه د ولید زوی یزید بن ولید وزېږېده قتیبه چې د سمرقند له سوبې نه راستون شو، مغیره بن عبدالله یې د نیشاپور والي مقرر کړ.

په (۹۴) هجري قمري کال کې د شاش خلکو د سرغړاوي نښې څرګندې کړې قتیبه د خوارزم، بخارا کشف او نسف له خلکو فوځي مرسته وغوښتله ټولو ورته فوځونه راولېږل او شلو زرو نه زیات لښکر ترې جوړ شو، قتیبه پخپله په خجند نومې ځای کې دېره شو او پوځ یې له قوماندانانو سره د شاس په لورې ولېږه شاس فتحه شو او قتیبه بېرته مروې ته راغی مروې ته له رارسېدو سره هغه واورېده چې حجاج بن یوسف وفات شو دی قتیبه تر دې وروسته تر کاشغر پورې ټولې سیمې ونیولې او ترکستان یې په مکمل ډول د اسلامي حکومت تر واک لاندې راووست، لدې وروسته یې د هبیره بن مشمرج کلابي په مشرۍ یو څو کسیز سفارت د چین پادشاه ته واستاوه چې د اسلامي حکومت مشري او قیادت ومنه او که نه نو د چین خاوره به د اسلام د غازیانو د اسونو د سومانو لاندې راشي، د دغه

سفارت له رسېدو سره د چین پاچا ؤ وېرېده او ارزښتناک سوغاتونه او بخششونه يې راولېږل او له قتيبه نه د سولې غوښتنه وکړه.

ومن الله توفيق

# مننه او کور ودانی

د اسلام د تمدن تاريخ يوه داسې موضوع ده چې اسلامي تاريخ ليکوونکو په دې موضوع دومره کتابونه ليکلي چې لوستوونکي يې په نومونو اخيستلو هم ستړي کېږي. درنو لوستوونکو او محصلينو !

د دغه لوی سمندر څخه مې د خپلو مفرداتو مطابق يو څه راخيستي دي، دا خبره څرګنده ده چې انسان الله ﷻ ضعيف پيدا کړی دی، د سهوې او خطاء سره مخامخ دی، هيڅ يو کتاب هم د اشتباهاتو څخه خالي نه دی، بغير د کتاب الله نه چې قرآنکريم دی، په دغه کوچني غونډې کتاب کې شايد يو څه غلطي موجوده وي، نو تاسو محترمو لوستوونکو څخه هيله کوم، که له ما څخه کومه اشتباه شوي وي، هغه د اصلاح په نيت را په ګوته کړئ، تر څو په آينده کې هغه اصلاح شي.

د دغې موضوع په ليکلو کې له ما سره زما خاصو دوستانو هر يو انجينر صاحب مير آغا او قاري صاحب عبدالصمد "حنيف" او سليمان "عمر" په پوره ډول همکاري کړېده، دوی ټولو ته د الله ﷻ څخه په دنيا کې د ښه ژوند او په آخرت کې د جنت الفردوس غوښتوونکی يم، د دوی د ښه ژوند په هيله.

په درنښت

ښوويالی عبدالبصير "حکمت"
د ننګرهار د عالي دارالمعلمين
د ټولنيزو علومو د څانګې استاد

Download from:aghalibrary.cm